د Elastic cartilage د بدن په مختلفو برخو لکه External ear، Epiglottis، Larynx، External acoustic meatus او په Auditory tube کی موجود وی. د Elastic عضروف زیر رنګ لری د Hyaline عضروف په شان رګونه نه لری. د Hyaline عضروف په نسبت پکی Calcification کم کیږی یعنی دی عضروف دپاسه کلسیم کم نښلی او حجم یی ډیر نه کمیږی.دا هم د حجراتو او بین الحجروی مادی څخه جوړ شوی دی خو د جوړښت له نظره یی د Hyaline سره فرق دادی چی په دی کی د Elastic الیاف دی او په Hyaline کی د Collagen الیاف دی.


## 3: Fibrous Cartilage

دا اصلآ د Regular dense connective tissue او د Hyaline عضروف څخه جوړ شوی دی. دا په Intervertebral disk، Symphysis pubis، Tendon

(c) ketabton.com: The Digital Library



او **Ligament** کې موجود وی. د **Perichondrium** پوښ نه لری او تغذیه او ترمیم یې هم د منضم نسج څخه صورت نیسی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم فصل

## هډوکی Bones

### Bones

### هډوکی

هډوکی هم اصلآ منضم نسج دی د حجراتو او بین الحجروی مادی څخه جوړ شوی دی.

### Function of Bones د هډوکو وظایف

1: Support or structure : بدن ته یی استناد ورکړی دی او د انسان د بدن اسکلیټ جوړوی.

2: Blood Production : وینه تولیدوی.

3: Storage : ځینی مواد ذخیره کوی.

4: Tendon او Ligament ورپوری نښلی.

5: Protection : د انسان د بدن د حیاتی اعضاوو ساتنه کوی.

6: Locomotion : د بدن د حرکت سبب کرځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## Classification of Bones

## د هډوکو تصنیف بندی

هډوکی د شکل له نظره په پنځه ډوله دی.

**1: Short Bone 2: Long Bone 3: Flat Bone 4: Sesamoid Bone**

**5: Irregular Bone**




Copyright © 2007 Pearson Education, Inc., publishing as Benjamin Cummings

## Structure of long bone د اوږدو هډوکو جوړښت

یو اوږد هډوکی دری برخی لری.

### 1: Epiphysis

د هډوکو دواړو نهایتونو ته **Epiphysis** وایی یا د هډوکو ښکتنی او پورتنی برخو ته وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## 2: Diaphysis

د هډوکو جسم یا Shift ته Diaphysis وایی.

## 3: Metaphysis

د هډوکو هغه برخه ده چی د Epiphysis او Diaphysis په منځ کی موقیعت لری. وظیفه یی داده چی هډوکی تری وده کوی. د 25 کلنی څخه وروسته همدغه Metaphysis په هډوکی بدلیږی او مخکی د 25 کلنی څخه دغه Metaphysis عضروفی وی.




## According to macroscopic

د macroscopic له نظره هډوکی په دوه ډوله دی.

## 1: Spongy Bone

په دی هډوکو کی خالیګاوی یا سوری دی چی په دغی سوریو کی Bone marrow یا د هډوکو مغز پراته دی.


(c) ketabton.com: The Digital Library






## 2: Compact Bone

هغه هډوکی دی چی سوری یی په سترګو نه لیدل کیږی. **Compact bone** څکه ورته وایی چی کلک یا سخت هډوکی دی.دغه هډوکی د وینی د جوړیدو توانایی نه لری څکه **Bone Marrow** نه لری.




## According to microscopic

د **microscopic** له نظره هډوکی په دوه ډوله دی.

## 1: Primary Bone

په دی ډول هډوکو کی د حجراتو شمیر ډیر دی او بین الحجروی ماده یکی ډیره ده کله چی هډوکی مات شی د ترمیم په وخت کی لیدل کیږی.

## 2: Secondary Bone

په دی هډوکو کی د حجراتو شمیر کم دی او بین الحجروی ماده هم یکی کمه ده په روغ حالت کی ټول هډوکی **Secondary Bone** دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Structure of Bone

## د هډوکو جوړښت

هډوکی د دوه شیانو څخه جوړ شوی دی.

1: Cells 2: Inter cellular matrix

### 1: Cells

د هډوکو حجرات په څلور ډوله دی.

a: Osteoprogenetor cells b: Osteoblast c: Osteocyte

d: Osteoclast

### a: Osteoprogenetor cells

دا حجرات د Mesenchymal cell څخه منشاء اخلی. او په نهایت کی دا هډوکی د تولو څخه ابتدایه حجرات دی د وخت په تیریدو سره په Osteoblast بدلیږی.

### b: Osteoblast

دی ته د هډوکی خام حجرات هم وایی یعنی خاص حجرات او بین الحجروی ماده نه لری. دغه هډوکی دوه کارونه ترسره کوی یو بین الحجروی ماده تولیدوی او بل د Alkaline phosphatase په نوم انزایم لری ددی انزایم په مرسته په هډوکو Calcification یا کلسیم نبلوی کله چی کلسیم ونښلی هډوکی قوی کیږی.

### c: Osteocyte

هر کله چی د Osteoblast په واسطه Extracellular matrix تولید شی او حجره په خپل منځ کی پاتی شی دی ته Osteocyte وایی.

د انسان د بدن په هډوکو کی هغه برخه چی دپاسه پری د Osteocyte حجره پرته وی هغی ته Lacuna وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## d: Osteoclast

دی ته Giant cell هم وایی ځکه ورته Giant cell وایی چی د څو حجراتو د یوځای کیدو څخه جوړیږی. تقریباً 150mm طول لری او 50 دانی هستی لری.


نو په همدی خاطر ورته هم Giant cell وایی. دا حجرات یا د هډوکو په سطح کی موقیعت لری او یا به How ship lacuna چی د هډوکی دپاسه یوه برخه ده موقیعت ولری. په سایتوپلازم کی یی د Lysosome شمیره ډیره ده. سایتوپلازم یی اسیدوفیلیک دی یعنی تیزابی دی دغه Osteoclast حجرات یا د Osteoprogenetor cell د یوځای کیدو څخه جوړیږی او یا دا چی د Monocyte د یوځای کیدو څخه جوړیږی.

## د Osteoclast وظایف

1: د هډوکی اضافه پارچی تخریبوی.

2: د Matrix د تخریب سبب ګرځی(د Lysosome په واسطه Matrix تخریبوی)

کله چی Osteoclast وظیفه ختمه شی نو لومړی یا به Degeneration له منځه به لاړ شی تخریب به شی او دوه به یا کیدایی شی په خپلو ابتدایه حجراتو به تجزیه شی یعنی د Osteoclast څخه جوړشوی دی او په هغی به بدل شی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: Inter cellular matrix

### د هډوکو Matrix

د هډوکو Matrix دوه برخی لری.

Organic matrix او Non organic matrix دی.

### Organic matrix

د هډوکی عضوی Matrix تقریباً 35% دی. په دی Matrix کی د Collagen الیاف او Mucopoly saccharide شامل دی. د عضروف په نسبت پکی د Chondroitin شمیره کمه ده.

### Non organic matrix

د هډوکی غیری عضوی Matrix تقریباً 65% برخه جوړوی. چی 85% پکی Calcium phosphatase او 10% پکی Calcium carbonate او 5% پکی Magnesium او نور مواد شامل دی.


## Periosteum

د هډوکی پوښ ته وایی د هډوکی ټولی برخی پرته له مفصلی سطحو څخه د منضم نسج دیوی غشاء په واسطه چی Periosteum نومیږی پوښل شوی دی.

او دوه طبقی لری.

1: Fibrous Layer

2: Osteogenic Layer



(c) ketabton.com: The Digital Library


## 1: Fibrous layer

دا طبقه یی د Dense connective tissue او Capillaries څخه جوړه شوی ده.

## 2: Osteogenic layer

دا طبقه یی د دریو شیانو څخه جوړه ده 1: Osteoprogenetor cell 2: Loss connective tissue 3: Collagen الیاف


د Periosteum د طبقې څخه یو قسم الیاف راوتلی دی چې Periosteum او هډوکی سره وصلوی چې دی ته Sharpy fibers وایی(دا هغه الیاف دی چې د هډوکو پوښ یی د هډوکو سره وصل کړی دی)

د Periosteum وظیفه داده چې هډوکی یی پوښلی دی او هډوکی یی د بیرونی محیط څخه محافظت کړی دی.

## Endosteum

هغه پرده ده چې Spongy bone داخلی سوری او د هډوکو کانالونه یی پوښلی دی. دوه وظیفې لری

1: وینه جوړوی. 2: د هډوکو په جوړولو کی رول لری.



(c) ketabton.com: The Digital Library




## هډوکو ته د وینی رسیدل یا د هډوکو تغذیه

د کوچنیو Spongy bone د هډوکو تغذیه د Capillaries په واسطه صورت نیسی. او په غټو هډوکو کی یو سیتسم موجود دی چی Haversian system په نوم یادیږی په دی سیستم کی لاندی برخی شاملی دی.

### 1: Haversian canal

اساسی کانال: دغه کانال د یوبل کانال سره چی Volkmann canal نومیږی وصلیږی. وینه اول Volkmann canal ته راځی او ددی لاری بیا Haversian canal ته داخلیږی. د Haversian canal ګردچاپیره هډوکینی صفحی دی چی هغی ته Concentric lamella وایی یعنی دا هغه هډوکینی صفحی دی چی Haversian canal یی پوښلی دی. د Haversian canal څخه وینه بیا Canaliculi ته ځی او ددی څخه بیا Lacuna ته ځی او په Lacuna کی Osteocyte موجود دی او هماغه Osteocyte پری تغذیه کوی. Interstitial lamella دا هم هډوکینی صفحی دی چی Canaliculi یی پوښلی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Ossification

## د هډوکو جوړیدل

د هډوکو جوړښت د Intrauterine life د دوهمی هفتی څخه تر Late adultescence تقریباَ 25 کلنی عمر پوری صورت نیسی.

دغه هډوکی په دوه طریقو په انسانانو کی جوړیږی.

### 1: Intra membranous ossification

په دی طریقه کی د Clavicle، Mandibula، Skull او د مخ هډوکی جوړیږی. عموماَ په دی طریقه کی Flat bones یا هموار هډوکی جوړیږی. په داخل رحمی ژوند کی د Mesoderm د طبقی څخه Mesenchymal cell منشاء اخلی د همدی Mesenchymal cell سره د Collagen الیاف او Capillary یوځای کیږی چی کله یوځای شول په نتیجه کی یی یو غشاء جوړیږی. ددی غشاء څخه Osteoprogenetor cell منشاء اخلی دغه Osteoprogenetor cell په Osteoblast بدلیږی چی کله بدل شول نو Osteoblast بیا Osteoid جوړوی بیا Lacuna جوړوی او بیا وروپسی Canaliculi جوړوی.

Osteoid معنا Non calcified matrix ده هغه Matrix دی چی کلسیم پکی نشته خو د وخت په تیریدو سره دهمدغه Osteoid دپاسه کلسیم نښلی په یو پوښ Matrix بدلیږی بیا په Osteocyte بدلیږی کله چی په Osteocyte بدل شو نو هډوکی جوړیږی. کوم هډوکی چی جوړشوی وی ددی هډوکی مرکز به Spongy وی او محیط به یی Compact وی.

نوټ: هموار هډوکی د اوله څخه هډوکی وی او اوږده هډوکی اوله کی عضروف وی وروسته په هډوکی بدلیږی.

### 2: Intra cartilaginous ossification

عموماَ اوږده هډوکی په دی طریقه کی جوړیږی. په دی طریقه کی اول عضروف موجود وی، که عضروف نه وی هډوکی نه جوړیږی. دوهم پکی د عضروف په داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی Bone color جوړیږی(د عضروف د Perichondrium د داخلی طبقی څخه Osteoblast منشاء اخلی چی هغی ته Bone color وایی)

دریم پکی عضروف ته د وینی جریان کمیږی کله چی د وینی جریان کم شی نو د Chondrocyte حجری له منځه ځی یا عضروف تخریبیږی. چی کله عضروف تخریب شی نو په سوریو یا نقطو کی کلسیم نښلی. څلورم پکی په کوم عضروف کی چی سوری پاتی دی ددی سوریو څخه منضم نسج او Capillary داخل د عضروف ته ننوځی چی کله ننوځی د عضروف په منځ کی یوه خالیګا پیداکوی چی د Primary marrow space په نوم یادیږی یعنی د Bone marrow لپاره ابتدایه خالیګاه جوړوی. د Diaphysis برخه یی په هډوکی بدلیږی چی دی مرحلی ته Primary ossification وایی. او کله چی Primary ossification وشی وریسی د Epiphysis برخه د مخکی پراونو په ترسره کولو سره په هډوکی بدلیږی چی کله بدله شی دی ته Secondary ossification وایی.

## Regeneration of Bone

## د هډوکی دوباره جوړیدل

کله چی هډوکی مات شی هغی ته Fracture یا کسر وایی. چی کله کسر واقع شی په هماغه ساحه کی Bleeding یا خونریزی واقع کیږی او کله چی خونریزی واقع شی د هډوکی د Periosteum د طبقی په واسطه Fibroblast او Capillary جوړیږی. کله چی دا جوړ شول دی ته Procalus وایی. دغه Procalus د Dense connective tissue په واسطه احاطه کیږی. او همدغه برخه یی په عضروف یا Cartilage بدلیږی چی دی ته Temporary callus وایی. Temporary callus د وخت په تیریدو سره په هډوکی بدلیږی.

په هډوکو کی د Osteoclast حجرات شامل دی که چیری هډوکی د خپلی برخی څخه ووځی نو دا حجرات یی تراشی او بنویه هډوکی جوړوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Histophysiology of Bone

د انسان په بدن کی دوه شیان دی چی د هډوکو په جوړښت باندی تاثیر کوی.

1: Vitamin: چی د ویټامینونو له جملی څخه یی Vitamin D، Vitamin C او Vitamin A دی. Vitamin D وظیفه په بدن کی داده چی په وینه کی د کلسیم او فاسفیټ اندازه نارمل ساتی. کله چی Vitamin D سویه کمه شی نو ورسره کلسیم او فاسفیټ غیری نورمال کیږی او د هډوکو دردونه رامنځته کیږی. هرکله چی ماشومانو کی د Vitamin D سویه کمه شی د Rickets سبب ګرځی. او کله چی په غټو کسانو کی د Vitamin D سویه کمه شی د Osteomalacia سبب ګرځی.

Vitamin C د هډوکو Matrix جوړوی خصوصاً د Matrix د Collagen الیاف جوړوی. کله چی Vitamin C د انسان په بدن کی کم شی یوه ناروغی چی Scurvy نومیږی رامنځته کیږی.

Vitamin A دا د Osteoblast فعالیتونه تنظیموی او کله چی Vitamin A نه وی هډوکی سم نه جوړیږی.

2: Hormones: د هورمونونو له جملی څخه Calcitonin، Parathyroid Hormone (Parath)، Sex Hormone او Growth Hormone دی.

د Calcitonin او Parathyroid هورمونونو وظیفه داده چی د انسان په وینه کی د Vitamin D سویه تنظیموی. Calcitonin د انسان په بدن کی د کلسیم سویه لوړوی. او Parathyroid د کلسیم سویه کموی او ورسره د Osteoclast فعالیت هم زیاتوی. یعنی د هډوکی Matrix تخریبیږی.

Sex Hormone هم د هډوکو د ودی سبب ګرځی.

Growth Hormone د نخامیه غدی څخه افرازیږی. که Growth Hormone د نارمل حالت څخه زیات شی هغی ته Gigantism وایی او که Growth Hormone د نارمل حالت څخه کم شی هغی ته Dwarfism وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مفاصل Joints

د دوه یا څو هډوکو او یاهم د عضروفونو یوځای کیدلو ته مفصلونه وایی.

مفصلونه په دوه ډوله دی.

## 1: Temporary Joints

موقتی مفاصل: کله چی ماشوم د مور په رحم کی وی د اوږدو هډوکو په Epyphase او Dyaphase په منځ کی موقتی یا Temporary Joints موجود وی.

## 2: Permanent Joints


دایمی مفاصل: داپه دری ډوله دی.

### a: Fibrous Joint

دا هغه مفصلونه دی چی ددی څخه یو پوښ تاوشوی دی یا د یو پوښ په واسطه پوښل شوی دی. Fibrous Joints هم په دری ډوله دی.

#### 1: Synostosis

هغه مفاصل دی چی مطلقآ کلک نښتی دی د بیلیدو امکان یی نشته. مثال یی په بدن کی Suture دی چی دا په سر کی وی.





(a) Suture

#### 2: Gomophosis

هغه مفاصل دی چی د یوی غشاء په واسطه یی غاښ په وری کی کلک کړی دی. څومره چی غاښونه وی هغومره یی شمیره هم ده.


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) Gomphosis

## 3: Syndesomsis

هغه مفاصل دی چې دیوی غشاء په واسطه پوښل شوی دی خو محدود حرکت ترسره کولای شی. مثال یی د Radius او Ulna په منځ کی Joint دی چې هغې ته Radioulnar joint وایې. او بل مثال یی Tibiofibular Joint دی.




(b) Syndesmosis

## b: Cartiligenous Joint

هغه مفاصل دی چې په منځ کی یی عضروف یا Cartilage دی بل نوم یی Synarthrosis دی. مثال یی Vertebral column یا Symphosis pubis دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## c: Synovial Joint

دی ته متحرک مفاصل هم وایی. یعنی په کافی اندازه حرکت لری. داهم په خپل وار سره څلور برخی لری.

### 1: Articular Cartilage

مفصلی عضروفونه د Hyaline عضروف څخه جوړ شوی دی. Vessle، Nerves او Perichondrium نه لری.

### 2: Capsule

په دی برخه کی Dense connective tissue او Ligament وی د Capsule دپاسه وړه کڅوړه مانند ساختمانونه لیدل کیږی چی هغی ته Bursea وایی.

### 3: Synovial membrane


دا برخه یی د دریو شیانو څخه جوړه شوی ده د Capillary، Fat cell او Fibroblast څخه چی Fibroblast یی په دوه ډوله دی یو یی F cell او بل یی M cell دی. د M cell شمیره پکی ډیره ده او وظیفه یی د مکروفاژ سره مشابه ده یعنی Phagocytosis کوی. M cell د انتاناتو مخنیوی کوی. او د F cell شمیره پکی کمه ده. Synovial Membrane کی Synovial villi موجودی دی. Synovial villi د مفصلی غشاء په داخلی برخه کی موجود وی. وظیفه یی مفصلی مایع جذبوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## 4: Synovial Fluid

د مفصلونو په داخل کی یوه مایع موجوده ده چی هغی ته Synovial fluid وایی. د Synovial membrane په واسطه تولیدیږی او په ډیر شمیر کی Hyaluronic acid په کی موجود دی. دغه Hyaluronic acid د Synovial cell په واسطه تولیدیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library




# اتم فصل


## وينه يا Bllod

### Blood

### وينه

وينه يومتحرک منضم نسج دی چی د دوه برخو حجراتو او بين الحجروی مادی څخه جوړ شوی دی. په همدی خاطر ورته منضم نسج وايی چی دهغی سره مشابه جوړښت لری. منضم نسج هم د حجراتو او بين الحجروی مادی څخه جوړ وو.

د وينی 55% برخه Plasma جوړوی او 45% برخه يی حجرات جوړوی.وينه د انسان د بدن د تول وزن 8% برخه جوړوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د وینی حجرات په دری ډوله دی.

## 1: RBC (Erythrocytes)

که د بهر څخه RBC ته وګورو نو دایروی ښکاری، خو د هندسی له لحاظه یی شکل Biconcave یا مقعرالطرفین دی، یعنی اطراف یی ډبل او منځ یی نری دی.

قطر یی د 7-8m پوری دی. په منځ کی د RBC ضخامت 0,8m دی او په څنډو کی یی ضخامت د 1,9-2,5m پوری دی. کله چی د RBC جسامت د 8m څخه زیات شی هغی ته Macrocyte وایی. او که د 6m څخه یی جسامت کم شی هغی ته Microcyte وایی. هسته یا Nucleus نه لری. خو یواځی یو فیصد RBC شته چی هسته لری هغه د Reticulocyte په نوم یادیږی. راګانیلونه او DNA هم نه لری. د Flexibility توانایی لری یعنی خپل شکل ته تغیر ورکولی شی. د RBC نارمل اندازه په نارینه وو کی د 5-5,5m پوری او په ښځو کی د 4-4,5m پوری ده. د RBC ټول Total surface aria د $3500mm^2$ پوری ده. یعنی که یوه یوه RBC راواخلو او هغه په ترتیب سره واچوو نو $3500mm^2$ سطحه به ونیسی. هر کله چی د RBC په شکل کی تغیر رامنځته شی هغی ته Poiklocytosis وایی. لکه Sickle cell anemia. او کله چی د RBC جسامت کی تغیر رامنځته شی هغی ته Anisocytosis وایی.

RBC یوه غشاء لری او دغه غشاء د یو Lipoprotein څخه جوړه شوی ده. د RBC په داخل کی یو مغلق پروټین شامل دی چی د Hemoglobin په نوم یادیږی.

## Roulex Formation

کله چی RBC یو دبل دپاسه ونبلی هغی ته Roulex Formation وایی.

کله چی د انسان د بدن پلازما Hypertonic یا غلیظه شی نو د RBC د داخل څخه مایعات پلازما ته ځی RBC غونجیږی چی دی حالت ته Plasmolysis وایی.

او کله چی پلازما رقیقه یا Hypotonic شی نو مایعات داخل د RBC ته ځی په نتیجه کی RBC پرسیږی چی دی حالت ته Blood shadows یا Blood ghosts

(c) ketabton.com: The Digital Library




وایی. هر کله چی د RBC څخه Hemoglobin بهر شی دی ته Hemolysis وایی. او که چیری د RBC په داخل کی د Hemoglobin اندازه نارمل وی دی ته Normochromic RBC وایی. او که چیرته په RBC کی د Hemoglobin نارمل اندازه کمه شی هغی ته Hypochromic RBC وایی.

RBC چی کله هم د خپل نارمل حالت څخه کم شی هغی ته Anemia وایی.

او کله چی د نارمل حالت څخه زیات شی هغی ته Polycythemia وایی.

RBC رنګ د Hemoglobin پوری اړه لری که نارمل وی رنګ به یی تیز وی او که غیری نارمل وی رنګ به یی کمزوری وی.




## 2: WBC (Leukocytes)

WBC هسته لری. د انسان د وینی هغه حجرات دی چی جسامت یی د ټولو حجراتو په نسبت زیات دی او شمیر یی د ټولو څخه کم دی. نارمل شمیره یی د 5000-9000/mm$^3$ دی. او په ماشومانو کی تر 12000mm$^3$ پوری رسیږی. ماشومان د ډیرو انتاناتو سره مخ کیږی په نتیجه کی زیات WBC جوړیدل تنبه کیږی ځکه یی په ماشومانو کی شمیره ډیره ده. که د WBC اندازه د نارمل څخه زیات شی هغی ته Leukocytosis وایی. او که اندازه یی د نارمل څخه کمه شی هغی ته Leukopenia وایی.

WBC یا Leukocyte په دوه ډوله دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## a: Granulocyte

دوه ډوله دانې لرې یوته یې Primary granule وایی. او بل ته یې Specific granule دی. Granulocyte په دری ډوله دی.

### 1: Nutrophil

شمیر یې په WBC کې د ټولو په نسبت زیات دی د ټول WBC د 65-70% برخه جوړوی. په وینه کې یې جسامت د 7-9m پوری دی. او په وچه وینه یا Blood smear کې یې جسامت د 10-12m پوری دی. هسته یې تقریباً 3 یا 4 لوبونه لری. په همدی خاطر دی ته Polymorph nuclear neutrophil هم وایی.

Nutrophil ته Microphage هم وایی. Microphage ځکه ورته وایی چې واړه شیان بلع کوی. Nutrophil دری ډوله ګرانیلونه لری.

### Primary Granules

د لایزوزوم په شان دی. او مواد جذبوی یا هضموی.

### Secondary Granules

ددی شمیر نسبتآ ډیر دی. وظیفه د WBC یا Granulocyte نوعیت پری معلومیږی.

### Tertiary Granules

دا دانې یې دوه ډوله انزایمونه لری. یوته یې Phosphatase وایی او بل ته یې Metaloprotenase وایی. ددی دواړو انزایمونو په واسطه په مختلفو کیمیاوی تعاملاتو کې برخه اخلی.

### 2: Eosinophil (Acidophilic)

دا هم د Granulocyte د جملې څخه دی. Nutrophil سره یې تقریبا جسامت یو شان دی هسته یې دوه لوبه Bilobed nucleus ده. Eosinophil اسیدی رنګ اخلی. د Peroxidase او ځینی نورو انزایمونو درلودونکی دی. همدارنګه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیره اندازه Histamin لری. همدا علت یی دی چی په الرجیک حالاتو کی په وینه د Eosinophil اندازه زیاتیږی د ټول WBC د 2-4% برخه جوړوی.

## 3: Basophil

دا هم د Granulocyte د جملې څخه دی تقریبآ د ټول WBC د 0,5-1% برخه جوړوی. ددی جسامت هم تقریبآ د Nutrophil سره برابر دی. د Histamin، Heparin او Serotonin درلودونکی دی هسته یی غیری منظمه او Bilobed ده. Basophil قلوی رنګ اخلی.

## b: Agranulocyte

دا اختصاصی دانی نه لری دا هم په دوه ډوله دی.

## Lymphocyte

د ټول WBC 30% برخه جوړوی. د انسان د بدن د Immune system ځانګړی حجرات دی یعنی په دفاعی سیستم کی رول لری. جسامت یی د 6-8m پوری دی. هسته یی کروی او غټه ده سایتوپلازم یی Basophilic دی.

Lympohcyte په دری ډوله دی.

### 1: B- lymphocyte

انتی باډی Anti-body تولیدوی. یا د انسان په بدن کی خلطی معافیت Humural immunity رامنځته کوی.

### 2: T-lymphcyte

د انسان په بدن کی حجروی معافیت Cellular immunity جوړوی.


### 3: N-K cell (Nutrual killer cell)

دا وژونکی حجرات دی اجنبی شیان وژنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Monocyte

دا حجرات د Mononuclear Phagosystic system ابتدایه حجرات دی جسامت یی د ټولو WBC څخه زیات دی جسامت یی تقریبآ 18m دی. د وینی په دوران کی تقریبا د دریو ورځو لپاره پاتی کیږی او وروسته انساجو ته ځی او په اساجو کی په Macrophage بدلیږی.




## 3: Platlets (Thrombocyte)

Platlets د Megakayocyte په نوم د یوی حجری Cytoplasmic پارچی دی. تقریبآ جسامت یی د 2-4m پوری دی،هسته نه لری، د یوی غشاء درلودونکی دی. دوه برخی لری.

Periphral zone (Hayalomere) او Central zone (Granulomere)

Platlets یوه ماده تولیدوی چی Thromboplastin نومیږی، چی دا ماده دوه کارونه ترسره کوی یو Fibronogen په Fibrin بدلوی او Prothrombin په Thrombin بدلوی. او په دی طریقه د وینی د علقه کیدو یا Coagulation سبب کیږی. که چیری د Platlets اندازه د نارمل حالت څخه کمه شی هغی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



Thrombcytopenia وایی. او کله چې د Platlets اندازه د نارمل څخه زیاته شی هغی ته Thrombocytosis وایی.

د Pltlets نارمل اندازه د $200000\text{-}300000/mm^3$ پوری ده.

## Blood Plasma

## د وینی پلازما

د وینی پلازما د وینی 55% برخه جوړوی. او د دوه برخو څخه جوړه شوی ده. Water یا اوبه او Formad elements چې Formad elements یی په دوه ډوله دی، Organic او Non organic

په پلازما کی دری شیان پراته دی اول پکی حجرات دی بیا پکی دووینی جذب شوی مواد،اضافی انساج،هورمونونه او Anti Body هم پکی شتون لری. او ددی څخه علاوه د پلازما په داخل کی کاربوهایدریتونه، پروتینونه، غازات،اضافی شحمیات او Chylomicron هم پکی شته. (Chylomicron د شحمیاتو یو ډول دی)

کله چې د Plasma څخه Protein ویستل شی هغی ته Serum وایی.

## د وینی د حجراتو عمر

### د RBC عمر

د RBC عمر 120 ورځې دی کله چې د RBC عمر 120 ورځو ته ورسیږی نو NADP انزایم له منځه ځی، چې کله دا انزایم له منځه لاړ شی نو لومړی د ایونونو تبادله خرابیږی او دوهم دوه ویلانسه اوسپنه په دری ویلانسه بدلیږی. چی کله دا دوه کارونه ترسره شی نو RBC خپل شکل ته تغیر نه شی ورکولای. نو RBC راځی Spean ته (Splean ته څکه راځی چې په همدی باندی یی لار ده) او د Splean Redpulp ته راځی. د Splean په Redpulp کی نښلی څکه د Redpulp قطر 2-3m پوری دی او د RBC قطر د 7-8m پوری دی نو کله چې ونښلی د Macrophage په واسطه په دوه برخو ویشل کیږی.

یوته یی Globin وایی او بل ته یی Heme وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Globin یی پلازما ته ځی. او Heme یی په اوسپنه او Protopophyrine IX باندی بدلیږی، له دی جملی څخه یی اوسپنه د Ferritin په شکل ذخیره کیږی.

او Protoporphyrine IX یی په Bilvedin بدلیږی او دبیا په Bilurobin بدلیږی، او Bilurobin یی د Stool په واسطه له منځه ځی.

## د WBC عمر

د wbc ثابت عمر معلوم نه دی. ځکه wbc کله انساجو کی او کله حجراتو کی وی. خو په اوسط ډول د وینی په دوران کی 24 ساعته پوری ژوندی وی.

## د Platlets عمر

د Platlets عمر تقریبا د 4-5 ورځو پوری دی.

نوټ: کومه وینه چی د انسان د بدن څخه ضایع شی په 45 ورځو کی بیرته جوړیږی.

# Hemopiosis (Hematopoisis)

## د وینی جوړیدل

دا هغه پروسه ده چی وینه پکی جوړیږی.

وینه چی د څه شی څخه جوړیږی په دی اړه دری نظریی شاملی دی.

1: Monophyletic

ټوله وینه د یوی حجری څخه جوړیږی چی دی حجری ته Pluripotential hematopoitic stem cell وایی.

2: Diphyletic

د انسان د بدن د وینی ټول حجرات د دوه حجراتو څخه جوړشوی دی. د یوی حجری څخه Erythrocyte او Granulocyte حوړیږی. او د بلی حجری څخه Lymphocyte او Monocyte جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### Polyphyletic :3

د انسان دبدن د وینی حجرات د زیاتو حجراتو څخه جوړیږی. WBC د ځانګړو حجراتو څخه، RBC د ځانګړو حجراتو څخه او Platlets هم د ځانګړو حجراتو څخه جوړیږی. فعلآ د Monophyletic نظریی طرفداران زیات دی او دوینو د ټولو حجراتو منشاء یو ابتدایی حجره Stem cell په نوم قبلوی.

## د وینی جوړیدل

د وینی جوړیدل په دوه مرحلو کی صورت نیسی.

### 1: Intrautrine life

په داخل رحمی ژوند کی وینه په دریو ځایونو کی جوړیږی.

a: Yolk salk b: Splean, liver c: Bone marrow

تقریبآ د داخل رحمی ژوند د دریمی هفتی څخه تر شپږمی هفتی پوری وینه په Yolk salk کی جوړیږی، د شپږو هفتو څخه وروسته د تولد څخه یوه میاشتی مخکی وینه په Liver او Splean کی جوړیږی او د تولد څخه یوه میاشت وړاندی تر مرګه پوری وینه په Bone marrow کی جوړیږی.

نوټ: د داخل رحمی ژوند کی د دریمی هفتی څخه مخکی په دوهمه هفته کی د انسان زړه جوړیږی، وروسته بیا د وینی جوړیدل پیلیږی.

### 2: Extrautrine life

په خارج رحمی ژوند کی وینه په دوه ځایونو کی جوړیږی.

a: Lymphoid tissue b: Myloid tissue

د Myloid tissue څخه RBC، Granulocyte او Platlets جوړیږی. او د Lymphid tissue څخه Lymphcyte او Monocyte جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Bone Marrow

## د هډوکو مغز

د انسان د ټول وزن 4,5% برخه تشکیلوی. او په دوه ډوله دی.

1: Red Bone marrow: دی ته Red bone marrow ځکه وایی چی RBC جوړوی سور رنګ لری او فعاله وی.

2:Yeloow Bone marrow: په دی کی شحمی منبع موجوده وی په همدی خاطر زیړ دی او دا غیری فعال دی.

Bone marrow د دری شیانو څخه جوړه ده.

a: Blood capillary

د وینی واړه رګونه دی د انسان د بدن مختلفو برخو ته غزیدلی دی. د انسان د بدن په Bone marrow کی Capillary موجود دی چی هغی ته Sinusoid وایی. (Sinusoid هغه Capillary ده چی غټ سوری ولری)

b: Stroma

دا برخه یی د دریو شیانو څخه جوړه شوی ده.

1: Macrophage 2: Fat cell 3: Reticular cell

c: Free cell

ازاد حجرات هم په Bone marrow کی شامل دی خصوصآ RBC او WBC.

## Stem cell

یوه امیبی حجره ده یعنی امیب ته ورته شکل لری. سایتوپلازم یی Basophilic دی د 10-14mm پوری جسامت لری ددی څخه چی کومی حجری بیلیږی هغه کوچنی وی خو د وخت په تیریدو سره غټیږی. د Stem cell څخه د وینی ټول حجرات WBC، RBC او Platelets جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Erythrocytopoisis

## د RBC جوړیدل

د انسان په بدن کی په یوه ورځ کی 100 بیلیونه د وینی سره کرویات یا RBC جوړیږی. د Stem cell ځخه یوه حجره منشاء اخلی چی هغی ته Pro erythroblast یا Pronormoblast وایی (دغه Pronormoblast د 15- 20M پوری طول لری، هسته یی غټه ده او د هیموګلوبین اندازه پکی کمه ده)د پوری طول لری، هسته یی غټه ده او د هیموګلوبین اندازه پکی کمه ده)

دغه Pronormoblast په Basophilic erythroblast بدلیږی. ( Basophilic erythroblast د 10M پوری جسامت لری، د Hetrochromatin درلودونکی دی، په ډیر شمیر د Ribosome دانی لری ځکه یی سایتوپلازم هم Basophilic دی)

Basophilic erythroblast په Poly Chromatic erythroblast بدلیږی.

(په Poly chromatic erythroblast کی د Hemoglobon اندازه د Basophilic erythroblast په نسبت زیاته ده او جسامت یی د Basophilic erythroblast ځخه کم دی)

همدغه Poly chromatic erythroblast په Orthochromatic erythroblast یا Normoblast بدلیږی.(په Orthochromatic erythroblast کی د هستی یوه برخه له منځه ځی ځکه چی ددی په مقابل کی Hemoglobin ننوځی)

Orthochromatic erythroblast په Reticulocyte بدلیږی.

(Reticulocyte چی کله منځ ته راشی Pre mature یا نیمه پوخ RBC وی، دټولی وینی 1% برخه تشکیلوی، مکمله هسته پکی نشته خو د هستی لړی توتی پکی موجودی دی)

او بلاخره Reticulocyte بیا په Mature RBC یا پوخ شوی RBC بدلیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Stem cell یوه دانه ده او ددی څخه دری ډوله حجرات جوړیږی دا ځکه چی د انسان په بدن کی دوه ډوله فکتورونه وجود لری

**1: Growth inducer**

هغه فکتور دی چی د Stem cell د غټوالی سبب ګرځی.

**2: Diffrential inducer**

هغه فکتور دی چی د Stem cell د ویش یا تقسیم سبب ګرځی.

دری فکتورونه د انسان په بدن کی د RBC تولید کنټرولوی:

**1: Hypoxia 2: Bleeding(Hemorhage) 3: Distruction of RBC**

هغه فکتورونه چی د RBC په جوړیدو تاثیر لری:

**1: Fe**

اوسپنه چی نه وی د RBC تولید کمیږی او کله چی RBC جوړه نه شوه نو Anemia به رامنځته شی.

**2: Globin**

کله چی Globin نه وی بیا به Hemoglobin کمیږی او کله چی HB کم شو نو RBC به نه جوړیږی او کله چی RBC جوړه نه شوه نو بیا به هم Anemia رامنځنته کیږی.

**3: Vitamin C**

Vitamin c دری ویلانسه اوسپنه په دوه ویلانسه اوسپنه بدلوی. دوه ویلانسه اوسپنه په HB کی موجوده ده او دا چی نه وی نو HB نه جوړیږی.

**4: Vitamin B12**

د Vitamin B12 یا Cyancobalamin په کموالی سره د RNA سویه کمیږی کله چی د RNA سویه کمه شوه نو حجره غټیږی، Vitamin B12 د DNA او RNA جوړیدل کنټرولوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 5: Vitamin B9

Vitamin B9 یا Folic Acid د RNA جوړیدل کنټرولوی کله چې Folic acid نه وی د RNA سویه زیاتیږی او بیا حجره غټیږی او د Megaloblastic anemia سبب ګرځی.

### 6: Intrinsic factor

Intrinsic factor د Vitamin B12 د جذب سبب کیږی.

### 7: Hypoxia

Hypoxia یا د اکسیجن کموالی د واقع کیدو وروسته دغه Hypoxia د پښتورګو څخه Erythroblast افرازوی کله چې دا افراز شو د هډوکو مغز ته ځی او هلته د RBC تولید نتبه کیږی.

نوټ: په محیک کی د اکسیجن کموالی ته Hypoxia وایی او په بدن یا انساجو کی د اکیسجن کموالی ته Anoxia وایی.

## Granulocytopoisis

د Stem cell څخه بله حجره چې Myeloblast نومیږی منشاء اخلی.

( Myeloblast د 10-15M پوری جسامت لری، سایتوپلازم یی Basophilic دی)

دغه Myeloblast په دری حجرو ویشل کیږی:

اوله یی Promyelocyte Nutrophill ، دوهمه یی Promyelocyt Eosinophill او دریمه یی Promyelocyte Basophill دی. چې دا هره حجره بیا په بله حجره بدلیږی، Promyelocyte Nutrophill په Myelocyte nutrophill بدلیږی، Promyelocyte Eosinophill په Myelocyte Eosinophill بدلیږی او Promyelocyte Basophill یی په Myelocyte Basophill بدلیږی. په همدی مرحله کی په همدی حجراتو کی Specific granules پیداکیږی، کله چې پکی Specific granules پیدا شول نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



Myelocyte nutorphill په Nutrophill بدلیږی، Myelocyte Eosinophill په Eosinophill بدلیږی او Myelocyte Basophill په Basophill بدلیږی.

## Agranulocytopoisis

په دی کی دوه ډوله حجرات شامل دی. Monocyte او Lymphocyte.

### د Monocyte جوړیدل:

د Stem cell څخه Monoblast منشاء اخلی، چی دا په Promonocyte بدلیږی او Promonocyte په Monocyte بدلیږی.

### د Lymphocyte جوړیدل:

Lymphcyte حجرات په دوه ځایونو کی جوړیږی.

هم د هډوکو په مغز کی او هم په لمفاوی ارګانونو(Lymph nodes، Thymus او Splean) کی جوړیږی.

اول ځل د Lymphoblast حجره منشاء اخلی او په Prolymphocyte بدلیږی، او ددی څخه بیا Lymphocyte لاسته راځی.


### د Platlets جوړیدل:

د Stem cell څخه Megakaryoblast منشاء اخلی او په Megakaryocyte بدلیږی، چی د Megakaryocyte څخه بیا Platlets جوړیږی.


نوټ: کله چی د هډوکی مغز فلج شی د Extramedullary Hemopoisis د عملیی په واسطه په Liver او Splean کی وینه جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم فصل


# Mucsle Tissue عضلی نسج

## Muscle

## عضلات

د عضلی الیافو مجموعی ته عضله وایی. د عضلاتو ساختمانی او وظیفوی واحد **Muscle fiber** دی. د **Muscle Fiber** طول په انسانانو کی فرق کوی خو په اوسط ډول د **1-40** ملی متره پوری طول لری او د **10-100** مایکرون پوری قطر لری.

### عضلات په دری ډوله دی:



(c) ketabton.com: The Digital Library



### 1: Skeletal Muscle (Voluntary muscle)

هغه عضلات دی که د مایکروسکوپ لاندی یی ګوری نو خطونه لری او د انسانانو په واک کی دی.

### 2: Smooth Muscle (Unvoluntary muscle)

ښویه عضلات : هغه عضلات دی چی خطونه هم نه لری او د انسانانو په واک کی نه دی.

### 3: Cardiac Muscle

د زړه عضلات: هغه عضلات دی چی خطونه لری خو د انسانانو په واک کی نه دی.

## عضلی لیف Muscle Fiber

عضلی لیف له دریو برخو څخه جوړشوی دی.

### 1: Nucleus

عضلی لیف اصلآ Syncitum دی یعنی څو هستی لری. یو عضلی لیف په یو ملی متر کی 35 هستی لری په عضلی لیف کی هستی محیطی یا Peripharlly موقیعت لری. د عضلی لیف د هستو شکل بیضوی Ovual دی.

### 2: Sarcolemma

د حجروی غشاء او قاعدوی غشاء مجموعی ته Sarcolemma وایی.

Sarcolemma په خپل داخل کی وتلی او ننوتلی برخی لری، دغه وتلی برخی د بهرنی محیط سره په تماس کی دی او په داخل کی د Endoplasmic Reticulum سره په تماس کی دی همدغی وتلی او ننوتلی برخو ته Transver Tubule یا په لنډه معنا Sarcolemma په داخل کی Transver tubule موجود دی چی د بیرونی محیط سره هم تماس لری او داخلی محیط کی د ER سره تماس لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library




### 3: Sarcoplasm

د عمومی حجری د سایتوپلازم په شان جوړښت لری، Sarcoplasm اصلاً Smooth endoplasmic reticulum دی. او دا لاندی راګانیلونه پکی پراته دی.

a: Sacroplasmic Retiulum b: Mithochondria c: Golgi Body

d: Lysosome e: Ribosome and RER f: Vacules

او همدارنګه Myofibril هم پکی شتون لری.




### Myofibril

د یومایکرون پوری جسامت لری او د Myofilaments څخه جوړشوی دی. دغه Myofilament په دوه ډوله دی یا به نری وی او یا به ډبل وی.

که چیری دغه Myofilament نری وو نوهغی ته Actin وایی او کوم Myofilament چی ډبل وو هغی ته Myosin وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Actin او Myosin د خطونو په واسطه سره وصل دی چی هغی ته Band وایی.

Bands په دوه ډوله دی:

1: هغه Bands چی د Light microscope لاندی لیدل کیږی، چی دا په دری ډوله دی:

a: A band (Anisotropic band)

Anisotropic band معنا دا چی رڼا وربانډی ولګیږی انعکاس نه کوی.

b: I band (Isotropic Band)

Isotropic band معنا دا چی رڼا وربانډی ولګیږی انعکاس کوی.

c: Z line

د I band په منځ کی یو بله توره لیکه ده چی هغی ته Z line وایی.

2: هغه Bands چی د Elictron microscop لاندی لیدل کیږی،چی دا بیا په دوه ډوله دی:

a: H Band

دغه Band د A Band په منځ کی پروت دی.

b: M Band

دغه Band د H Band په منځ کی پروت دی.

## Sarcomer

هغه فاصله چی د دوه Bands په منځ کی وی هغی ته Sarcomer وایی.
Sarcomer ته Contraction unit هم وایی، یعنی همدغه برخه تقلص کوی.


کله چی تقلص رامنځته کیږی نو A Band ثابت پاتی کیږی او I band کی تغیر رامنځته کیږی.

د Actin فعالی برخی ته Troponin وایی، او دغه Troponin په دری ډوله دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


1: Troponin I  2: Troponin T  3: Troponin C

د Myosin فعالی برخی ته Tropomyosin وایی، یعنی په همدی فعالو برخو باندی عضله تقلص کوی.




## Muscle contraction عضلی تقلص

## Skeletal Muscle Contraction

## د اسکلیتی عضلی تقلص

لومړی باید Action potential تولید شی دغه Action potential په Sarcoplasmic Reticulum باندی تاثیر کوی، ددغی Sracoplasmic Reticulum څخه د کلسیم ایونونه ازادوی دغه د کلسیم ایونونه د Troponin C سره نښلی بیا د Tropomyosin د پاسه ښوویږی او په نتیجه کی عضلی تقلص رامنځته کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Skeletal Muscle Fiber

اسکلیټی عضلات دری ډوله الیاف لری:

### 1: White Fibers

قطر یی زیات دی، د مایوفیبریل شمیره ډیره ده، د مایتوکاندریا شمیره پکی کمه ده، مایو ګلوبین هم پکی کم دی او د عضلی تقلص دوام یی هم کم دی.

### 2: Red Fibers (Tonic Fibers)

ددی ډول الیافو قطر کم دی، د مایوفیبریل شمیره پکی کمه ده، د مایتوکاندریاګانو شمیره پکی ډیره ده، د مایوګلوبین شمیره پکی ډیره ده او د عضلی تقلص دوام یی ډیر دی.

### 3: Intermidiated Fiber

په دی الیافو کی د پورتنیو دواړو الیافو شیان په منځنی حالت کی دی.

## د اسکلیټی عضلی جوړښت

اسکلیټی عضله د Muscle fiber څخه جوړه ده او Muscle fiber څخه Boundle جوړیږی او ددی بنډلونو څخه اسکلیټی عضله جوړیږی.

د Fiber په واسطه Endomyusm پوښل شوی دی او Boundle یی جوړ کړی دی او دغه بنډل د Perimysium په واسطه پوښل شوی دی او Skeletal muscle یی جوړ کړی دی، دغه Skeletal muscle د Epimysium په واسطه پوښل شوی دی. (وینه عضلی ته د Epimysium له لاری رسیږی)

په حرکی اعصابو کی د Epimysium هغه برخه چی عصب ورننوځی هغی ته Motor end وایی.

هغه عضلات چی حرکت یی ډیر باریکه وی هری عضلی ته یو عصب راغلی دی، خو هغه عضلات چی حرکات یی باریکه نه وی تقریبآ یوی عضلی ته 100 عصبه راغلی دی.

حسی اعصاب یوی عضلی ته په دوه طریقو ننوځی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 1: Neuro Muscular Spindle

د عضلی په داخل کی الیاف دی دغه الیاف Spindle مانندہ دی د همدی له لاری ورته حسی عصب ننوځی.

### 2: Neuro Tendinous Ending

د وتر له لاری ورته حسی عصب ننوځی.

## Regenaration of Skeletal muscle

که تخریب لږ وی نو دوباره جوړیږی او که تخریب ډیر وی د منضم نسج په واسطه جوړیږی.

که چیرته یوی عضلی ته د وینی رګ او Nerve supply بنده شی نو عضله مړه کیږی. اسکلیتی عضلات د Satellite cell په نوم حجرات لری دا حجرات د Sarcolema او Endomyosium تر منځ پراته دی.

ددی حجراتو وظیفه داده چی ددی څخه myoblast جوړیږی او Myoblast په Myocyte بدلیږی او د Myocyte څخه عضله جوړیږی.

# Cardiac Muscle

دا دانسانانو په واک کی نه دی، او د خطونو درلودنکی دی د زړه عضلی د زړه د myo cardium طبقه جوړه کړی ده. د زړه عضله هم د Muscle fiber عضلی الیافو څخه جوړه شوی ده ددغی عضلی الیافو طول 100micron او عرض یی 15micron ته رسیږی. هر لیف د بل لیف سره د یوساختمان په واسطه وصل دی چی هغی ته Intercalated disk وایی(هغه ساختمان دی چی د زړه عضلی الیاف یی سره نښلولی دی)

د زړه عضله لاندی ساختمانونه لری:


1: یوه هسته لری او هغه په مرکز کی پرته ده.

2: Sarcolema په نوم یو پوښ لری او داهم د اسکلیتی عضلی په شان Transvers tubule لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


3: **Sarcoplasmic reticulum** هم لری، ددی وظیفه دلته د عضلی تقلص لپاره د کلسیم ایون ازادوی. او همدارنګه د مایتوکاندریاګانو، ګلایکوجن او شحمو درلودونکی دی.

د زړه عضله **Endomysium** لری خو **Perimysium** او **Epimysium** نه لری.




## د زړه د عضلی تقلص

زړه په دوه مرحلو کی تقلص کوی:

1: په جنینی ژوند کی په یو انسان کی **Myogenic** تقلصات واقع کیږی.

2: خو کله چی انسان تکامل ته رسیږی د انسان د بدن په زړه کی یو سیستم دی چی هغی ته **Conduting system of the heart** وایی. ددی سیستم په ذریعه زړه تقلص کوی.

## د زړه عضلی ترمیم

د زړه عضله په خپله د ترمیم قابلیت نه لری یعنی که لږه او که ډیره برخه یی تخریب وی د منضم نسج په واسطه جوړیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Smooth Muscle

## ښویه عضلات

د انسانانو په واک کې نه دي او خطونه هم نه لري د بدن په هاضمي جهاز، تنفسي سيستم، بولي سيستم، په شريانونو، په رګونو، په وريدونو، لمفاوي رګونو، د پوستکي Dermis طبقه او په سترګو کې موقيعت لري.


ددې ډبلوالي په بدن کې بيلابيل دي يعنې په ځينو ځايونو کې ډير دي او په ځينو ځايونو کې کم دي په رګونو کې يې ډبلوالی 20m دي او په رحم کې يې اوږوالي 0,5m دي. ديوی هستې درلودونکي دي.

ښويه عضلات د انسان په بدن کې په دريو شکلونو ليدل کيږي:

1: Mass، د کتلو په شکل د انسان په بدن کې ليدل کيږي.

2: د طبقاتو په شکل

3: د صفحو په شکل



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښویه عضلاتو تقلص

د ښویه عضلاتو تقلص هم د نورو عضلاتو په شان دی یعنی Actin او Myosin یو دبل دپاسه ښوییږی. په دی تقلص کی د $Ca^{++}$ ضروروت معلوم نه دی

ملساء عضلاتو ته Symphatic او Para symphatic اعصاب دواړه راغلی دی دلته هم هغه برخه چی وظیفه یی باریکه ده هغی ته د هر عضلی په سر یو عصب راغلی دی او هغه برخه چی وظیفه باریکه نه ده څو عضلاتو ته یو عصب راغلی دی.

## Regenaration of Smooth Muscle

ښویه عضلات د Mitosis توانایی لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لسم فصل

# Nervous Tissue عصبی نسج

## Nerveous System

## عصبی سیستم



Copyright © 2003 Pearson Education, Inc., publishing as Benjamin Cummings.

عصبی سیستم د انسان په بدن کی ټول فعالیتونه کنترولوی. داچی عصبی سیستم مطالعه کوو لومړی باید لاندی اصطلاحات وپیژنو:

## 1: Neuron

د عصبی سیستم ساختمانو او وظیفوی واحد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: Neuroglia

یو ډول خاص حجرات دی چی د نیورونونو ترمنځ فاصلو کی پراته دی.


## 3: Reflex Arch

هغه پروسه ده چی دهغی په نتیجه کی Afferent حسی عصب Intermediat ارتباطی عصب او Efferent حرکی عصب په منظم ډول کار وکړی.

## 4: Dendrite and Axon

دا د نیورن وتلی برخی دی.

## Structure of Neuron




یو نیورون د دوه برخو څخه جوړ شوی دی.

## 1: Cell Body (Perikaryon)    2: Cell Process

## Cell Body

Cell body یا حجروی جسم لاندی برخی لری:

(c) ketabton.com: The Digital Library



a: Cell membrane  b: Nucleus or Nucleolus  c: Neuroplasm

په Neuroplasm کی یی بیلابیل ساختمانونه موجود دی لکه:

Mitochandria، Golgi body، Inclusion، Nassle body او Neurofibrills (دا دوه وظیفی لری یو دا چی د نیورن په داخل کی ایونیک بلانس ساتی او بل دا چی د نیورن شکل ثابت ساتی)

## د عصبی حجری هسته:

د عصبی حجری هسته کروی شکل لری د نیورن په مرکزی برخه کی پرته ده رنګ یی کم دی او د څو هستچو درلودونکی ده.

## د عصبی حجری Neuroplasm

د عصبی حجری ارګانیلونه په لاندی ډول دی:

کوچنی مایتوکاندریا لری، ګلجی باډی یی غټه ده، RER د Ribosome دانی سره یوځای کیږی او یوساختمان چی Nassle body ورته وایی منځته راوړی. Nassle body په Dendrite کی شتون لری خو په Axon کی نشته، SER نه لری، Primary lysosome درلودونکی دی د وخت په تیریدو سره پکی Lipofusin منځ ته راځی.

## Cytoplasmic Inclusion

د نیورون په داخل کی دشحمی موادو Inclusion زیات دی، په جنینی ژوند کی د Glycogen inclusion موجود وی خو بلوغت کی نه وی یا په غټانو کی نشته. Lipofusin او Melanin هم پکی شته دی.

## Cell Process

عصبی حجره دوه Process لری Dendrite او Axon

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Dendrite

په Unipolar او Bipolar کی یی شمیره یوه ده خو په Multipolar نیورونونو کی یی شمیره ډیره ده، نیورون په خپله سطحه باندی ساختمانونه لری دغه ساختمانونو Spin apparatus او Dendritic spin په نوم یادیږی.

د Dendrite د Microtubule، Mitochondria او body Nassle درلودونکی دی.


دندرایتونه د Neurofill په جوړیدو کی رول لری (Neurofill هغه جال مانند ساختمان دی چی د Neuroglia د وتلو برخو او Dendrite ترمنځ جوړیږی)

د دندرایتونو طول ثابت نه دی په هر نیورون کی یی طول فرق کوی.

## Axon

د Cell body هغه نقطه چی Axon تری منشاء اخلی هغی ته Axon Hillock وایی. اکسون Neurofibrill لری خو Nassle body نه لری د اکسونونو قطر ځو مایکرونه دی په بعضی کی یو، دوه او تر ځلورو پوری وی، طول یی د 1mm-1m پوری دی. د Axon سطحه صافه یا ښویه ده Axon په وروستی برخه کی په ځو شاخونو ویشل کیږی چی د Telodenria په نوم یادیږی. د Teldenria د بل Dendrite سره وصل کیږی او Synapse جوړوی. د Axon یو پوښ په واسطه پوښل شوی دی چی هغی ته Axolemma وایی.

که د Axon دپاسه Myalin sheat یا Shwan sheat تاو شوی وی دی ته عصب یا Nerve وایی.



(c) ketabton.com: The Digital Library




## د Axon پوښ

د اکسون پوښ د Shwan حجراتو څخه جوړ شوی دی. د Shwan حجرات د Hetrochromatin هستی درلودونکی دی د Mitochondria، Microfilament، RER، Lysosome او د Golgi body درلودونکی دی.
Shwan cell د Ectoderm څخه منشاء اخلی، دوه مهمی وظیفی لری: لومړی دا چی د اکسون لپاره پوښ جوړوی، او دوهم دا چی Axon ترمیموی. او کله د Phagocytosis عملیه هم ترسره کوی.

هغه پوښ چی د Shwan cell په واسطه جوړیږی هغی ته Myalin sheat وایی. ( Myalin sheat د Shwan cell د یوځای کیدو څخه منځ ته راغلی دی)

Myalin sheat د عصابو لپاره حیاتی ارزښت لری، Myalin sheat یو دبل سره نښتی نه دی په منځ کی فاصله لری دی فاصلی ته Node of ranviar وایی.
د دوه Node of Ranviar ترمنځ فاصلی ته Inter Nodal space وایی.

په مرکزی عصبی سیستم کی Shwan cell نشته Myalin sheat د Oligodendrocyte په واسطه جوړیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نیورون ډولونه Types of Neuron

نیورونونه په اووه ډوله دی:

### 1: Golgi Type I

دندرایتونو شمیر ډیر دی او یو عدد اکسون لری حجروی جسم یا Cell body یی په C.N.S کی ده یا په بله معنا Cell body یی په Gray matter کی ده. (په دماغو کی د هستو مجموعی ته Gray matter وایی)

(نوټ: په دماغو کی د اکسونونو مجموعی ته White matter وایی)

او اکسون یی بدن ته د عصب په شکل غزیدلی دی.

وظیفه یی: سیالی د بدن نورو برخو ته انتقالوی.

### 2: Golgi Type II

دا ستاره یی حجرات دی په دی کی هم دندرایتونو شمیره ډیره ده او یو اکسون لری خو لنډ دی.

د بدن په دماغ اکبر Cerebrum، دماغ اصغر Cerebellum او Retina of eye کی موجود دی.

وظیفه یی: سیالی اخلی او نورو نیورونونو ته یی ورکوی.

### 3: Unipolar

دندرایټ نلری یواځی یو اکسون لری.

په Fetal life کی زیات وی خو په غټانو یا Adult period کی کم وی.

### 4: Psudounipolar

دا اصلآ دوه قطبه دی ددی دواړه دندرایټ او اکسون د یوی نقطی څخه منشاء اخلی. د بدن په Brain او Spinal card کی موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## 5: Bipolar

یو دانه دندرایټ او یو دانه اکسون لری.

د بدن په Olfactory حجراتو او په سترګو کی لیدل کیږی.

## 6: Multpolar

د نیورون معمول شکل لری یعنی د انسان د بدن نیورونونه اکثره په دی شکل کی وی په دی کی اکسون یودانه دی خو دندرایټونه پکی ځو دانی وی، اکثره یی Star shape ستاره مانند شکل لری.

## 7: Purking cell

ناک ته ورته شکل لری دا دوه برخی لری یوه برخه یی ډبله ده او بله برخه یی نری ده. د نازک نهایت څخه یی Dendrite منشاء اخلی او د ډبلی برخی څخه یی Axon منشاء اخلی. زیاتره دا په Cerebral cortex کی موجود وی.






Figure 7.8 Classification of neurons on the basis of structure.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساینپس Synaps

د عصبی حجری او عمل کوونکی غړی ترمنځ غشایی تماس دی، دا عمل کوونکی غړی بل نیورون کیدای شی او یا کیدای شی یوه غده اوسی.




ساینپس په دوه ډوله دی:

## 1: Electrical

په دی ډول ساینپس کی د سیالو انتقالیدل د برقی چارجونو په واسطه صورت نیسی.

## 2: Chemical

په دی ډول ساینپس کی د سیالو انتقالیدل د Neurotransmitter په واسطه صورت نیسی.

یو نیورون بل نیورن سره په دری ډوله یوځای کیږی:

1: اکسون د اکسون سره چی دی ته Axoaxonic وایی.

2: اکسون د دندرایټ سره چی دی ته Axodendritic وایږ.

3: اکسون د بل حجروی جسم سره چی دی ته Axosomatic وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساینپس د جوړښت له نظره دری برخی لری:

1: Pre synaptic neuron  2: Post synaptic neuron


3: Synaptic cleft


اکسون په وروستی برخه کی د Terminal button لری ددی وظیفه داده چی: د ساینپس په جوړیدو کی برخه اخلی.

Presynaptic neuron خاص vesicle لری په دی کڅوړو کی به Acytylcholin وی او یابه Epineprin موجود وی. که چیری ورکی Acytylcholin وی هغی ته Cholenergic neuron وایی. او چیری ورکی Epineprin وی هغی ته Adrenergic neuron وایی.

کله چی ددی Cholenegic neuron څخه Acytylcholin د کڅوړی څخه راوځی او خپله وظیفه ترسره کړی نو د Cholinesterase انزایم په واسطه له منځه ځی.

Adrenergic neuron د Epinephrin ماده افرازوی. کله چی دا افراز شو ددی له منځه وړلو لپاره بل کوم انزایم نشته دوباره د Endocytosis د عملیی په واسطه Recycle کیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## Neuroglia

یو ډول خاص حجرات دی او وتلی برخی لری.

په C.N.S کی د نیورونونو ترمنځ موقیعت لری. په محیطی عصبی سیستم کی د Shwan cell سره مشابه دی.

وظیفه یی: نیورونونو ته استناد ورکوی د نیورونونو د تغذیی سبب گرځی. د انسان د بدن دفاع کوی او د C.N.S بیلابیلی برخی ترمیموی، ځلور ډولونه لری.

Astrocyte، Oligodendrocyte چی دی دواړو ته یی په شریکه Macroglia هم وایی، Microglia او Ependymal cell.


## Astrocyte

ستاره یی حجرات دی ډیر شمیر بارزی لری دوه ډولونه لری.

1: Fibrous astrocyte 2: Protoplasmic astrocyte

په Protoplasmic astrocyte کی د بارزو شمیره ډیره ده په Gray matter او د Capillary په شاوخوا کی(د Capillary گرد چاپیره یو ساختمان دی چی د Perinascular feet نومیږی پراته دی)

Fibrous astrocyte بارزی یا استطالات یکی کم دی په White matter کی موجود دی او د دماغو او Spinal card تخریب شوی برخی دوباره ترمیموی.




(a) Astrocytes are the most abundant and versatile neuroglia.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## Oligodendrocyte

دا د Astrocyte څخه کوچنی دی استطالات یی هم د Astrocyte په نسبت کم دی د وینی د رګونو په شاوخوا کی ډیر دی په Gray matter کی هم شتون لری لږه اندازه یی په White matter کی شتون لری.

وظیفه یی: په C.N.S کی د Myalin sheat جوړوی.

Astorcyte او Oligodendrocyte دی دواړو ته په شریکه Macroglia هم وایی.





## Microglia

دا د Mesoderm څخه منشاء اخلی جوړښت یی د Fibroblast حجراتو سره مساوی دی او د لایزوزوم شمیر پکی ډیر دی د همدی کبله یی وظیفه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



Pahgocytosis بلع کولو کی رول لری. دا حجرات په Gray matter، White matter او د Blood capillary کی موجود دی.





(b) Microglial cells are phagocytes that defend CNS cells.

## Epindymal cell

دا حجرات په Spinal canal او Ventricle of brain کی موجود دی د Microvillia درلودونکی دی. دوه دانی Ependymal cell د Desmosome په واسطه وصل دی.


کله چی Epindymal cell د Blood capillary سره یوځای شی دی ته Chroid plexus وایی.




(c) Ependymal cells line cerebrospinal fluid–filled cavities.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## BBB(Blood brain barrier)

د انسان په دماغ کی چی کومه Neuroglia د Blood capillary سره یوځای کیږی په همدی ډول ددی Brain او Blood capillary ترمنځ یی پرده جوړه کړی چی دی ته BBB وایی.


BBB ځینی موادو ته د تیریدو اجازه ورکوی او ځینو ته د تیریدو اجازه نه ورکوی یعنی Semipemible غشاء ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیستمیک هستولوژی

# یوولسم فصل

# عصبی سیستم Nervous System




(d) Nervous System

Fast-acting control system of the body; responds to internal and external changes by activating appropriate muscles and glands.

د اناتومی له نظره عصبی سیستم له دوه برخو څخه جوړ شوی دی:

■ **Central nervous system**

کوم چې د نخاع یا Spinal cord او Brain څخه جوړ شوی دی، چې Brain هم د Cerebrum او Cerebellum څخه په وجود راغلی دی.

■ **Peiphral nervous system**

د Periphral nerves او Periphral ganglion څخه جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چی بیا Peripharl nerves د Spinal nerves او Cranial nerves څخه جوړ شوی دی.

او Periphral ganglion د Cerebro spinal ganglion او Autonamic ganglions څخه جوړ شوی دی.

مرکزی عصبی سیستم ټول عصبی موجی دبدن د داخلی برخو (Interoceptive) او خارجی محیط څخه (Exteroceptive) اخلی او محیطی عصبی سیستم یا PNS انساج او اعضاء د مرکزی عصبی سیستم سره وصلوی.

همدارنګه د عملی له نظره عصبی سیستم په Somatic nervous system او Autonamic nervous system باندی ویشل شوی دی، چی هر یو یی یوه Central برخه او یوه Periphral برخی لری.

د نیورون یا عصبی حجری په سایتوپلازم کی دوه خصوصیات زیات تبارز کوی:

- Irritability یا تخریش

یعنی د خارجی عواملو په مقابل کی څه فزیکی او یا کیمیاوی عکس العمل ښکاره کوی.

- Conductivity یا انتقال

نیورون کولای شی چی عصبی امواج د یوی نقطی څخه بلی نقطی ته یعنی عصبی امواج د نیورون نورو برخو ته او یا نورو نیورونونو ته انتقال کړی.

## د مرکزي عصبي سیستم نسجي جوړښت:

- Gray matter (Cell bodies)
- White matter ( Neuron process)

## Neuropil

The meshwork of axonal, dendritic, and glial processes associated with the gray matter is called the neuropil.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Spinal cord

# شوکی نخاع

یو مخروطی شکله اوږد ساختمان دی چی د Vertebral column په کانال کی قرار لری. چی په عرضانی مقطع کی بیضوی شکل لری. چی په خلفی برخه د Dorsal medium septum په واسطه په دوو برخو ویشل کیږی، حال داچی په قدامی برخه کی یی Anterior median fissure وجود لری. نخاع د Piamatter په واسطه پوښل شوی ده، چی Anterior median fissure ته داخلیږی، که څه هم نخاع د Cervical، Dorsal، Lumber او Sacral برخو څخه جوړه شوی خو د نسجی ساختمان له نظره سره تقریباً یوشان جوړښت لری.

د نخاع په مرکزی برخه کی یو H مانند ساختمان لیدل کیږی کوم چی د Gray matter څخه جوړ شوی دی د H د ساختمان قدامی بارزو د Anterior corn یا Ventral horn په نوم او خلفی بازو د Post- xom یا Dorsal horn په نوم یادیږی. علاوه ددی څخه ظهری نخاع او د 1-2 lumber فقراتو د نخاع د H په ساختمان کی یو جنبی بازو یا Lat corn هم وجود لری چی قدامی Corn حرکتی یا Motor، خلفی Corn حسی یا Sensory او جنبی Corn د Autonumic سیستم پوری مربوط دی.

همدارنګه د H د ساختمان د افقی خط په وسط کی د نخاع Central canal قرار لری، چی د Ependyma په واسطه پوښل شوی، د H ساختمان په شاوخوا کی سپینه ماده قرار لری او خاکستری ماده یی احاطه کړی، همدارنګه د نخاع په خارجی سطحه کی د نورو ګلیا یوه نازکه طبقه هم لیدل کیږی.

## د شوکی نخاع نسجی جوړښت:

- Gray matter یا خاکستری ماده


د نسجی ساختمان له نظره د عصبی حجراتو د جسم، نوروګلیا او یو تعداد الیافو څخه جوړه شوی ده، چی نیورونونه یی اکثراً multi polar دی.

- White matter یا سپینه ماده

صرف د عصبی الیافو او نوروګلیا څخه جوړه شوی ده، مګر د نیورون جسم په کی نه لیدل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## Cerebellum یا مخیخ

مخیخ د دونیم کرو او یو مرکزی برخی یا Vermis څخه جوړ شوی دی چی د یو تعداد Fissure په واسطه په Lobules باندی ویشل کیږی او په مقطع کی د یوی ونی په شان ښکاری، نو ځکه د شجرالحیاةّ یا The Arbor vitae په نوم یادیږی.

د نسجی ساختمان له نطره د سپینی مادی څخه جوړ شوی.

د مخیخ قشر د دریوو طبقو څخه جوړ شوی دی:

- Molecullar layer

د یوتعداد کوچنیو عصبی حجراتو او بی له میالین الیافو څخه جوړ شوی.

- Middle layer

د یوه قطار لویو عصبی حجراتو څخه د Purkinje cells په نوم جوړ شوی دی.

- Granular layer

د یو زیات تعداد کوچنیو دانه دارو عصبی حجراتو څخه جوړه شوی.

د مخیخ دنده د مخططو عضلو په کنترول سره په توازن او تعادل کی برخه اخلی.

## د مخیخ د حجرو ترمنځ اړیکي:

- دانه داره طبقه : ۳ ـ ۶ دندرایتونه او یو بی میالین اکسون یې مالیکولي طبقې ته ورځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Purkinje Cells په منځنۍ طبقه کې دي دندرایتونه یې ماليكولي طبقې ته ځي او بې ميالينه اکسون يې له دانه دارې طبقې تېر او د مخيخ سپينې مادې ته ځي
- د ماليکولي طبقې حجرې دستوري شکل لري د سطحي حجرې کوچنۍ او لنډ اکسون او ډېندرايت لري او لاندينې حجرې يې اوږد اکسون لري . د پورکینجي حجرو په جسم قرار نیسي .
- په قشر کې د Mossy Fibers او Climbing Fibers اليافو نـهايات شته
- دا الياف له دماغ او نخاع څخه مخيخ ته ورځي
- Mossy الياف د دانه دارې طبقې له حجرو سره ساينپس جوړوي
- Climbing الياف له دانه دارې طبقې تېرېږي او او پرکینجي حجرو سره اړيكه نيسي .

## Cerebrum

## دماغ اکبر

له دوو نيمو کرو څخه جوړ دی، خړه ماده په قشر کې واقع ده، سطحه یې تبارزات او فرورفتګي لري، د سطحې مساحت ۲۰۰۰۰۰ ملي متره مربع دی، پنډوالی یې ۱،۵ - ۴ ملي متره دی، په سپينه ماده کې يو شمېر خړمواد د nucleus په نامه شته، سپينه ماده ميالين داره الياف لري،خړه ماده حجروي اجسام ، عصبي الياف ، نيوروګليا او د ويني شعريه لري.

## Cerebrum نسجي جوړښت:

د لاندی طبقو څخه جوړه ده:

- **Molecular layer**

دا طبقه زیاتره د لاندینو طبقو د حجراتو د اليافو څخه جوړه شوی ده چی د قشر د سطحی سره موازی قرار نیسی. خو یو لږ تعداد عصبی حجرات هم په کی ليدل کيږی.

- **External granular layer**

د یو تعداد کوچنیو عصبی حجراتو څخه جوړه شوی، چی د حجراتو جسم یی اکثرآ په مثلثی شکل لیدل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Extrnal Pyramidal layer**

په دی طبقه کی اهرامی شکل عصبی حجرات او کوچنی دانه داره عصبی حجرات لیدل کیږی.

- **Internal Granular layer**

د کوچنیو دانه دارو عصبی حجراتو یا Granule cells څخه جوړه شوی ده.

- **Internal pyramidal or Ganglionar layer**

دا طبقه د لویو او متوسطو اهرامی حجراتو څخه جوړه شوی.

- **Poly morph layer**

په دی طبقه کی مختلف الشکله عصبی حجرات لیدل کیږی.

د Cerebrum سپینه ماده د میالین داره عصبی الیافو او نورو ګلیا څخه جوړه شوی ده او معمولآ دری نوع الیاف په هغه کی لیدل کیږی.

- **Association fibers**


د یوی نیمی کری مختلف قشری مراکز سره وصلوی.

- **Commissural fibers**

د یوی نیمی کری مختلف قشری مراکز د بلی نیمی کری د قشری مراکزو سره وصلوی.

- **Projection fibers**

د دماغ اکبر قشر له نورو مرکزونو سره وصلوی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Nerve Ganglion

د عصبي حجرو د جسم اجتماع خارج له مرکزي عصبي سیستم څخه عصبي عقده بلل کیږي.

د عصبي حجرو د جسم اجتماع په مرکزي عصبي سیستم کې عصبي هسته بلل کیږي.

په دوه ډوله دي :

- Cerebrospinal Ganglions
- Autonomic Ganglions

هره عقده تقریباً 50000 عصبي حجرې لري، ټول عصبي عقدات و منضم نسج د یوه کپسول په وسیله احاطه شوي دي، له کپسول څخه کولاجن او شبکوي الیاف عقدې ته داخلیږي، د حجرو جسم، اکسون او دندرایت یې په جوړښت کې برخه لري، سټلایت حجرې د پوښ په ډول په هره عقده کې د موجودې حجرې د جسم په محیط کې واقع دی.

## Cerebrospinal ganglions

نخاعی عقدات یو تعداد دوک مانند تبارزات دی، چی د نخاع د Dorsal root په مسیر کی او دماغی عقدات هم یو تعداد دوک مانند تبارزات دی، چی د قحفی اعصابو په مسیر کی قرار لری، ددی عقداتو عصبی حجرات د Pseudo unipolar neurone ډوله څخه دی، چی صرف یو اکسون لری او د T په شکل په دوه ښاخو ویشل کیږی. یو شاخ یی چی لږ ضخیمه ده او نخاعی عصب او یا قحفی عصب ته داخل او محیط ته ځی او بل شاخ یی چی لږ څه نازکه ده مرکزی عصبی سیستم ته داخلیږی، د ساختمان له نظره دواړه ښاخی مشابه ساختمان لری، د عصبی حجراتو جسمونه زیاتره د عقدی په محیط کی قرار لری. او د هری حجری د جسم په شاوخوا کی یو تعداد مکعبی حجرات د Satellite cells او یا Amphicyte په نوم (احاطه کوونکی حجرات) د یوه پوښ په شکل وجود لری، همدارنګه ددی حجراتو په شاوخوا کی د مرکزی عصبی سیستم د نوروګلیا حجرات هم قرار لری.

## Autonomic Ganglion

دا عقدات د یو تعداد متبارزو ساختمانونو په شکل د سمپاتیک زنځیر په مسیر کی او همدارنګه د احشاّ په جدار کی لیدل کیږی. خو د احشاّ د جدار عقدات ډیر واړه دی او عصبی حجرات یی د Multipolar neurone د ګروپ څخه دی. چی ستاره یی شکل لری. ددی عصبی حجرات په خپل شاوخوا کی Satellite cells نه لری او دهغه پر ځای یو تعداد دوک مانده حجرات چی د Fibroblast سره مشابه دی وجود لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو تعداد عصبی عقداتو عصبی حجراتو تغیر شکل کړی دی مثلآ: د Adrenal gland د Medulla عصبی حجرات د نداریت او اکسون نه لری، خو یو تعداد افرازی دانی د Cathecolamine د ګروپ څخه (ادرینالین او نارادرینالین) د حجراتو د تحریک په وخت کی وینی ته داخلوی.

## Dorsal Root Ganglions

- Neurons
- Fibers
- Connective Tissue

## Periphral Nerves


## محیطی اعصاب

د یو تعداد زیاتو عصبی الیافو څخه عبارت دی چی د منضم نسج په واسطه د یو بل سره وصل شوی او Spinal nerves او Cranial nerves په هغه کی شامل دی. ددی اعصابو په ترکیب کی هم حرکی عصبی الیاف او هم حسی عصبی الیاف شامل دی.

محیطی عصب د یوه منضم نسج په واسطه چی Epineurium نومیږی پوښل شوی دی.

چی په هغه کی Collagen، Fibroblast، په کم تعداد Elastic fibers او Capillaries شامل دی.

د Epineurium په داخل کی Fascicles موجود دی، چی د هر Fascicle په شاوخوا کی یو مقدار منضم نسج د Perineurium په نوم موجود دی. د Perineurium څخه یو تعداد د منضم نسج نازکی ورقی منشاء اخلی او د عصبی الیافو په شاوخوا کی قرار نیسی چی د Endoneurium په نوم یادیږی. چی دا ورقه د Schwann cell د قاعدوی غشاء سره ارتباط لری.




(c) ketabton.com: The Digital Library



# Connective Tissue Components of a Peripheral Nerve

- The endoneurium includes loose connective tissue surrounding each individual nerve fiber.
- The perineurium includes specialized connective tissue surrounding each nerve fascicle.
- The epineurium includes dense irregular connective tissue that surrounds a peripheral nerve and fills the spaces between nerve fascicles.




## د مرکزی عصبی سیستم محافظوی ساختمانونه

عصبی نسج ډیر نازک او ظریف دی او کافی حفاظت او تغذیې ته اړتیا لری. چې په اول قدم کی د هډوکو د یوی محافظی په واسطه چې عبارت دی له جمجمې یا Cranium او Vertebral column څخه دی. د هډوکو ددی پوښ څخه لاندی دری طبقې وجود لری، چې د Meninges یا سحایا په نوم یادیږی. چې د Meninges خارجی طبقه Dura matter یا pachy meninges نومیږی، چې د جمجمې د هډوکو د داخلی سطحی سره نښتې ده او یوه لیفی او مستحکمه طبقه ده چې د Foramen magnum له لاری د یو تیوب مانند ساختمان په شکل چې د نخاع په شاوخوا کی قرار نیسی. خو د هډوکو سره د یوی فاصلی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه چې Epidural or Extradural space نومیږی جدا کیږی. د Meninges منځنۍ طبقه د Arachnoid په نوم یادیږی چې د شبکوی الیافو د نازکو رشتو څخه جوړه شوی ده، د Meninges داخلی طبقه چې د مغزو او نخاع سره په تماس کی ده د Piamatter په نوم یادیږی، چې په هغی کی Capillaries شامل دی.

د Arachnoid او Piamatter ساختمان سره شباهت لری او بعضی اوقات د یوی واحدی غشاء په توګه چې Lepto menige نومیږی مطالعه کیږی.

Dura matter

د جمجمی دا برخه دوه طبقی لری، چې خارجی طبقه یی د Dense connective tissue، Capillaries او Nerves څخه جوړه ده.

او داخلی طبقه یی د Dense connective tissue څخه جوړه شوی ده او د یوی طبقی Mesothelial cells په واسطه پوښل شوی ده.

- Arachnoid

دا یوه نازکه او د Vessles درلودونکی طبقه ده. د Arachnoid څخه یو تعداد Trabeculae منشاء اخلی او د Piamatter سره ارتباط لری.

- Piamatter


یوه نازکه پرده ده چې دمغزو د سطحی سره ارتباط لری او د مغزو د سطحی په Fissure کی دننه ننوځی. دا ورقه د دوو طبقو څخه جوړده. چې یوه یی داخلی طبقه ده چې د Intima pia په نوم یادیږی، چې د شبکوی الیافو او الاستیک الیافو څخه جوړه شوی ده او هغه رګونه چې مغرو ته داخلیږی ددی طبقی په واسطه پوښل کیږی.

او بله یی خارجی طبقه ده چې د Epipial layer په نوم یادیږی چې د کولاجن الیافو او یو تعداد فبروبلاستو څخه جوړه شوی ده. دا طبقه د Arachnoid سره ارتباط لری او د یوی طبقی Mesothelial cells په واسطه پوښل شوی ده، د Carotide شریان او Vertibral شریان ښاخي د Piamatter له لاری مرکزی عصبی سیستم ته داخلیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Choroid Plexus & CSF



(b) CSF formation by choroid plexuses

**NON NERVOUS EPITHELIUM**


**3rd and 4th ventricle roof and lat ventricle walls**

**ependymal cells ( cuboid cells)**

## د عصبی نسج تشکیل

په ابتدایه کی د Ectoderm څخه یو تیوب مانندە ساختمان د Neural tube په نوم په وجود راځی، او د هغه د اطرافو حجرات Neural crest جوړوی، چی د عصبی تیوب او Neural crest څخه د عصبی سیستم مختلف ساختمانونه په وجود راځی. د نیوروګلیا حجرات او Satellite cells تول عمر انقسام کوی خو نیورون له تولد وروسته د انقسام خاصیت د لاسه ورکوی او که تخریب شی د نیوروګلیا حجرات د هغه ځای نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# دولسم فصل

## Respiratory system تنفسی سیستم

تنفس د حجری د حیاتی او اصلی فعالیتونو د جملی څخه دی چی د هغی په نتیجه کی اکسیجن د سږو د الویولو په واسطه اخستل کیږی او په عوض کاربن ډای اکساید خارجیږی.

تنفسی سیستم د دوو برخو څخه جوړ شوی دی:

### 1: Conductive Portion (Transitional portion)

انتقالی برخه ده یواځی هوا انتقالوی د محیط څخه داخل طرف ته اکسیجن او د داخل څخه کاربن ډای اکساید خارجوی. دغه برخه د لاندی ساختمانونو څخه جوړه شوی ده.

a: Bronchus (Extra pulmonary or Intra Pulmonary Bronchus)

b: Cavum nasi (Nasal cavity)   c:Pharynx
d:  Nasopharynx

e: Larynx   f: Trachea

### 2: Respiratory Portion (Exchange portion)

تنفسی برخه: په دی برخه کی د ګازاتو تبادله صورت نیسی او دا برخه یی د لاندی ساختمانونو څخه جوړه شوی ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



a: Respiratory Bronchiole (Respiratory (10%) or Terminal Bronchiole (20%) b: Alveolar Duct (30%)

c: Alveolar Atrium (40%) d: Alveolar Sac (50%)

e: Alveolus (90% Exchange) unit of Respiratory

## Function of Respiratory system

## د تنفسی سیستم وظایف

1: Respiration

تنفس په دوه برخو ویشو

a: Inspiration

د هوا یا محیط څخه اکسیجن اخستل.

b: Expiration

د کاربن ډای اکساید اطراح کول.

Respiration یا تنفس ځکه د تنفسی سیستم په واسطه کیږی چی دلته خاص ساختمانونه موجود او هغه په تنفس کی رول لری:

- Inter costal muscle
- Diaphragm
- Lungs Elasticity
- Negative Pressure of thoracic cavity

د Thoracic cavity فشار ځکه منفی وی چی د Alveoli څخه ګرد چاپیره په زرګونه Capillary تاوی شوی دی نو دا همیشه هوا ته ضرورت لری.

## Respiratory Epithelium

د تنفسی سیستم داخلی سطحه یی پوښلی ده. دغه اپیتیل اصلآ Pseudo stratified ciliated columnar epithelium

(c) ketabton.com: The Digital Library



او Goblet cells څخه ترکیب شوی دی. دا اپیتیل که په EM ولیدل شی نو د لاندی حجراتو څخه جوړ شوی دی:

## ■ Ciliated columnar cells

د تنفسی اپیتیل د ټولو نه زیاتی حجری تشکیلوی چی هره حجره یی د 300 دانو په شاوخوا کی Cilia لری. اکسیجن انتقالوی. او د Dynin Protein او Nexin Protein څخه جوړی شوی دی.

## ■ Mucous Goblet cells

دا حجری واړه واړه سربیښناکه ښاځکی جوړوی چی هغی ته Mucus وایی.

Mucus اصلاً Poly saccharide دی.

## ■ Brush Cells

په خپله ازاده سطح کی Microvilli لری. د عصبی حجری سره تماس لری د اخذو په شکل عمل کوی.

## ■ Stem cells یاBasal Cells

د نورو حجراتو د ترمیم Healing جوړیدو سبب گرځی.

## ■ Small Granular cells (Kulchisky cell)


د اندوکراین سیستم سره اړیکه لری جسامت یی کوچنی دی، کوچنی اندوکراینی Granule یا دانی لری چی دا دانی هورمونونه تولیدوی.

په Nasal cavity او Larynx کی یو تعداد نواحی لیدل کیږی چی هغی کی د تنفسی اپیتیل پرځای Stratified squamous epithelium دی لکه په oropharynx, Epiglottis او Vocal cord کی.

په ځینو حالاتو کی مثلآ د دوامداره تخریش په نتیجه کی تنفسی اپیتیل د څه وخت لپاره په Stratified squamous epithelium تبدیلیږی چی دی حادثی ته Metaplasia وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## Squamous Cell Metaplasia

1: Vocal cord اواز تولیدوی

2: Oropharynx د هضمی او تنفسی سیستم لاره ده

3: Epiglottis د ګنګړی په شان ساختمان دی

دا تول د Stratified squamous Epithelium په واسطه پوښل شوی دی ځکه چی دا د Irritation یا د تخریش واقع کیدو سره مخامخ کیږی.

(Hoarseness د اواز خپ والی)

(Voice Resonance د اواز نری والی)


Metaplasia د یو اپتیل بدلیدل په بل اپیتیل باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Conducting Portion

## انتقالی برخه




د یو شمیر تیوب مانندہ ساختمانونو څخه جوړ شوی چی د ګازاتو تبادله په کی صورت نه نیسی او دتنفسی اپیتیل په واسطه پوښل شوی دی. لاندی برخی لری:

## 1: Nasal Cavity (Cavum nasi)

دا برخه د دری برخو څخه جوړه شوی ده:

### a: Vestibulum nasi

د دوو سوریو په واسطه اکسیجن اخستل کیږی، خارج کی د پوستکی په واسطه او داخلی برخه یی د **Keratinized stratified squamous epithelium** په واسطه پوښل شوی چی هغی کی **Sebaceous gland** یا شحمی غداوات، **Sweat gland** یا د خولو غداوات او د **Hair follicle** د ویښتانو فولیکلونه لیدل کیږی.

دا دری واړه د **Irritant** څخه مخنیوی کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## b: Respiratory potion

د اناټومی له نظره دا برخه د Septum sinuses nasi او Conchae Nasalis څخه جوړه شوی ده، چی د Septum sinuses nasi یی د هوا په تیز والی کی رول لری(په خارجی برخه کی دوه سوری چی Nostril یا Naris نومیږی لری، دا Nostril په وحشی کی دAla nasi او په انسی کی د Septal nasi په واسطه احاطه کیږی) او د هستولوژی له نظره یو ګلابی رنګه مخاطی غشاء چی د Schneider's Membrane په نوم یادیږی د هغی په واسطه پوښل شوی ده.

### Schneider's Membrane

د میکروسکوپیک ساختمان له نظره دا غشاء د لاندی ځلورو ساختمانونو څخه جوړه شوی ده:

■ Epithelium

د تنفسی اپیتیل په واسطه پوښل شوی ده یعنی د Pseudo stratified ciliated columnar epithelium په واسطه پوښل شوی.

■ Lamina Propria

چی په هغی کی منضم نسج، مخاطی او مصلی غداوات (Serous Glands)، مدافعوی عناصر لکه: Lymphocyte، Plasma cell او Erectile tissue لیدل کیږی. Erectile tissue یو تغیر خوړلی وریدی ساختمان دی. دا ساختمان د هوا په ګرم کولو کی رول لری.

■ Sub Mucosa

وجود نه لری.

■ Supporting layer

دا طبقه یی د Periosteum او Perichondrium څخه جوړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## c: Olfactory Region

د پوزی د جوف 1/3 علوی برخه د بویولو ساحه جوړوی چې ساختمان له نظره د لاندی طبقو څخه جوړه شوی ده.

### ■ Mucus Membrane

دا طبقه د Pseudo stratified ciliated columnar epithelium او Lamina Propria څخه جوړه شوی ده او دهغه په اپتیل کی دری نوعه حجرات شامل دی:

- Basal cells چې ډیر واړه حجرات دی.
- Supporting cells چې دا غټ استوانه یی حجرات دی.
- Olfactory cells چې د Olfactory neuron په نوم هم یادیږی.
  چې هره حجره د لاندی برخو درلودونکی ده:
- Olfactory Hairs
- Olfactory Vesicle
- Olfactory Dendrite
- Cell Body چې دا د Nucleus او Neurofibril څخه جوړه ده.
- Axon

### ■ Lamina Propria

دا طبقه د منضم نسج څخه جوړه شوی ده چې په هغې کی د شحمی حجراتو اکسون، Venosus plexus او Bowman غداوات وجود لری.

### ■ Submucosa layer

وجود نه لری.


### ■ Supporting layer

د Ethmoidal هډوکی د Periosteum څخه جوړه شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Olfactory Mucosa of the Nasal Cavity




## 2: Nasopharynx

د نسجی ساختمان له نظره د لاندی طبقاتو څخه جوړه شوی:

- **Tunica Mucosa**

د لاندی ساختمانونو څخه تشکیل شوی ده:

- Epithelium د تنفسی اپیتیل د نوعی څخه دی.
- Lamina Propria د منضم نسج څخه جوړه شوی ده چی د لمفاوی نسج Lymphocyte پکی موجود دی (T-lymphocyte او B-lymphocyte)

اود غداواتو (Mucus Glands) څخه جوړ شوی دی.، چی لمفاوی نسج یی Pharyngeal tonsil جوړوی.

- Elastic layer (Muscularies mucosa) دا د Elastic fiber څخه جوړ شوی دی.

- **Tunica submucosa**

دا طبقه د منضم نسج څخه جوړه شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- **Tunica muscularies (Supporting layer)**

د خط لرونکی عضلو درلودونکی ده **Striated muscles**

- **Tunica Adventitia**

دا په ځینو برخو کی د نازک منضم نسج څخه جوړه شوی ده او په ځینو برخو کی یی د **Ethmoid** هډوکی هم شامل دی.

## 3: Larynx

## خنجره

دا تیوب ماننده ساختمان دی د **Pharynx** او **Trachea** په منځ کی قرار لری او دلاندی طبقو څخه جوړ شوی دی:

- **Tunica mucosa**


په دی طبقه کی **Respiratory epithelium** دی او کله ورکی **Stratified squamous epithelium** هم وی. ددی څخه لاندی **Lamina Propria** ده چی هغه د منضم نسج څخه جوړه شوی ده. عضلی مخاطی طبقه یکی وجود نه لری.

- **Tunica submucosa**

دا طبقه یی په واضح ډول نه لیدل کیږی.

- **Tunica muscularies (Supporting layer)**

په دی طبقه کی د **Cricoid cartilage** شامل دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# 4: Trachea
## شزن

یو اوږد تیوب مانده ساختمان دی چې تقریباً 10cm طول لری او دلاندی طبقو څخه جوړه شوی ده:

### ■ Tunica mucosa

چې لاندی طبقې په کی لیدل کیږی:

- Epithelium د Respiratory epithelium په واسطه پوښل شوی.
- Lamina Propria د منضم نسج او لمفاوی نسج څخه جوړه شوی ده.
- Muscularies mucosa د عضلی مخاطی طبقې په عوض الاستیک الیاف وجود لری.

### ■ Tunica submucosa


د منضم نسج څخه جوړه شوی ده.

### ■ Tunica Musculaties (Supporting layer)

دا طبقه یې د Hyaline cartilage څخه جوړه شوی ده.

### ■ Adventitia

د منضم نسج څخه جوړه شوی چې Trachea د مجاورو اعضاوو سره نښلوی.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## Photomicrograph of a section of the trachea and esophagus.

a. This specimen, obtained from an elderly individual, shows the relationship between the trachea and the esophagus at the base of the neck. The cartilaginous tracheal rings, which keep the trachea patent, have a C-shaped appearance. The cartilage gap, where the trachea is adjacent to the esophageal wall, is spanned by a fibroblastic membrane. It contains the trachealis muscle and numerous sero mucous glands. In this specimen, the tracheal ring has been transformed, in part, to bone, a process that occurs in aging. The darker-staining material represents cartilage, whereas the lighter-staining material has been replaced by bone tissue. The very light areas (*arrows*) are marrow spaces.

b. b. This high magnification photomicrograph shows an area of the tracheal ring that has partially transformed into bone. The top of the micrograph shows the tracheal mucosa and submucosa. Below is part of the tracheal ring. In this particular region, however, a substantial portion of the cartilage has been replaced by bone tissue and marrow. The bone tissue exhibits typical lamellae and osteocytes. The cartilage tissue, in contrast, exhibits nests of chondrocytes.




## Diagram of A Brush Cell and Small Granule Cell


a. The brush cell, as illustrated here, is interposed between type I and type II alveolar cells of an alveolus. Blunt microvilli are distinctive features of the brush cell. The cytoplasm typically shows a Golgi apparatus, lysosomes, mitochondria, and glycogen inclusions.

b. This small granule cell is shown located between two Clara cells, as in a terminal or respiratory bronchiole. The cell contains small secretory vesicles, most of which are in the basal portion of the cell. In addition to the vesicles,

(c) ketabton.com: The Digital Library



the most conspicuous organelles of the cell are rough-surfaced endoplasmic reticulum (*rER*), a Golgi apparatus, and mitochondria. A nerve terminal is shown within the epithelium adjacent to the cell.




# 5: Bronchial Tree

شزن د سږو د Hilus ته نژدی په دوو Primary bronchus ویشل کیږی چی سږو ته د داخلیدو څخه وروسته بنی Bronchus په دریو او چپ Bronchus په دوو Secondary Bronchus یا Lobar bronchus ویشل کیږی چی بیا هر یو ددوی څخه په ورو شعبو د Terminal Bronchus یا Bronchiole په نامه او بلاخره Bronchiole یی هم په ورو شعبو Terminal Bronchiole په نامه ویشل کیږی. د Primary Bronchus نسجی ساختمان د Trachea سره یوشان دی خو د Bronchial tree په مختلفو برخو کی دا لاندی نسجی تغیرات لیدل کیږی:

## ■ Epithelium

په ابتدایه کی Pseudo stratified ciliated columnar epithelium وی خو څومره چی د Bronchus قطر کم شی ددی اپیتیل ارتفاع هم کمیږی چی په Simple columnar ciliated epithelium او د Terminal bronchiole په برخه کی په Simple cuboidal epithelium باندی بدلیږی او Goblet cell تعداد په تدریجی توګه کمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ■ Lamina Propria

د Bronchial tree په ټول مسیر کی د منضم نسج، لمفاوی نسج او یو تعداد مخاطی او مصلی غداواتو څخه جوړه شوی ده.

## ■ Muscularies mucosa

په لومړی سر کی د Elastic fiber څخه جوړه شوی ده خو وروسته په تدریج سره د هغه ځای Smooth muscles نیسی.

## ■ Tunica submucosa

د منضم نسج څخه جوړه شوی ده.

## ■ Supporting layer


په ابتدایه کی د Hyaline cartilage څخه جوړه شوی ده.

## ■ Adventitia

د منضم نسج څخه چی په هغه کی Elastic fiber هم لیدل کیږی.

د Terminal bronchiole د اپتیل په حجراتو کی یو تعداد ګنبد مانند حجرات Dome shape د Clara په نامه لیدل کیږی چی دا حجرات Cilia نه لری او وظیفه یی په صحیح توګه معلومه نه ده. خو په سایتوپلازم کی په کافی اندازه Cytochrome وجود لری، چی د مضره موادو په بی اثره کولو کی چی سږو ته ننوځی مهم رول اجرا کوی.


نوټ: ( د تنفسی سیستم ساختمانی او وظیفوی واحد د Alveoli څخه عبارت دی چی 90% تبادله Exchange په دی برخه کی صورت نیسی)



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Bronchial Tree




(c) ketabton.com: The Digital Library



# Respiratory Portion

## تنفسی برخه




سږی د یوی مصلی غشاء (Serous membrane) په واسطه چې Pleura نومیږی احاطه شوی. د Visceral pleura څخه د منضم نسج نازکی پردی منشاء اخلی چې ښی سږی په دریېو فصونو او چپ سږی په دوو Lobe یا فصونو ویشی. دا نازکی پردی د هر Lobe داخل ته نفوذ کوی. او هر Lobe په Secondary lobule او بلاخره په Primary lobule چې د سږی وظیفوی واحد دی ویشی. په دی وظیفوی واحد کی د ګازاتو تبادله صورت نیسی او د Respiratory portion په نوم یادیږی چې د هغی برخی په لاندی ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 1: Respiratory Bronchioles

هر Terminal Bronchiole په دوو یا څو Respiratory Bronchiole باندې ویشل شوی دی. دغه برخه د ساختمان له نظره د Terminal Bronchiole سره مشابه جوړښت لري. او همدارنګه په دی جدار کی Smooth muscles او Elastic fibers په کافی اندازه شتون لري، خو Cilia نه لري.

# 2: Alveolar Duct

دا برخه د Respiratory Bronchioles په تعقیب شروع کیږی د ساختمان له نظره د یو Simple squamous epithelium په واسطه پوښل شوی او په جدار کی یی په کافی اندازه د Elastic fiber لیدل کیږی.

# 3: Alveolar Atrium

دا د دوو یا دریو Alveolar sac سره تماس لری اپتیل یی Simple squamous epithelium دی او په جدار کی د Elastic fibers لری.

# 4: Alveolar sac

په هر Alveolar sac کی څو عدده الویول وجود لری چی د هغی په جدار کی د Elastic fibers او Reticular fibers شامل دی. Elastic fibers الویولونه د یوی حلقی په شان احاطه کوی چی د Inspiration په وخت د الویول د خلاصیدو او د Expiration په وخت کی د الویول د Contraction سبب ګرځی.

# 5: Alveoli

د Bronchial tree اخیرنی برخه ده، قطر یی 200 مایکرونه ته رسیږی. د ګازاتو تبادله د الویول په جدار کی صورت نیسی. چی د دوو الویولونو ترمنځ جدار ته Inter alveolar septum وایی.

Alveoli په داخل کی یوه خالیګاه لری چی د Alveolar space په نوم یادیږی. Alveoli د داخل څخه د Simple squamous epithelium په واسطه پوښل شوی دی. دا Epithelium د Alveoli د داخل څخه اکسیجن اخلی او وینی ته یی ورکوی او هم په بدل کی کاربن دای اکساید خارجوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکسیجن داخلیدل او د کاربن ډای اکساید خارجیدل د Alveolar دیوال کی سوری دی چی Alveolar pores ورته وایی صورت نیسی.

د Alveoli دیوال د دری ساختمانونو څخه جوړ شوی دی:

- Simple squamous epithelium
- Connective tissue منضم نسج چی دا Basal lamina هم لری.
- Smooth muscle cell

دغه دیوال کی یو شمیر نوری حجری هم لیدل کیږی:

- Type I pneumocyte cell (Squamous cell)

18% حجرات په برکی نیسی او تقریباً د الویول 97% سطح پوښوی Gas exchange ددی په واسطه صورت نیسی.

- Type II pneumocyte Cell (Surfactant secreting cell or great alveolar cell)

16% حجرات په برکی نیسی چی د Squamous epithelial cells په منځ کی قرار لری او د الویول باقی 3% سطح پوښوی. دا حجرات مکعبی شکل لری او Surfactant په نوم ماده تولیدوی. دا هغه ماده ده چی زموږ سږی د Expiration په وخت کی د Collapse څخه ساتی دا حجری د حاملګی په اوومه میاشت کی جوړیږی کله چی د Surfactant مادی په تولید کی نقصان رامنځته شی نو Steroid یعنی Cortico steroid کولای شی په سږو کی د Surfactant cell جوړیدل تنبه کړی یا یی تیز کړی.

- Alveolar macrophage (Dust cell)

د جدار 10% حجرات جوړوی. دا حجرات معمولاً د Alveolar septum پر سطحه قرار لری په ځینو مریضانو کی مثلاً Heart failure کی د وینی مقدار په سږو کی زیات او د وینی سره کرویات RBC ددی مکروفاژ په واسطه بلع کیږی چی د یو مثبت عکس العمل په توګه د Iron pigment لپاره مشخص شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ■ Mast Cell

دا حجرات د Histamine، Serotonin، Leukotrin، Cytokine او Bradykinin درلودونکی دی.

## ■ Fibroblast cell

دا حجرات د تنفسی سیستم د Healing یا ترمیم سبب گرځی.

د Alveoli او Capillary په منځ کی فاصله موجوده ده چی هغی ته Blood air Barrier وایی دا یواځی د اکسیجن او کاربن ډای اکسايد په تبادله کی رول لری چی

دلاندی ساختمانونو څخه جوړ شوی دی:

- Capillary Endothelium
- Alveolar Epithelium
- Basal lamina

په هر Alveolar septum کی یو یا څو سوری لیدل کیږی چی د الویولونو ترمنځ رابطه قایموی، او د Terminal bronchiole د بندیدو په صورت کی د الویول د Collapse څخه جلوګیری کوی.

د الویول هو د Capillary د وینی د دری طبقو په واسطه جدا کیږی:

## ■ د اپتیل حجراتو سایتوپلازم

## ■ Basal lamina


چی دیوی خوا پر هغه باندی تنفسی حجرات او د بلی خوا د اندوتیل حجرات استناد لری.

## ■ د Endothelial حجراتو سایتوپلازم

ددی مانعی ضخامت 0,1-0,5 مایکرونه دی چی ددی لاری هوا اکسیجن او د وینی کاربن ډای اکسايد تبادله کیږی. د کاربن ډای اکسايد ازادیدل د وینی H2Co2 څخه د یو انزایم په مرسته چی Carbonic anhydrase نومیږی صورت نیسی. دا انزایم په Erythrocyte په جدار کی په کافی اندازه وجود لری، د الویولونو تعداد په سږو کی 300 میلونو ته رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**(a) Diagrammatic view of respiratory bronchioles, alveolar ducts, and alveoli**

**(b) Light micrograph of human lung tissue, showing the final divisions of the respiratory tree (120×)**

# Diagram of the intermalleolar septum

**This diagram shows the thick and thin portions of the intermalleolar septum. The thin portion forms the air–blood barrier and is responsible for most of the gas exchange that occurs in the lung. *Arrows* indicate the direction of CO2 and O2 exchange between the alveolar air space and the blood. The thick portion of the intermalleolar septum plays an important role in fluid distribution and its dynamics. It contains connective tissue cells. Note the macrophage in the thick portion that extends its processes into the lumen of the alveolus.**




(c) ketabton.com: The Digital Library



## Diagram of a type II alveolar cell and electron micrograph of lamellar bodies.

a. **Surfactant is an oily mixture of proteins, phospholipids, and neutral lipids that are synthesized in the rER from precursors in the blood. These precursors are glucose, fatty acids, choline, and amino acids. The protein constituents of surfactant are produced in the rER and stored in the cytoplasm within lamellar bodies, which are discharged into the lumen of the alveolus. With the aid of surfactant protein, surfactant is distributed, on the surface of epithelial cells lining the alveolus, as a thin film that reduces the surface tension. b. Higher-magnification electron micrograph showing the typical lamellar pattern of the secretory vesicles of type II alveolar cells. These vesicles contain the pulmonary surfactant precursor proteins.**




(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیارلسم فصل

# Circulatory system دورانی سیستم

## Cardiovascular System

## د زړه او رګونو سیستم




ټول بدن ته د وینې رسول ددې سیستم په واسطه صورت نیسي، که چیرې د وینې رسیدل ددې سیستم په واسطه صورت ونه نیسي نو **Hypoxia** (د اکسیجن کموالی) او **Ischemia** (د وینې کموالی) رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډیر وخت لپاره دغه دوام وکړی نو د Cell death د حجراتو د مړینی سبب کیږی.

دوه ډوله رګونه وجود لری یوی یی ورید او بل یی شریانونه دی. زړه چې یو مرکزی پمپ دی همدارنګه ورته یو متوسع رګ هم ویلی شو ځکه چې هستولوژی جوړښت یی له رګونو سره یوشان دی.

(د زړه وظیفه پمپ کول دی)

دغه سیستم د یومرکزی پمپ او یو تعداد ټیوبونو څخه په وجود راغلی دی:

- مرکزی پمپ(زړه یا Heart) چی ددی سیستم اساسی عضوه شمیرل کیږی.
- ټیوبونه Tubes چې انتقالی برخه تشکیلوی او د دوو برخو څخه مشتمله ده:

- Blood vessels

له هغو رګونو څخه عبارت دی چې وینه پکی جریان کوی او په دری ډوله دی: شریانونه، وریدونه او Capillaries

- Lymphatic vessels


په دی ډول رګونو کی یو سپین رنګه مایع چی لمف ورته وایو جریان لری دغه مایع ددی رګونو په واسطه د وینی رګونو ته لیږدول کیږی په دغو رګونو کی بیرته مایع یا وینه نه شی تلای یعنی یو طرفه لار ده چی یواځی لمف لیږدوی نو له همدی کبله د One way drainage په نوم یادیږی.

## Blood circulation

له ټول بدن څخه ناپاکه وینه د Superior vena cava او Inferior vena cava په واسطه د زړه ښی دهلیز ته راځی چی د Tricuspid valve په واسطه ښی بطن او له دی ځایه د Pulmonary trunk په واسطه کوم چی په دوه برخو ویشل شوی کوم ته چی Right Pulmonary artery او Left Pulmonary artery وایو، ځی او دواړه سږو ته لیږدول کیږی وینه په سږو کی Oxygenated یعنی پاکه شی تردی ځایه یعنی له ښی زړه څخه تر سږو پوری د ناپاکی وینی دوران د Pulmonary circulation په نوم یادیږی، همدارنګه ډیر کم وخت نیسی او یو وړوکی دوران دی نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدی امله د Minor circulation په نوم هم یادیږی، په دی دوران کی حرکت پورته سست او په کم فشار Low pressure دی، پاکه وینه له سږو څخه د Pulmonary veins په واسطه د زړه چپ دهلیز له دی ځایه بیا د یو لوی شریان په واسطه چی Aorta نومیږی ټول بدن ته رسیږی ددی دوران حرکت ښکته په High pressure سره حرکت کوی. څرنګه چی یو لوی دروان دی نو د Major circulation په نوم هم یادیږی، همدارنګه په دی دوران کی وینه ټول بدن ته رسیږی نو د Systemic circulation په نوم هم یادیږی، څرنګه چی د پاکی وینی دوران دی نو Oxygenated circulation هم ورته ویلای شو. او یا هم ورته High power circulation یا High pressure circulation وایی.
(Aorta په واسطه ټوله وینه انساجو ته راځی)




## Heart (Cor or Cardia)

د دورانی سیستم مرکزی او اصلی عضوه ده، چی وزن یی تقریباً 275gr ته رسیږی. زړه په دوه برخو ویشل شوی دی: ښی زړه Right heart او چپ زړه یا Left heart

ښی زړه یی دوه جوفونه لری چی یو پورته واقع دی چی هغی ته Right atrium وایی او بل جوف یی لاندی واقع دی چی هغی ته Right ventricle وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چپ زړه یی هم دوه جوفونه لری کوم چی پورته واقع دی د Left atrium په نوم او کوم جوف چی لاندی واقعی دی د Left ventricle په نوم یادیږی.

د ښی او چپ زړه ترمنځ ښکته یو دیوال دی کوم چی د دوو بطیناتو په منځ کی واقع شوی دی چی د Inter ventricular septum یا بین البطینی جدار په نوم یادیږی. پورته هم یو دیوال د اذیناتو ترمنځ موقیعت لری چی د Inter atrial septum یا بین الاذینی جدار ورته وایی.

ښی زړه کی Tricuspid valve د ښی بطین او ښی اذین ترمنځ Relation دی.

چپ زړه کی Bicuspid(Mitral valve) د چپ بطین او چپ اذین ترمنځ Relation دی.

د پورتنیو برخو وینه د Superior vena cava په واسطه زړه ته راځی. او د لاندی برخو وینه د Inferior vena cava په واسطه زړه ته راځی.


ښی زړه د دوو وریدونو په واسطه له محیط سره وصل دی چی یو یی Inferior vena cava او بل یی Superior vena cava دی دغه دواړه وریدونه د Deoxygenated blood درلودونکی دی.

## Pulmonary trunk

دوه دانی دی یو یی Right pulmonary trunk دی او بل یی Left pulmonary trunk دی. دا یواځینی وریدونه دی چی Oxygenated وینه لری. او یواځینی شریانونه Right Pulmonary Artery او Left Pulmonary Artery دی چی په بدن کی موجود دی او ناپاکه یا De oxygenated وینه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library






زړه نسجی جوړښت له لاندی دری طبقو څخه تشکیل شوی دی:

## ■ Endocardium

د زړه داخلی طبقه ده چی له وینی سره مستقیم تماس لری. یواځی د Atrio ventricular او Arteries د مجراو په برخه کی د Valve په نوم جوړښتونه چی له منضم نسج څخه جوړ دی او له دوارو خواو څخه د Endocardium د اپیتیل طبقی په واسطه پوښل شوی دی. دا طبقه له دری نورو طبقو څخه جوړه ده:

- **Endothelium**

  تر ټولو داخلی طبقه ده چی Simple squamous epithelium څخه جوړه ده او د زړه داخلی برخه یی پوښلی ده.

- **Sub endothelium**

  دا طبقه د Endothelium د طبقی شاته پرته ده. دا طبقه د منضم نسج څخه جوړه شوی ده. دا یوه نازکه طبقه ده چی د Endothelium د Supporting دنده په غاړه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Sub endocardium**

دا طبقه د **Sub endothelium** طبقې شاته پرته ده، دا یوه ذخیمه او پراخه طبقه ده دا هم د منضم نسج څخه جوړه ده. په دی طبقه کی خاص ساختمانونه دی چې **Endothelium** ته وینه راوړی او د هغی څخه دفاع کوی په لاندی ډول دی:

**a: Nerves** **b: Blood vessels** **c: Conductive system**

## Myocardium


دا طبقه د زړه تر ټولو ذخیمه طبقه ده د زړه د عضلی څخه جوړه شوی ده، دزړه **85%** برخه جوړوی او د زړه اسکلیټ هم جوړوی. دوه ډوله عضلی حجرات پکی شامل دی:

- **Contractile cell** تقلصی حجری

دا هغه حجری دی چی تقلصی خاصیت یی زیات او انتقالی قدرت یی کم دی.

- **Conductive cell** انتقالی حجری

ددی حجراتو انتقالی قدرت زیات خو تقلصی قدرت یی کم دی. چی دا غیری وصفی حجرات یو له بله سره یوځای کیږی او د زړه انتقالی سیستم جوړوی چی د زړه اناتومیک حرکاتو مسوّل بلل کیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library




# Skeleton of the heart

## د زړه اسکلیټ

د زړه عضله پر یوه استنادی ساختمان باندی چی له منضم نسج څخه جوړه شوی ده چی د زړه د اسکلیټ په نوم یادیږی، استناد لری. چی د حلقوی Annular fibrosi مثلث (Trigonal fibrosi) او پردو Septum په شکل لیدل کیږی. چی حلقی یی د Antrio ventricle او شریانی مجراوو اسکلیټ جوړوی. او د مثلث ډوله ساختمانونو په واسطه سره تماس لری او پرده مانندہ ساختمان د Septum inter ventricularis جوړوی. چی ددی په واسطه زړه له منضم نسج په واسطه سره نښتی دی که ددی پاسنی برخه نازکه شوی وی په Ischemic دلالت کوی.

## Fibrous skeleton of the heart as seen with the two atria removed

This fibrous network (*indicated in blue*) serves for the attachment of cardiac muscle, cusped valves between the atria and ventricles and semilunar valves of the aorta and the pulmonary artery. The atrioventricular bundle passes from the right atrium to the ventricular septum via the membranous septum of the fibrous skeleton.





## Chambers of the heart and the impulse conducting system

The heart has been cut open in the coronal plane to expose its interior and the main parts of its impulse conducting system (*indicated in yellow*). Impulses are

(c) ketabton.com: The Digital Library



generated in the sinoatrial (SA) node, transmitted through the atrial wall to the atrioventricular (AV) node and then sent along the AV bundle to the Purkinje fibers.




## Pericardium ■

د زړه لومړنی دواړه طبقې یې پوښلې دی. زړه د همدی غشاء په واسطه چې Pericardium نومیږی احاطه شوی دی. دغه غشاء یا صفحه له دوه برخو څخه جوړه شوی ده:

- Fibrous layer
- Serous layer

Parietal Pericardium چې د منضم نسج څخه جوړه ده
Visceral pericardium داخلی طبقه ده چې د Epicardium په نوم یادیږی.

د دواړو طبقاتو خالیګا ته Cavum pericardia یا Pericardial cavity ویل کیږی. چې په منځ کی یی کم مقدار Pericardial fluid مصلی مایع وجود لری.

Epicardium دساختمان له نظره د دوو طبقو څخه جوړ شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Mesothelium**

چی دا یو **Simple squamous epithelium** دی.

- **Sub epicardium**

چی دا طبقه د **Nerve**، **Veins**، **Loss connective tissue** او **Adipose tissue** څخه جوړه شوی ده.

## Blood vessels

## د وینی رګونه

رګونه په اصل کی تیوب مانندہ ساختمانونه دی.

دوه ډوله رګونه موجود دی:

- یو هغه دی چی په هغی کی وینه حرکت کوی چی هغی ته **Blood vessels** وایی.
- او بل هغه دی کوم چی **Lymph** پکی حرکت کوی چی هغی ته **Lymphatic vessels** وایی. چی دا د دری شیانو څخه جوړ دی:

**I: Lymphatic capillary** **II: Lymphatic vessels**

**III: Lymphatic duct**

## 1: Artery

## شریان

د زړه پاکه وینه (اکسیجن لرونکی وینه) بدن ته رسوی چی په بدن کی په دری ډوله ویشل کیږی:

**I: Large artery** **II: Middle artery** **III: Small artery**

## 2: Veins

## وریدونه

ناپاکه وینه (کاربن ډای اکساید یا **Deoxygenated blood**) د انساجو څخه بنی زړه ته راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3: Capillaries

## شعریه عروق

د تبادلی وظیفه په غاړه لری، د ضرورت وړ مواد انساجو ته ورکوی او غیری ضروری مواد له انساجو څخه اخلی.

د وینی د رګونونسجی جوړښت د لاندی طبقاتو څخه جوړ شوی دی:

- **Tunica Intima داخلی طبقه**

دا طبقه د وینی سره مستقیماً په تماس کی ده او د رګونو داخلی طبقه شمیرل کیږی. دغه طبقه د زړه د Endocardium طبقی سره ورته ده. او لاندی طبقی پکی وجود لری:

- Endothelium

د Endothelium طبقه یو Simple squamous epithelium دی چی د رګونو داخلی سطحه پوښوی.

- Sub endothelium

دا طبقه د منصم نسج څخه جوړه شوی ده.

- Inner Elastic layer

دا طبقه د الاستیکی الیافو څخه جوړه شوی ده چی د داخلی او متوسطی طبقی په سرحد کی قرار لری.

- **Tunica Mediaمنځنی طبقه**

یوه ذخیمه طبقه ده چی د Smooth muscle ملساء عضلاتو، Elastic fiber او منضم نسج څخه جوړه ده. دغه طبقه په Contraction کی رول لری.

- **Tunica Adventitiaخارجی طبقه**

په دی طبقه کی لاندی طبقات شامل دی:

- Outer elastic layer

چی دا طبقه یی د Elastic fiber څخه جوړه شوی ده، او د متوسطی او خارجی طبقی په سرحد کی قرار لری.


(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Connective Tissue layer**

دا طبقه د منضم نسج څخه جوړه شوی ده.

## Kinds of Blood vessels




## ■ Arteries شریانونه

له هغو رګونو څخه عبارت دی چی له زړه څخه وینه وړی د بدن نورو برخو ته او د قطر ساختمان او وظیفی په لحاظ په دریو ګروپونو ویشل کیږی:

- **Large artery or Elastic or conducting artery**

دغه شریانونه د Smooth muscle او Elastic fibers څخه ترکیب شوی چی لاندی وظایف لری:

ا: انتقالی وظیفه او د وینی Systolic BP فشار نورمال ساتی.

که دیو شریان قطر د یو ملی متر څخه زیات وی هغی ته Large artery وایی. لکه:

- Aorta
- Pulmonary trunk
- Superior vena cava
- Inferior vena cava

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Middle or Muscular or Distributing Artery

متوسط او واړه شرایین: ددی په جوړښت کی عضلی الیاف، Smooth muscle ډیر او Elastic fibers پکی کم دی. او د وینی د تقسیمولو وظیفه په غاړه لری.

- Small Artery and Arteriole

شریانچی: واړه شرایین د اتو طبقو Smooth muscle څخه جوړ شوی خو Arteriole له یو یا دوه طبقو څخه جوړ دی. او په خپل ترکیب کی Elastic fibers نه لری، او د Diastolic BP فشار په تنظیم کی رول لری. ددی شریان قطر د 1mm څخه کم وی.

Large artery کی د Elastic fibers شمیره ډیره خو د Smooth muscle شمیره پکی کمه ده. او په Middle او Small شریانونو کی د Elastic fibers شمیره کمه او د Smooth muscle شمیره پکی ډیره ده. رګونه د دوه قسمه اعصابو په واسطه پوښل شوی دی:

I: Sensory neuron چی د Intima، Adventitia او Media څخه منشاء اخلی.

II: Motor neuron چی د Adventitia او Media څخه منشاء اخلی.

## ■ Veins وریدونه

وریدونه د عمودی ساختمان له نظره له شریانونو سره شباهت لری خو یواځی یو څو توپیرونه لری چی په لاندی ډول دی:

- په اسانی سره د وریدونو د طبقاتو فرق نه کیږی.
- د وریدونو جدار نازک دی.
- د وریدونو الاستیکی او عضلی الیاف نظر شریانونو ته کم دی.
- په وریدونو کی د Adventitia طبقه خو په شریانونو کی د Media طبقه ذخیمه ده.
- په وریدونو کی د Valve په نوم جوړښتونه وجود لری.

تقریبآ د وجود 70% وینه په وریدونو کی دخیره کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریدونه د شریانونو په شان په لاندی ګروپونو ویشل شوی دی:

| No | Name | Diameter قطر |
|---|---|---|
| 1 | Large vein | 10 mm |
| 2 | Middle vein | 10 mm |
| 3 | Small vein | 1 mm |
| 4 | Venules | 0,1 mm |
| 5 | Post capillary venule | |
| 6 | Muscular venule | |

## ■ Capillaries شعریه عروق

هغه رګونه دی چی زموږ د بدن ټول شریانونه یی د وریدونو سره وصل کړی دی. د یو تعداد نازکو ټیوبونو پراخه شبکه ده چی دهغه جدار نه د موادو تبادله د وینی او نسج په منځ کی صورت نیسی.

که د بدن شعریه عروق راواخلو او خوله په خوله یی کیږدونو اوږدوالی به یی 50000 میله ته ورسیږی (چی د 84500km سره سمون خوری)

نسجی ساختمان یی په لاندی ډول دی:

- Endothelium

یو Simple squamous epithelium دی چی د شعریه عروقو داخلی سطح یی پوښلی ده.

- Basal lamina

د اندوتیلیل حجرات پریوی نازکی صفحی د Basal lamina په نامه استناد لری په ځینو ځایونو کی شته او په ځینو ځایونو کی په معینو فاصلو کی او په ځینو ځایونو کی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## Pericyte -

دا حجرات چې اصلاً Mesenchymal cell دی، د اندوتیل حجرات د بهر څخه احاطه کوی.

## Diagram and scanning electron micrograph of the endothelium.

a. This schematic drawing shows the luminal surface of the endothelium. The cells are elongated with their long axis parallel to the direction of blood flow. Nuclei of endothelial cells are also elongated in the direction of blood flow.

b. Scanning electron micrograph of a small vein, showing the cells of the endothelial lining. Note the spindle shape with the long axis of the cells running parallel to the vessel.





## Diagram depicting segments of two adjacent endothelial cells

This diagram shows cell-to-cell and cell to-extracellular matrix junctions in the endothelial cells. Junctional complex near the luminal surface (*dashed line box*) comprises the zonula occludens and the zonula adherence, and a desmosome represents a group of cell-to-cell junctions that maintain selective permeability barrier. Cell-to-cell communication junctions are represented by an area of gap junctions (*green*). Anchoring junctions (cell-to-extracellular matrix) are represented here by hemi desmosomes and focal adhesions. Observe the organization of the cytoplasm and cytoplasmic inclusions, the Weibel-Palade bodies, that are characteristic of endothelial cells. Pinocytotic vesicles in the cell on the left have been positioned to suggest the pathway of vesicles from the lumen of the blood vessel to the basal cell membrane or to the lateral cell membrane as indicated by the *dashed arrows*. Various markers have been traced through pinocytotic pathways across the endothelial cell. Luminal surface of the endothelial cells expresses variety of endothelial cell-surface receptors.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## Kinds of Capillaries

## د شعریه عروقو ډولونه

دوه ډولونه لری:

■ Specific Capillariesوصفی

له هغه ډول څخه عبارت دی چی شریان له ورید سره نښلوی. همدارنګه منظم جوف Regular lumen لری. داهم په دوه ډوله دی:

- Continuous or somatic capillaries

په دوامداره ډول یکی Basal lamina موجوده وی او د اندوتیل حجراتو جسامت یی په ټول مسیر یوشان دی. او په عضلاتو کی، منضم نسج کی، عصبی نسج کی او په Exocrine غداواتو کی لیدل کیږی. دغه Capillary په خپل جدار کی په کافی اندازه Pinocytic vesicle لری چی د موادو په انتقال کی رول لری خو د دماغ په Capillary کی ددی ویزکلونو تعداد کم دی ځکه چی هلته Blood brain barrier وجود لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Fenestrated or Visceral capillaries**

په دی ډول کی د اندوتیل په حجراتو کی یو تعداد سوری لیدل کیږی اودا په Kidney، Endocrine glands، Intestine او په Bone marrow کی موجود وی.

■ **Non specific or dis continuous or sinusoidal capillary غیری وصفی**

دغه رګونه شریان له شریان سره او یا ورید له ورید سره نښلوی. قاعدوی غشاء پکی غیری دوامداره او د حجراتو ترمنځ یی خالیګاه لیدل کیږی. غیری منظم جوف یا Irregular lumen لری. په جدار کی Phagocytic cells لری.

دغه Capillary په لاندی ځایونو کی ورید له ورید سره نښلوی.

- Endocrine gland
- Liver
- Bone marrow

او په Kidney کی شریان له شریان سره یوځای کوی.

د شریانی او وریدی سیستم په منځ کی ارتباط

شراین او وریدونه د لاندی طریقو نه د یوبل سره ارتباط ساتی:

■ **Capillary bed**

یوه معمولی طریقه ده چی شریان د ورید سره وصلوی په دی ترتیب چی اول Small arterioles په Meta arterioles او بیا Meta arterioles په دوو نوعو Capillary تبدلیږی.

- **True capillary**

حقیقی Capillary چی په خپل شروع کی Sphincter لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- **Large capillary**

چې مستقیماً د ورید سره ارتباط لري او د Through fore cannel په نامه یادیږي.

## ■ Arteriovenous Anastomosis

یوه لنډه او مستقیمه لاره ده چې یو Arteriole د Venule سره وصلوي.

## ■ Glomus

یو ډول خصوصي Shunt دي چې د Anastomosis مجرايي پیچیده یا مغلق ساختمان لري او دهغه په جدار کې د Epithelioid حجرات لیدل کیږي او د Glomus تو‌له کتله د منضم نسج په واسطه احاطه شوي ده.

## ■ Portal system


په عادي حالت کې یو شریان په شرياني Capillaries او بیا وریدي Capillaries او بلاخره په وریدونو تبدیلیږي، خو ځینې وختونو کې د بدن په ځینو ځایونو کې داسي حالت منځ ته راځي چې یو شریان په شرياني Capillaries او بیا په دوباره شریان باندي بدلیږي.

## Portal system in 3 Places

- **Hepatic portal system**
  Vein= Capillary= Vein
- **Glomerulus portal system**
  Artery= Capillary= Artery
- **Hypothalamic – Pituitary portal system**
  Vein= Capillary= Vein


(c) ketabton.com: The Digital Library






## Diagram of microcirculation

This schematic diagram shows a met arteriole (initial segment of a thoroughfare channel) giving rise to capillaries. The precapillary sphincters of the arteriole and met arteriole control the entry of blood into the capillaries. The distal segment of the thoroughfare channel receives capillaries from the microcirculatory bed, but no sphincters are present where the afferent capillaries enter the thoroughfare channels. Blind-ended lymphatic vessels are shown in association with the capillary bed. Note the presence of anchoring filaments and the valve system within the lymphatic capillaries.



(c) ketabton.com: The Digital Library




# Lymphatic Vessels

د انساجو او Interstitial space څخه لمف مایع Lymphatic capillary په واسطه راټولیږی چی په یو طرفه ډول یی په وریدونو کی اچوی.

څو Capillary سره یوځای کیږی او Lymphatic vessels جوړوی.

دا په خپل مسیر کی د Lymph node په نوم جوړښت لری. چی پکی لمفوسایټ او مکروفاژونه وجود لری. او د لمف مایع فلتر کوی. بلاخره دغه مواد د Lymphatic duct په واسطه په ورید کی خالی کیږی دغه مایع بی رنګه ده او د نسجی مایع څخه منشاء اخلی.

د Lymphatic vessels نسجی ساختمان د وریدونو سره شباهت لری. او طبقات یی واضح نه ښکاری. دغه سیستم د بدن په ځینو برخو کی لکه: CNS، Bone او Cartilage کی وجود نه لری.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**TABLE 13.1 Characteristics of Blood Vessels**

**Arteries**

| Vessel | Diameter | Tunica intima (inner layer) | Tunica media (middle layer) | Tunica adventitia (outer layer) |
|---|---|---|---|---|
| Large artery (elastic artery) | >10 mm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle | Smooth muscle<br>Elastic lamellae | Connective tissue<br>Elastic fibers<br>Thinner than tunica media |
| Medium artery (muscular artery) | 2–10 mm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle<br>Prominent internal elastic membrane | Smooth muscle<br>Collagen fibers<br>Relatively little elastic tissue | Connective tissue<br>Some elastic fibers<br>Thinner than tunica media |
| Small artery | 0.1–2 mm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle<br>Internal elastic membrane | Smooth muscle (8–10 cell layers)<br>Collagen fibers | Connective tissue<br>Some elastic fibers<br>Thinner than tunica media |
| Arteriole | 10–100 μm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle | Smooth muscle (1–2 cell layers) | Thin, ill-defined sheath of connective tissue |
| Capillary | 4–10 μm | Endothelium | None | None |

**Veins**

| Vessel | Diameter | Tunica intima (inner layer) | Tunica media (middle layer) | Tunica adventitia (outer layer) |
|---|---|---|---|---|
| Postcapillary venule | 10–50 μm | Endothelium<br>Pericytes | None | None |
| Muscular venule | 50–100 μm | Endothelium | Smooth muscle (1–2 cell layers) | Connective tissue<br>Some elastic fibers<br>Thicker than tunica media |
| Small vein | 0.1–1 mm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle (2–3 layers) | Smooth muscle (2–3 layers continuous with tunica intima) | Connective tissue<br>Some elastic fibers<br>Thicker than tunica media |
| Medium vein | 1–10 mm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle<br>Internal elastic membrane in some cases | Smooth muscle<br>Collagen fibers | Connective tissue<br>Some elastic fibers<br>Thicker than tunica media |
| Large vein | >10 mm | Endothelium<br>Connective tissue<br>Smooth muscle | Smooth muscle (2–15 layers)<br>Cardiac muscle near heart<br>Collagen fibers | Connective tissue<br>Some elastic fibers, longitudinal smooth muscles<br>Much thicker than tunica media |


(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثوارلسم فصل

## Defense system دفاعی سیستم

### Defense System or Lymphatic System

### دفاعی سیستم



(c) ketabton.com: The Digital Library


ټول ژوندی موجودات د دفاع حق لری.

هغه اجنبی اجسام چی دغه دفاعی حجرات یی ونه پیژنی نو ددی سیستم په واسطه له منځه ځی. د جوړښت له نظره دغه سیستم زموږ په بدن کی د دری شیان څخه جوړ شوی دی او دغه دری واړه د Lymphatic circulation په واسطه خپل دفاعی پروسه سرته رسوی چی په لاندی ډول دی:

## ■ Defense cells دفاعی حجرات

دفاعی حجری یی په دوه ډوله دی:

- Mobile cell ګرځیدونکی حجری
  لکه: Macrophage او Leukocyte ( Monocyte, Lymphocyte, (Neutrophil, Basophil, Eosinophil
- Fixed Cells غیری متحرکه حجری
  لکه: Plasma cell او Reticular cell

## ■ Defense Tissue دفاعی انساج

دفاعی انساج په دوه برخو ویشل شوی دی:

- Lose lymphatic Tissue

په دی ډول کی لمفوسایټ د منضم نسج سره یوځای په تیت او پراګنده ډول لیدل کیږی او هغه نسج ته ویل کیږی چی خواره واره اوسی یعنی د وړو کتلو په شکل په بدن کی وی لکه:

I: MALT= Mucosa Associated Lymphatic Tissue

II: GALT= Gut Associated Lymphatic Tissue

III: BALT= Bronchus Associated Lymphatic Tissue

- Dens lymphatic Tissue

هغه ډول نسج ته ویل کیږی چی یوځای کی یی متراکم کړی وی لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**I: Red Bone marrow**

**II: Lymphatic Node**

## ■ Defense Organs (Lymphatic organs) دفاعی غړی

دا په دوه برخو ویشل شوی دی:

### - Central Lymphatic Organs مرکزی غړی

دا په مرکز کی قرار لری دوه دانی دی چی اساسی کتله جوړوی.

**I: Thymus**

چی ددی په واسطه T-cell جوړیږی.

**II: Bursa**

دا په انسانانو کی نشته خو ددی پرځای په انسانانو کی Bone marrow وجود لری چی د B- cell په جوړیدو کی رول لری.

### - Peripheral Lymphatic Organs محیطی غړی

لکه:

**1: Tonsils**

دری قسمه Tonsils زموږ په بدن کی موجود دی:

**I: Pharyngeal Tonsils**

**II: Sub lingual Tonsils**

**III: Palatine Tonsils**

**2: Lymph node**

**3: Spleen**

**4: Pyre paches**





Figure 12.5 Lymphoid organs. Locations of the tonsils, spleen, thymus, Peyer's patches, and appendix.

(c) ketabton.com: The Digital Library


5: Appendix

## Lymphatic or Defense Cell

لکه څنګه چې مو مخکې یادونه وکړه دا حجرات په دوه ډوله دی یو یې Mobile cells یا متحرکه حجرات او بل یې Fixed cells یا غیری متحرکه حجرات وو:

متحرکه حجرات هم په دوه ډوله دی:

■ Leukocyte (WBC)

چې په دی کی لاندی حجرات شامل دی:

- Neutrophil
- Lymphocyte
- Monocyte
- Eosinophil
- Basophil

په دی حجراتو کی Monocyte او Neutrophil ته Phagocytic cells هم ویلی شو ځکه دوی دواړه حجری په بدن کی د Phagocytosis دندی سرته رسوی.

Monocyte ته Macrophage هم ویلی شو، یعنی د بدن څخه ډیره دفاع کوی او په یو وخت کی 100 عدده اجنبی شیان وژنی.

خو Neutrophil چې ترتولو فعاله حجره ده،ددی عمر کم دی دا تر 10 پوری اجنبی شیان وژنی د همدی امله ورته Microphage وایی.

د Neutrophil او Monocyte حجرو دفاعی وظایف سره شباهت لری او وظیفوی مراحل یې په لاندی ډول دی:

- Margination

د التهاب په صورت کی زیات تعداد نیوتروفیل او Monocyte د وینی د رګونو په څنډو کی د قطارونو په شکل راټولیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - Diapedesis

په دی مرحله کی د اندوتیل حجرات Contraction کوی او Neutrophil او Monocyte یی د رګونو د جدار څخه بهر د نسج په لور ځی.

## - Chemotaxis


دواړه حجرات، التهابی ساحی د میکروبونو او یا د میکروبونو د Toxin او یا د میکروبونو د بقایاوو په واسطه جذبیږی.

## - Amoeboid Movement

دواړه حجرات د امیبی حرکت په واسطه ځان مطلوب هدف ته رسوی.

## - Phagocytosis

په دی مرحله کی Neutrophil واړه میکروبونه خوری، عمر یی کم او د څو ساعتونو په حدودو کی وی. خو د Monocyte عمر ډیر او اوږد وی، او غټ میکروبونه خوری.




Phagocyte mobilization.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Lymphocyte

د انتی بادی د جوړولو په واسطه د بدن په دفاع کی برخه اخلی او یو مهم خاصیت لری هغه داچی کله د وینی د جریان څخه خارج شی بیرته وینی ته داخلیدای شی چی دی عمل ته Recirculation ویل کیږی.

لمفوسایت په دوه ډوله دی:

## - T- lymphocyte or T- cell

هغه ډول حجرات دی چی پخوالی یی په Thymus غده کی ترسره کیږی او بیا د بدن نورو برخو ته غځول کیږی.

دا ډیر ډولونه لری لکه: CD4، CD11 او CD23 چی دا فعالی حجری دی. دی ته Cytotoxic T-cell او یا Direct killer cells هم وایی.

دغه حجری د Cellular immunity مّسولیت په غاړه لری. یعنی دا په خپله سطحه کی Anti- body لری او په مستقیم ډول په انتی جن حمله کوی او له منځه یی وړی.

په بله معنا حجروی معافیت په رامنځته کیدو کی د T-cell سره Macrophage مرسته کوی چی دی Macrophage ته دلته A.P.C وایی.

T-Cell یا T- Lymphocyte په دری ډوله دی:

I: Helper T- cell

II: Cytotoxic cells or Killer T- cell

III: Suppressor T- cell

## - B- Lymphocyte (B-cell)

دا هغه ډول حجرات دی چی د پخوالی مرحله یی په Bursa یا Bone marrow کی تیروی او د Humoral immunity مسّولیت په غاړه لری.

دا په دوه حجرات تفریق پذیری کیږی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## I: Plasma Cells

## II: Memory Cells





**Figure 12.11** Lymphocyte differentiation and activation.

## Plasma Cell

غیری متحرک حجرات دی، د **B- lymphocyte** د تفریق پذیری په نتیجه کی لاس ته راځی، دغه حجرات په **Lymphatic nodes**، منضم نسج، **Bone marrow** او **Spleen** کی لیدل کیږی.

دغه حجرات د **B cell** په واسطه تنبه او انتی بادی تولیدوی چی له همدی کبله د **Anti-body producing cell** په نوم یادیږی.

## Reticular Cell

دا هم غیری متحرک حجرات دی او د وینی په جوړیدونکی اعضاو **Hematopoietic organ** کی لیدل کیږی او د ضرورت په وخت کی په نورو حجراتو بدلیدلی شی او یو ډول **Supporting cell** دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Lymphatic Tissue

په ټول بدن کی او خصوصآ په منضم نسج کی لیدل کیږی او په دوه ډوله دی:

## a: Loose Lymphatic Tissue

په دی ډول لمفاوی نسج کی لمفوسایټ په منشر ډول د منضم نسج سره یوځای لیدل کیږی.

## b: Dense Lymphatic Tissue

په دی ډول لمفاوی نسج کی لمفوسایټ د کتلو یا ګردو ساختمانونو په شکل لیدل کیږی چی دا ساختمانونه د **Lymphatic Nodules** او یا د **Lymphatic Follicles** په نوم یادیږی چی هر فولیکل یی د دوو برخو څخه جوړ دی:

- **Germinal Center**

د فولیکل مرکزی برخه ده چی روښانه ښکاری او خام لمفوسایټ پکی موجود دی، او د نورو لمفوسایټونو د تولید فعاله مرکز دی.

- **Peripheral Zone**

دا د فولیکل محیطی برخه ده چی نظر مرکز ته تیاره او له پخو لمفوسایټونو څخه جوړه شوی ده.

# Antigen

هغه مواد دی چی د بدن دفاعی عکس العمل تحریکوی، انتی جن کیدای شی چی مکملی حجری **Complete cell** وی لکه: **Bacteria** او **Tumor cells**

او یا کیدای شی چی یو تعداد **Macromolecule** وی لکه: **Proteins** او **Polysaccharides**

# Anti- Body

هغه پروټینی مواد او د **Y** په شکل مالیکولونه دی چی په دوران کی قرار لری او د **Plasma cell** په واسطه تولیدیږی، چی د دوه دانو سپکو **(Light)** او د دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانو درندو (Heavy) پولی پیپتایډ ځنځیرونو څخه جوړ دی، او دا ځنځیرونه د Disulfide bond په واسطه سره وصل دی. د انتی باډی مالیکولونه د Proteolytic enzyme په واسطه چې Papain نومیږی په دری برخو ویشل کیږی چې یو یی F C Fragment دی، او دوه دانی F ab Fragment دی. د F C fragment د Stem cell د Y شکله او د دوه دانو Carboxyl terminus نیمایی درندو ځنځیرونو (Heavy Chain) څخه ترکیب شوی دی. او دوه دانی F ab Fragment د دروند ځنځیر پاتی برخی او د مکمل سپک ځنځیر څخه ترکیب شوی دی. د Plasma cell په واسطه چې کوم مواد تولیدیږی هغی ته Immune globulin وایی. چې په پنځه ډوله پیژندل شوی دی:

- **Ig G:**

دا انتی باډی د انسان د وینی د سیروم 75% ایمونوګلوبین تشکیلوی او یواځینی انتی باډی ده چې د Placenta څخه تیریدای شی. او د ماشوم د تولد په لومړیو ورځو کی د معافیت سبب ګرځی.

- **Ig A:**

دا ډول Ig د وجود په افرازاتو لکه: د لعاب، اوښکو یا Tear د قصباتو افرازات او د پروستات او Vagina په افرازاتو کی لیدل کیږی. دنده یی داده چې عضوی ته د انتی جن د نفوذ مخه نیسی.

- **Ig M:**

دا د وینی د سیروم 10% ایمونوګلوبین IG تولیدوی، او د مضره موادو په غیری زهری کولو کی او د پلازما د انزایمونو په فعاله کولو کی رول لری.

- **Ig E:**

دا چې کله د Plasma cells په واسطه افراز شی نو د Must cell او Basophil په واسطه له دوران څخه اخستل کیږی، چې له دی امله د همدی حجراتو په واسطه Histamine, Serotonin او Heparin افرازوی چې دا په Allergic reaction کی برخه اخلی.





(c) ketabton.com: The Digital Library




## ■ Ig D:

دا ډول ig د حجراتو په جدار (Cell membrane) او سیروم کی موجود وی، دا د خاصو Receptors درلودونکی دی چی د خاص انتی جن په مقابل کی عمل کوی.

**Table 12.2　Immunoglobulin Classes**

| Class | Generalized structure | Where found | Biological function |
|---|---|---|---|
| IgD |  | Virtually always attached to B cell | Believed to be cell surface receptor of immunocompetent B cell; important in activation of B cell. |
| IgM |  | Attached to B cell; free in plasma | When bound to B cell membrane, serves as antigen receptor; first Ig class *released* to plasma by plasma cells during primary response; potent agglutinating agent; fixes complement. |
| IgG |  | Most abundant antibody in plasma; represents 75–85% of circulating antibodies | Main antibody of both primary and secondary responses; crosses placenta and provides passive immunity to fetus; fixes complement. |
| IgA |  | Some (monomer) in plasma; dimer in secretions such as saliva, tears, intestinal juice, and milk | Bathes and protects mucosal surfaces from attachment of pathogens |
| IgE |  | Secreted by plasma cells in skin, mucosae of gastrointestinal and respiratory tracts, and tonsils | Binds to mast cells and basophils, and triggers release of histamine and other chemicals that mediate inflammation and certain allergic responses. |





# Types of acquired immunity

**Orange boxes signify active types of immunity in which immunological**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**memory is established. Gold boxes signify the short-lived passive types of immunity; no immunological memory is established.**




## Thymus Gland

د Central lymphoid organs له جملې څخه شمیرل کیږی په Sternum هډوکی کی موقیعت لری، د Med Clavicular notch څخه شروع کیږی تر Superior mediastinum پوری امتداد پیدا کوی.

Thymus په ماشومانو کی ډیر دی، Mitosis په ماشومانو کی سریع دی خو په کاهلو انسانانو کی کمزوری یعنی فعالیت یی کم دی په همدی خاطر د Thymus شمیر او جسامت په ماشومانو کی ډیر او په لویانو کی کم دی.

## Histologic Structure of Thymus

### ■ Supporting Tissue

دی ته Stroma هم وایی، د منضم نسج څخه جوړه شوی ده، او د لاندی برخو درلودونکی ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- Capsule

دا برخه Thymus پوښوی.

- Septa

دا پرده له کپسول څخه منشی اخلی او Thymus لومړی په Lobe او بیا په Lobule ویشی.

- Reticular Tissue

دا د شبکوی نسج یوه شبکه ده چی د Thymic cells په شاوخوا کی قرار لری او د هغوی د استناد سبب ګرځی.

## Functional part or Parenchyma

د Thymus اساسی او وظیفوی برخه ده چی د لاندی برخو څخه جوړه شوی ده:

- Lymphocytes

دا د T cell له نوعی څخه عبارت دی او Thymus یی په دوه ناحیو ویشلی دی:

**a: Cortex:**

محیطی او تاریکه برخه ده او د Dense lymphatic tissue څخه جوړه شوی ده. او د خام Lymphocyte د ذخیره کیدو سبب ګرځی.

**b: Medulla:**

مرکزی برخه تشکیلوی د Loos lymphatic tissue څخه جوړه شوی ده. دا نظر Cortex ته روښانه ښکاری، ددی لوبول په مرکزی برخه کی یو ساختمان د Hassall's Body په نوم وجود لری چی د Thymus د تشخیص لپاره یوه اساسی نقطه ده.


دا جسم د Epithelioreticular Cells د هموارو حجراتو څخه چی د دایروی متراکمو صفحاتو یا Dense circular palates په شکل دی جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Epithelioreticular cells

دا حجرات یو جسم او څو Process لری چی په واسطه یی یو له بل سره یوځای کیږی او یو چوکاټ جوړوی چی دا په حقیقت کی یوه مانعه ده، او د همدی په وجه انتی جن غدی ته نه پریښودل کیږی، دا مانعه د BTB یا Blood Thymic Barrier په نوم یادیږی.




دغه حجرات دوه ډوله هورمونونه د Lymphoid Tissue د ودی او تفریق پذیری (Differentiation) لپاره افرازوی:

1: Thymosins


2: Thymopoietin

دغه حجرات شپږ ډولونه لری چی دری دانی یی په Cortex او دری دانی یی په Medulla کی موجود دی:

- Type I Epithelioreticular cells
- Type II Epithelioreticular cells
- Type II Epithelioreticular cells
- Type IV Epithelioreticular cells
- Type V Epithelioreticular cells
- Type VI Epithelioreticular cells

(c) ketabton.com: The Digital Library


-




Lymphocyte د هډوکو په مغز کی جوړیږی او هغه چی Thymus ته رسیږی د تکثر او تفریق پذیری وروسته په T- Lymphocyte تبدیلیږی چی د Thymus او Medulla د رګونو په واسطه لمفاوی عضوو ته رسیږی چی دغه د ودی ساحی ته Thymus Dependent zone ویل کیږی چی عبارت دی له:

- Para cortical zone of lymph nodes
- Per arterial Sheet of white pulp of spleen

T- Lymphocyte لاندی وظایف لری:

- د حجروی معافیت مسول بلل کیږی.
- Delayed Hypersensitivity
- Graft Rejection

نو هغه Lymphocyte چی په Bone Marrow کی تفریق پذیری کوی د B- lymphocyte په نوم یادیږی. چی Lymphatic nodule، Spleen، Lymph nodes او Peyer's Patches ته انتقالیږی، او د خلطی معافیت مسول ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Organ Transplantation

په څلور ډوله ترسره کیږی:

- **Auto graft**

په دی ډول پیوند کی نسج یا عضوه د عین شخص د یوی بلی برخی څخه اخستل کیږی.

- **Iso graft**

په دی ډول پیوند کی نسج د غبرګونی پیداشوی څخه اخستل کیږی.

- **Allograft or Homograft**

له یو انسان څخه بل انسان ته نسج پیوند کول.

- **Heterograft**

نسجی پیوند له نورو حیواناتو څخه اخستل.

# Bursa

یوه مرکزی لمفاوی عضوه ده چی د الوتونکو د کولمو په نهایی برخه کی (GALT) یا Gut associated lymphatic Tissue وجود لری. د هغی په ساختمان کی Lymphocyte او Macrophage شامل دی. Lymphocyte د تفریق پذیری څخه وروسته په B- Lymphocyte بدلیږی. په انسانانو کی Bursa موجوده نه ده خو یو معادل ساختمان یی په انسانانو کی Special micro environment of Bone marrow او د کوچنیو کولمو لمفاوی نسج دی.

# Lymph Nodes

اکثره بیضوی شکله ساختمانونه دی، چی د Lymphatic vessel په مسیر کی د ځنځیر په شکل قرار لری، ادا د محیطی لمفاوی سیستم غړی دی، وظیفه یی Filtration دی.

جسامت یی د 1mm- 2cm پوری دی. او د Kidney یا ګردو په شان یو محدبه او بله مقعره سطحه لری ، چی د محدب طرف څخه Afferent lymphatic vessels ورته داخل شوی خو مقعر طرف یی چی د Hilus په نوم یادیږی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



Efferent lymphatic vessels ورڅخه خارج او وریدونه، شریانونه او اعصاب ورته داخلیږی.

Lymph nodes په ټول بدن کی خصوصآ د Cervical، Chest، Lingual، Axillary او Abdomen کی په ډیره اندازه پیداکیږی.

نسجی جوړښت یی په لاندی ډول دی:

## ■ Stroma (Structural or supporting layer)

چی په دی کی لاندی برخی شاملی دی:

- Capsule – (C.T)
- Trabeculae
- Reticular Tissue

## ■ Parenchyma

دا برخه یی د Lymphocyte څخه جوړه شوی ده.

معمولآ د یو لمفاوی Node په یوه مقطع کی لاندی ساختمانونه لیدل کیږی:

## ■ Cortex

دا ساختمان د کپسول څخه لاندی قرار لری، او لاندی ساختمانونه پکی لیدل کیږی:

- Cortical sinuses or (Sub capsular sinuses)
- Trabeculae or Trabecular sinuses
- Lymphatic Nodules

Cortex په دوه ډوله دی:

- Superficial Cortex
- Deep Cortex

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Medulla

دا د **Node** مرکزی برخه او **Hilus** په بر کی نیسی چی د لاندی ساختمانونو درلودونکی دی:

- Medullary Cords
- Medullary Trabecular
- Medullary sinuses

په دی برخه کی **Lymphocyte** په ذخیروی شکل کی پراته وی او د **Lymphocyte** ذخیره کیدو ته **Medullary sinus** کوم چی د **Medullary cord** سره اړیکه لری زمینه برابروی.

## Functions of Lymph node

- Lymph Filtration
- Anti- body Formation
- Lymphocyte Production


### Structure of a lymph node

- **a.** This diagram depicts the general features of a lymph node as seen in a section. The substance of the lymph node is divided into a cortex, including a deep cortex, and a medulla. The cortex, the outermost portion, contains spherical or oval aggregates of lymphocytes called *lymphatic nodules*. In an active lymph node, nodules contain a lighter center called the *germinal center*. The medulla, the innermost region of the lymph node, consists of lymphatic tissue that appears as irregular cords separated by lymphatic medullary sinuses.
- The dense population of lymphocytes between the superficial cortex and the medulla constitutes the deep cortex. It contains the high endothelial venules. Surrounding the lymph node is a capsule of dense connective tissue from which trabeculae extend into the substance of the node. Under the capsule and adjacent to the trabeculae are, respectively, the subscapular sinus and the trabecular lymphatic sinuses. Afferent lymphatic

(c) ketabton.com: The Digital Library


vessels (*arrows*) penetrate the capsule and empty into the subscapular sinus. The subscapular sinus and trabecular sinuses communicate with the medullary sinuses. The upper portion of the lymph node shows an artery and a vein and the location of the high endothelial venules of the lymph node.

- **b**. Photomicrograph of a lymph node in a routine H&E preparation. The dense outer portion of the lymph node is the cortex. It consists of aggregations of lymphocytes organized as nodules and a nodule-free deep cortex. The innermost portion of the lymph node, the medulla, extends to the surface at the hilum, where blood vessels enter or leave and where efferent lymphatic vessels leave the node. Surrounding the lymph node is the capsule, and immediately beneath it is the subscapular sinus.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Spleen یا توری

د لمفاوی اعضاو تر ټولو لوی ساختمان دی.

د لاندی برخو څخه جوړ شوی دی:

## Stroma (Made of Connective Tissue)

د منضم نسج څخه جوړه شوی ده او د لاندی برخو څخه مشتمله ده:

- Capsule
- Trabeculae
- Reticular Tissue

په دی دری واړو برخو کی یی منضم نسج او Smooth muscle لیدل کیږی.

## Parenchyma

ددی پارنشیم د یوه نرم اسفنجی ساختمان څخه چی د Splenic pulps نومیږی جوړشوی دی. دا Pulps په دوه ډوله دی:

- White pulp

د یو مرکزی Arteriole څخه جوړ دی. او د انتی باډی او Lymphocyte د تولید وظیفه په غاړه لری.

- Red pulp

له Erythrocyte (Macrophages, Leukocytes, Plasma cells) او Venous sinuses څخه جوړ دی چی وینه پکی تراکم کوی.


**Schematic diagram and photomicrograph of splenic structure.**

The substance of the spleen is divided into white pulp and red pulp. White pulp consists of a cylindrical mass of lymphocytes arranged around a central artery that constitutes the per arterial lymphatic sheath (PALS). Splenic nodules occur along the length of the PALS. When observed in cross section through part of the sheath that contains a nodule, the central artery appears eccentrically located with respect to the lymphatic mass. The red pulp consists of splenic sinuses

(c) ketabton.com: The Digital Library



surrounded by splenic cords (cords of Bill Roth). A capsule surrounds the spleen; trabeculae project from it into the substance of the spleen. Both capsule and trabeculae give the appearance of dense connective tissue infiltrated by numerous my fibroblasts. Blood vessels traverse the capsule and trabeculae before and after passage within the substance of the spleen. Lymphatic vessels originate in the white pulp near the trabeculae.




## Blood Circulation of Spleen

## د توری د وینی دوران

د Spleen ننوتی برخی ته Hilus وایی، دلته یو غټ شریان چی د Splenic artery په نوم یادیږی راغلی دی دغه شریان د Abdominal aorta څخه منشاء اخلی، د Stroma له برخی څخه چی تیریږی هغی ته Trabecular artery وایی، ددی څخه وروسته ته White pulp ته داخل او د Lymphocyte په

(c) ketabton.com: The Digital Library




واسطه احاطه کیږی چی هغه د Splenic arteriole of splenic nodule په نوم یادیږی.

بیا Red pulp ته داخلیږی او جارو مانند ساختمان د Penicillus په نوم جوړوی چی هر شاخ یی د Terminal capillary او Sheated arteriole pulp arteriole په نومونو یادیږی. له دی وروسته مؤلفین دوه عقیدی لری:

لومړی دا چی نهایی شریان له وریدی Sinus سره مستقیماً ارتباط لری او یو Close or Rapid circulation منځ ته راوړی.

دوهم دا چی نهایی شریان له وریدی Sinus سره مستقیم ارتباط نه لری او یو Slow or Open Circulation جوړوی.




## Functions of Spleen

## د توری وظایف

- Hemopoiesis (in fetal life)
- Lymphopoiesis (White pulp)
- RBC Destruction (Macrophages)
- Defense (Lymphocytes, Macrophages)
- Blood storage (Red Pulp)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوزه یا Tonsils

دا لمفاوی غړی حلقوی ساختمان لری او د موقیعت له نظره په دری برخو ویشل شوی دی:

- **Palatinal Tonsils**
  - Stratified Squamous Epithelium
  - 10-20 Crypts
- **Pharyngeal Tonsils**
  - Respiratory Epithelium (Pseudo stratified ciliated columnar Epithelium)
  - No Crypt
- **Lingual Tonsils**
  - Stratified squamous Epithelium
  - No Crypt

**:Crypt**

ننوتی ساختمانونه دی چی Macrophage، Lymphocyte او نور حجرات (Squamous epithelial cells) یی محتویات بلل کیږی.

د تانسل په نسجی جوړښت کی لاندی ساختمانونه لیدل کیږی:


- **Stroma**

کپسول نه لری، او د Septa او Reticular Tissue څخه جوړه ده.

- **Parenchyma**

د منتشرو لمفوسایتونو او لمفاوی فولیکلونو څخه جوړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Function and Dysfunctions of Tonsils

- Defense
- Hyper trophy
- Adenoids

**:Adenoids**

هغه حالت ته ویل کیږی کله چی Pharyngeal tonsil پرسیدلی وی، چی انسان بیا تنفس په درست ډول نه شی کولای.

## Tissue Macrophage system or Mononuclear Phagocyte system or Reticuloendothelial system (RES)

ددی سیستم منشاء له Monocyte څخه ده، او Macrophage ورته ځکه وایی چی غټ مالیکولونه لکه: د کاربن ذرات، دوړی او خاوری، بکتریا او د حجراتو بقایاوی بلع کوی. کله چی Monocyte د وینی له دوران څخه خارج شی نو جسامت یی غټ او د لایزوزوم تعداد یی هم زیاتیږی او په کوم کی چی وی په مربوطه نوم یادیږی لکه په لاندی ډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| - Liver | Kuepfer cell |
| - Lungs | Alveolar Macrophages/ Dust Cell |
| - Bone | Osteoclasts |
| - Skin | Langerhans cells |
| - Lymph nodes | Macrophages |
| - Spleen | Macrophages |
| - Bone marrow | Macrophages |
| - Connective Tissue | Histeocytes |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم فصل


## Digestive system هضمی سیستم

### Digestive system هضمی سیستم

هضمی سیستم یو اوږد تیوب مانند ساختمان دی، چې د Oral cavity څخه تر Anal Canal پورې ټول ساختمانونه پکې موجود دي.

عمومي دندې یې په لاندې ډول دي:

- د موادو هضم Digestion
- د موادو جذب Absorption
- د فضوله موادو اطراح Excretion



(c) ketabton.com: The Digital Library



عموماً دا سیستم له دری برخو څخه جوړ شوی دی:

- **Oral Cavity**
- **Digestive Tube**
- Esophagus
- Stomach
- Small And Large intestine
- **Accessory organs**
- Pancreas
- Liver
- Gall bladder

# Oral Cavity

## د خولی جوف





Figure 14.2 **Anatomy of the mouth (oral cavity).** **(a)** Sagittal view of the oral cavity and pharynx. **(b)** Anterior view of the oral cavity.

دا دلاندی ساختمانونو څخه مشتمله شوی ده:

- Lips
- Cheeks
- Tongue
- Teeth
- Salivary Gland
- Hard palate and soft Palate
- Oropharynx

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Lips

# شونډې

شونډې یوه مخططه عضله ده چې د (Orbicularis oris muscle) څخه جوړې شوې دي، چې لرونکې د دوه سطحو دي:

## External Surface

د Skin یا پوستکي په واسطه پوښل شوې ده، چې لاندې جوړښتونه پکې موجود دي:

- Hair Follicle
- Sebaceous Gland
- Sweat Gland

او Keratinized stratified squamous Epithelium پکې شامل دي.

## Internal Surface

دا د Non Keratinized stratified Squamous Epithelium په واسطه پوښل شوې دي، چې ددې Epithelium څخه لاندې Lamina Propria وجود لري، چې پکې منضم نسج او Labial mucus gland لیدل کیږي.

ددې دواړو سطحو ترمنځ (Internal or External surface of lips) انتقالی ساحه وجود لري چې د Red area of lips په نوم یادیږي، ددې ساحې اپیتیل ضخیم خو Keratin یې نازک دي، د Red area د اپیتیل لاندې منضم نسج دی چې پکې د وینې رګونه لیدل کیږي، ددې ساحې سوروالی ددې له تعداد سره تړلی دی.

دغه ساحه Hair follicle، Sweat gland او Sebaceous gland نه لري خو د ژبې په واسطه لمده ساتل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Cheeks

# غومبوري

دوه سطحی لری:

- External surface

د مخطط Skeletal muscle او Elastic fibers څخه جوړه شوی ده، همدارنګه د Skin او Keratinized stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی ده، او د لاندی جوړښتونو درلودونکی ده:

- Hair Follicle
- Sebaceous Gland
- Sweat gland

- Internal surface

دا سطحه د Non keratinized stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی ده،او د لاندی طبقو څخه جوړه ده:

- Lamina Propria

د اپیتیل لاندی قرار لری او د منضم نسج څخه جوړه ده.

- Sub mucosa

د Lamina Propria څخه وروسته واقع ده، دا هم د منضم نسج څخه جوړه ده او پکی Blood vessels، Blood capillary او Mucus salivary gland شامل دی.

# Tongue

# ژبه

ژبه په دوه برخو ویشل شوی ده:

- Free or movable or Apex

ددی په واسطه غذایی مواد اخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Root

دغه برخه له Pharynx سره نښتې ده، او ددې په واسطه توته شوی غذايي مواد تيروو.

ژبه دوه سطحې لرې:

■ Upper or Superior surface

دا سطحه د V د توری په شان ساختمان چې Sulcus Terminalis نوميږی ژبه په دوه برخو ويشل کيږی.

2/3 Anterior 1/3 Posterior

دا سطحه د Non Keratinized stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی ده. او په نسجی جوړښت کی لاندې ساختمانونه شامل دی.

- Skeletal muscle
- Mucus gland
- Serous gland
- Mucosa

■ Lower or Inferior Surface

دغه سطحه يې نازکه ده، دا هم د Non keratinized stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی ده، او يواځې د Sub mucosa طبقه پکی وجود لری چې هغه د منضم نسج ځخه جوړه شوی ده.

د ژبې علوی سطحه ځيږه ده او يو تعداد تبارزات پکی موجود دی چې Papilla ورته وايی، دا Papilla د Sulcus terminalis قدام ته موقيعت لری او څلور دانی دی:

- Filiform papilla

د 2-3mm پوری لوړوالی لری، د V سره موازی (Parallel to v) قرار لری. مخروطی شکل لری. د Non keratinized epithelium په واسطه پوښل شوی خو دا يو سخت اپيتيل دی.

- Fungiform papilla

د Filiform papilla په منځ کی قرار لری، دا Papilla نری ساقه او پلنه څوکه ( Thin stalk and broad Tip) لری. او د ژبې له څوکې سره يې تعداد زيات دی ( More in the tip of the tongue) اپيتيل يې نازک دی چې ورلاندې Red capillary net ليدل کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Circumvallate papilla**


ددی تعداد له 10 څخه تر 14 عدده پوری رسیږی. د V- sulcus په مسیر امتداد لری. په دواړو طرفونو کی فرو رفته ناحیی لیدل کیږی چی داخل ته یی (Serous secretion) Ebner's gland افرازات خالی کیږی. په دی Papilla کی د ذایقی Taste buds وجود لری.

- **Foliate papilla**

د ژبی خلفی برخی (Posterior) په دواړو څنډو کی لیدل کیږی.

باید ووایو چی د ژبی خلفی برخه (1/3) د لمفاوی Nodule (Lingual tonsil) له وجی غیری منظمه ده.

ددوی وظیفه داده چی دوی ژبی ته ځیګوالی ورکړی دی او Taste buds پکی موجود دی.




## Taste buds

د ذایقی حس مسؤلیت په غاړه لری.

د هری Papilla څخه لاندی او همدارنګه په Palate او Epiglottis کی هم وجود لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په Taste buds کی دوه ډوله سوری لیدل کیږی:

- **Outer Taste pore**

په شروع کی Microvilli لری، چی مالیکولونه اخلی او Microvilli ته یی لیږدوی.

- **Inner Taste pore**

په داخل کی موقیعت لری او له دری ډوله حجراتو څخه جوړ شوی دی:

- **Supporting cells**


په محیط کی قرار لری او نورو حجراتو ته استناد ورکوی.

- **Neuro Epithelial cells**

په وسط کی قرار لری تعداد یی په Bud کی د 10-14 پوری رسیږی او د Supporting حجراتو په شان Microvilli لری.

- **Basal cells**

په محیط او قاعده کی قرار لری، او د نورو حجراتو د تولید دنده په غاړه لری.



(c) ketabton.com: The Digital Library




# Tastes

- Sweet Tip
- Salty Tip
- Sour margins
- Bitter
- Umami (Amino Acids, Glutamate)

# Teeth

## غاښونه








Figure 14.10 Longitudinal section of a molar.

Practice art labeling
MasteringA&P®>Study Area>Chapter 14

غاښونه یو Hard connective Tissue دی. دا ځکه سخت منضم نسج دی چې د غاښونو په ترکیب کې د کلسیم او فاسفیټ په شکل منرالونه ذخیره شوی دی. دا ځکه ذخیره کیږی چې هلته Hydroxy apetite ماده شامله ده.

99% کلسیم او فاسفیټ په غاښونو کی ذخیره شوی دی.

غاښونه د Ectoderm او Mesoderm څخه منشی اخلی. او په دوه ډوله قوسونو کی چې د maxilla او mandible په هډوکو کی موجود دی قرار لری.

غاښونه په دوه ډوله دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Deciduous teeth (Milk teeth or Primary teeth)**

دغه د شیدو غاښونه دی چې تعداد یې 20 دی چې 10 په پاسنی او 10 په لاندینی ژامه کې واقع دی.

- **Permanent teeth**

دایمی غاښونه دی چې تعداد یې 32 دی، چې 16 یې په پورتنی او 16 یې په لاندینی ژامه کې قرار لری.

## Anatomy Parts of a Tooth

- Crown
- Root
- Neck
- Pulp cavity
- Apical foramen
- Periodontal membrane
- Dentin (Around pulp cavity)
- Enamel (Around crown dentin)
- Cementum (Around root dentine)

## Histologic structure of tooth

د نسجی جوړښت له نظره غاښونه د دوه ډوله انساجو څخه جوړ دی:

- **Hard Tissue**

سخت انساج چې دری برخې پکی شاملی دی:

- Dentine

عاج: دا د هډوکو څخه هم کلک جوړښت لری، چې 72% له غیری عضوی موادو او 28% له عضوی موادو څخه تشکیل شوی. د Pulp په شاوخوا کی د شعایی خطونو په شکل ځای پر ځای شوی دی، چې دا خطونه د Dentinal tubules په نوم یادیږی. او د pulp څخه محیطی برخو ته یی امتداد پیدا کړی دی، او کانالونه جوړوی چې پکی Odontoblast حجراتو Process چې Tomes dentinal fibers نومیږی موجود دی. او ددی Fibers ترمنځ فاصله کی د Collagen fibers په Calcified matrix کی وجود لری، دغه کانالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د Neumann's sheath په واسطه پوښل شوی دی، چې ددې صفحې Collagen کم او کلسیم یې زیات دی. د Matrix هغه برخې چې Calcified شوی نه دی د Inter globular spaces په نوم یادیږي.

د یخنی، ګرمی او د تیزابیت احساس په دې برخه کې د عصب پرځای د Tomes fibers په واسطه ترسره کیږي. د Odontoblast حجرات ټول عمر ژوندی وي، او دوه دندې سرته رسوي:

I: ددې برخې Regeneration ترسره کوي.

II: کلسیم او فاسفیټ ذخیره کوي.

- Enamel

دا یوه کلکه ماده ده چې غاښ یې د بیرون څخه Support کړی دی. دغاښ د Crown په شاوخوا کې قرار لري، او د اپیتیل نسج څخه منشې اخلي. ددې په جوړښت کې 97% معدنی مواد (کلسیم او فاسفیټ) او 3% یې عضوی مواد دي.

په دې برخه کې یوډول خطونه وجود لري چې ورته Line of Retizius ویل کیږي. دغه خطونه په خپل منځ کې سره یوځای کیږي او منشور ډوله ساختمانونه جوړوي چې د Enamel prisms په نوم یادیږي، چې ددې برخې ساختماني واحدونه جوړوي.

ددې منشورونو ترمنځ فاصله کې Inter prismatic substance وجود لري، په دې کې شپږ ضلعی حجری موجودی دي چې د Amyl oblast په نوم یادیږي.

- Cementum

دا د غاښونو ریښی او غاړه پوښوی، او د هډوکو په شان ساختمان لري. ددې 1/3 علوی برخه غیر حجروی او 2/3 سفلی برخه یې د Cementocyte حجراتو په واسطه جوړیږي. چې دغه حجرات د Lacunae او Canaliculi په واسطه سره یو له بل سره رابطه لري.

■ Soft Tissue

د غاښونو نرم انساج هم دری برخې لري:

- Pulp

دا له Mesenchyme څخه منشاء اخلي. او یو ډول منضم نسج دی چې د غاښ په Pulp cavity او Root canal کې موقیعت لري. ستوری شکله حجرات دي، ددې څخه علاوه پکې Plasma cell، Lymphocyte او Macrophage هم لیدل کیږي. ددې بین الحجروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماده یا Intercellular matrix یو Gallatin دی، چې له Collagen او Reticular الیافو څخه ترکیب شوی. د Pulp په محیط کی هم د Odontoblast حجرات لیدل کیږی، خو ددی حجراتو Process د Dentine د برخی په کانالونو کی لیدل کیږی.

- Periodontal membrane


له Dense connective tissue څخه جوړه شوی او د Periosteum یو تغیر خوړلی شکل دی. چې پکی د Collagen الیافو قوی بنډلونه شامل دی.

دا غشاء د Cementum او د ژامی د هډوکو د قوسونو ترمنځ قرار لری. چې په حقیقت کی د غاښونو Suspensor ligament دی.

د Collagen الیافو ترمنځ یی Fibroblast او Osteoblast لیدل کیږی. عصب او رګونه هم ددی غشاء له لاری Pulp ته داخلیږی.


- Gum (Gingiva)

د خولی د جوف مخاطی غشاء ده چې له منضم نسج او Stratified squamous epithelium څخه ترکیب شوی ده. په منضم نسج کی یی Collagen، Capillary او Fibroblast وجود لری. د Capillary زیات تعداد ددی د سور رنګ لامل ګرځی.



(c) ketabton.com: The Digital Library






## Salivary Glands

## لعابیه غداوات

کله چی غذایی مواد خلو نو دغه غداوات خپل تول افرازات خولی ته اچوی او د غذا په نرمولو او هضم کی مرسته کوی. ددی غداواتو افرازات د Saliva یا لعاب په نوم یادیږی چی یوه لزوجه مایع ده. د Saliva په ترکیب کی لاندی شیان وجود لری:

Water, Mucin, Protein, Amino acid, Salts, Maltase, Ptyalin, Amylase, Squamous cell, Lymphocyte, or Granulocyte.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Kinds of Salivary Glands

# د لعابیه غداواتو ډولونه

دوه ډولونه لری:

- **Minor salivary glands**

د ځاځکو په شان غداوات دی خو غیری مشخص شکل لری. دغه ټول په Sub mucosa طبقه کی پراته دی که په شونډو کی وی د Labial glands په Cheeks کی Buccal glands په ژبه کی د Lingual glands په Palate کی د Palatine glands او په Molar غاښونو کی د Molar mucus په نومونو سره یادیږی.

د دغه غداواتو له وجی Xerostomia یعنی د ژبی وچوالی منځ ته راځی.

- **Major salivary glands**

دا غداوت دری دانی دی:

- Parotid glands

د لعابیه غداواتو تر ټولو لویه غده ده. ددی غدی نسجی جوړښت په لاندی ډول سره دی:

### I: Supporting Tissue

د یو Fibrous capsule او د یو Septa څخه جوړه ده.

د Septa په واسطه غده په Lobe او بیا په Lobule ویشل کیږی، د Septa په جوړښت کی Adipose tissue، شحمی حجرات او Capillary شامل دی.

### II: Parenchyma

دی ته Acinus یا افرازوی برخه وایی. دغه برخه د Basal lamina او Myo epithelial په واسطه جوړه شوی ده. دغه برخه د Intercalated duct په واسطه له Striated duct سره یوځای کیږی او Excretory duct جوړوی چی په اخر کی مجموعاً Stensen duct جوړوی. چی د خولی خالیګاه ته تخلیه کوی. دغه Ducts یا قناتونه په لومړی کی د Cuboidal epithelium بیا Columnar epithelium او اخر کی په Keratinized stratified squamous epithelium باندی بدلیږی(پوښل شوی دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Submandibular Glands

د هستولوژیک جوړښت له نظره د Parotid gland په شان د لاندی برخو څخه جوړه شوی ده:

I: Capsule

II: Septa

III: Mixed Acinus د مخلوط افرازوی برخه


یعنی د Parotid gland خلاف یوه Mix غده ده چی Mucus او Serous افرازوی.

دا غده د mandible له هډوکی څخه لاندی موقیعت لری او د Wharton's duct په واسطه د Oral cavity د ژبی له څوکی سره نږدی د خولی په قاعده کی تخلیه کیږی.

- Sub Lingual Glands

دا یوه Mix غده ده یعنی د څو غداواتو مجموعه ده.

نسجی جوړښت یی د Sub mandibular gland سره یوشان دی خو په دی کی Capsule واضح نه دی موجود. ددی هره غده خپل Duct لری او افرازوی مواد یی اکثره Mucus، په کم تعداد Mix او په ډیر کم تعداد سره Serous وی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Palate

## تالو یا کام

په دوه برخو ویشل شوی دی:


- **Hard palate**

اپیتیل یې Stratified squamous epithelium دی. ددې ښځه لاندې Lamina Propria ده چې د منضم نسج ښځه جوړه ده چې لرونکې د غداواتو او Adipose tissue ده. د Lamina Propria ښځه لاندې Periosteum دی.

د ژبې په مرسته د غذایي موادو مخلوط کې مرسته کوي.

- **Soft palate**

دا دوه برخې لرې چې یو یې Nasal side دی کوم چې د Respiratory epithelium په واسطه پوښل شوی دی، او بل یې Oral side دی کوم چې د Stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی دی. ددې اپیتیل ښځه لاندې Lamina Propria ده چې هغه د منضم نسج ښځه جوړه ده چې په دې کې زیات مقدار غداوات شامل دی. په Oral side کې د Uvulas په نوم عضلي ساختمان موجود دی کوم چې د تنفسي او هضمي سیستم په منځ کې پروت دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## Oropharynx

## بلعوم

د Soft palate په Oral side کی موجود دی، چی دا د Stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی دی.

## Digestive Tube

## هضمی قنات

له مرئ څخه تر مقعد پوری ټول ساختمانونه د تیوب شکل لری نو له همدی کبله د Digestive tube په نوم یادیږی.

دغه هضمی قنات له څلورو طبقو څخه جوړ شوی دی:

- **Tunica Mucosa**

دا طبقه یی پخپله له دریو طبقو څخه جوړه ده:

- Epithelium

د هضمی تیوب(مری) په شروع او اخر کی Non keratinized stratified squamous epithelium دی او په نورو برخو (Stomach، Intestines او Appendix) کی Simple columnar epithelium دی.

- Lamina Propria

دا د منضم نسج څخه جوړه ده او Blood capillaries، Lymph elements او ځینی وختونه پکی Glands غداوات هم شامل وی.

- Muscularis mucosa

دوه طبقی لری چی داخلی طبقه یی حلقوی او خارجی یی طولانی ده.

- **Tunica Submucosa**

دا طبقه د Dense connective Tissue څخه جوړه ده، چی زیات تعداد پکی Blood capillaries، Lymphatic capillaries، Nerves او غداوات هم شامل دی. په دی طبقه کی یو Para symphatic عصبی Plexus د Meissner's plexus په نوم وجود لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## Tunica Muscularis

دا د دوه یا د دری عضلی طبقو څخه جوړه ده داخلی طبقه یی Circular الیاف او خارجی طبقه یی Longitudinal یا طولانی الیاف لری. بغیر د مری د علوی 1/3 برخی څخه د هغه عضلات د Striated له نوعی څخه دی او نورو ټولو برخو کی دا عضلات Smooth muscle وی. د دوو عضلی طبقو په منځ کی یو پارا سمپاتیک عصبی Plexus دی چی د Auer Bach's یا Myenteric plexus په نوم یادیږی.

## Tunica Adventitia

په هغو برخو کی چی خارجی طبقه د یو منضم نسج په واسطه د مجاورو اعضاوو سره اړیکه کی وی د Tunica adventitia په نوم او په هغو برخو کی چی د Mesothelium د حجراتو په واسطه پوښل شوی وی د Peritoneum او یا د Serosa د طبقی په نوم یادیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د هضمی تیوب مختلفی برخی په لاندی ډول دی:

## 1: Esophagus

## مری

دا تیوب شکله ساختمان 20cm طول لری چی د Pharynx څخه شروع تر معدی پوری امتداد لری. د نسجی ساختمان له نظره د لاندی طبقو څخه جوړه شوی:

### ■ Tunica Mucosa

په دی طبقه کی لاندی ساختمانونه شامل دی:

- Epithelium

Non keratinized stratified squamous epithelium یکی شامل دی. او دهغی په سطحی حجراتو کی د Kerato hyaline دانی لیدل کیږی خو په مکمل ډول Keratinized نه دی.

- Lamina Propria

یو Loose connective tissue دی چی په هغی کی Lymphatic elements د لمفاوی فولیکل په شکل لیدل کیږی، او همدارنګه یکی Cardiac gland هم شتون لری.

- Muscularis mucosa

د Mucosa او Submucosa طبقی یی په سرحد کی قرار لری، او د Smooth muscle څخه جوړه ده.

### ■ Tunica Submucosa

دا د منضم نسج څخه جوړه ده چی یکی د Collagen او Elastic الیاف لیدل کیږی. او یو تعداد Mucus gland هم په دی طبقه کی وجود لری.

### ■ Tunica Muscularis

د دوه عضلی طبقو څخه جوړه ده، داخلی طبقه یی حلقوی ده او خارجی طبقه یی طولانی یا Longitudinal طبقه ده، چی په علوی Superior برخه کی دا عضلات د Skeletal muscle له نوعی، په Middle یا منځنی برخه کی هم د Skeletal muscle او هم د Smooth muscle له نوعی څخه او په Inferior یا سفلی برخه کی یوازی


(c) ketabton.com: The Digital Library



**Smooth muscle** یا ملساء عضلات لیدل کیږی. ددی طبقی ضخامت د معدی سره د یوځای کیدو په برخه کی زیاتیږی او **Gastroesophageal sphincter** جوړوی.

■ **Tunica Adventitia**

د منضم نسج څخه جوړه ده چی مری د نورو اعضاوو سره وصلوی.




## 2: Stomach

### معده

د هضمی تیوب یوه متوسع برخه ده چی د 2 څخه تر 3 لیترو پوری ظرفیت لری، او د **Gastroesophageal sphincter** یا **Cardiac sphincter** څخه علاوه په خپله سفلی برخه کی **Pyloric Sphincter** لری. او همدارنګه د اناتومیک ساختمان له نظره د **Cardia**، **Fundus**، **Body**، **Pylorus**، **Lesser curvature** او **Greater curvature** څخه جوړه ده. معده د غذایی موادو په تجزیه، هضم او هم د غذایی موادو په قسمی جذب کی برخه اخلی چی ددی موادو هضم او تجزیه د **HCL**، **Pepsin** او **Lipase** په مرسته صورت نیسی.

د نسجی ساختمان له نظره د معدی جدار له لاندی طبقاتو څخه جوړ دی:

■ **Tunica Mucosa**

لاندی ساختمانونه پکی شامل دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Epithelium**

اپیتیل یې Simple columnar Epithelium دی. چې په هرو 3 او 4 ورځو کې جدید کیږی.

- **Lamina Propria**

د منضم نسج څخه جوړه ده، چې په کې Plasma cell، WBC، Reticular fibers او Collagen الیاف شامل دی.

- **Muscularis Mucosa**

د دوه طبقو Smooth muscle څخه جوړه ده.

- **Mucosal Layer**

د معدې مخاطی طبقه د یو تعداد زیاتو غداواتو څخه جوړه شوی ده، چې د دی غداواتو افرازی مواد د معدی په سطح کی د یو تعداد سوریو په واسطه چی د Gastric pits یا Foveola gastric په نامه یادیږی تخلیه کیږی، دا غداوات د معدی په مختلفو برخو کی په مختلفو نومونو یادیږی، چی عبارت دی له:

**I: Cardiac Glands**

تیوب مانندہ ساده او مرکب غداوات دی چی Mucus افرازوی.

**II: Fundic Glands**

د معدی د مهمو غداواتو له جملی څخه دی چی د شکل له نظره دا هم مستقیم د تیوب په شان شکل لری. ددی غداواتو په ترکیب کی مختلف حجرات شامل دی چی انزایمیتیک او غیری انزایمیتیک توکی افرازوی، دغه حجری لکه: Chief cells، Parietal cell، Mucus neck cell، Undifferentiated cells او Enterochromaffin cell

- **Chief Cells**

دا حجرات د Pepsinogen په نوم انزایم جوړوی او په هضم کی رول لری. مکعبی شکل لری او په خپله سطحه کی Microvilli لری، او ددی غدی په لاندی برخه کی قرار لری د Zymogenic cells په نوم هم یادیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Parietal Cells

دغه حجری د معدی HCL او Intrinsic Factors افرازوی، ددی حجرو په منځ کی واړه کانالونه دی چی د Intracellular Canaliculi په نوم یادیږی، دا حجرات د Oxyntic cells په نوم هم یادیږی.

- Mucus Neck Cells

دغه حجری د غدی په غاړو کی پرتی دی او یواځی Mucus یا مخاط افرازوی.

- Undifferentiated cells

دغه حجری په سطحي او غدوي حجرو باندی بدلیږی.

- Enterochromaffin cell

دا حجرات د یو تعداد هورمونونو د تولید سبب ګرځی، ډیر واړه حجرات دی او د Argentaffin cells په نوم هم یادیږی، دا حجرات د APUD( Amino acid (Precursor Uptake and Decarboxylation حجراتو خصوصیات لری، دا حجرات د معدی Serotonin ماده، یو تعداد Endophrin او یو تعداد Gastrin او Glucagon افرازوی.

## III: Pyloric Glands

دا غداوات ساده تیوب مانند یا Branched glands دی، چی اکثره حجرات یی Mucus ماده افرازوی، خو یو کم تعداد Argentaffin cells او Parietal cells هم په دی ناحیه کی لیدل کیږی.

■ Tunica Submucosa

د منضم نسج څخه جوړه شوی چی پکی علاوه د یو تعداد الیافو د منضم نسج یو تعداد حجرات Blood Capillaries او د Meissner Plexus عصبی رشتی لیدل کیږی.

■ Tunica Muscularis

دا عضلات چی Smooth muscle دی، اکثره په دریو طبقو کی لیدل کیږی چی داخلی طبقه یی د Oblique Fibers مایلو الیافو، متوسطه طبقه یی د Circular Fibers یا حلقوی الیافو او خارجی طبقه یی د Longitudinal Fibers یا طولانی الیافو څخه جوړه ده.


■ Tunica Serosa


د Mesothelium حجراتو په واسطه پوښل شوی ده، چی ددی حجراتو لاندی یو Loss connective tissue دی، چی په هغی کی Blood capillaries او Nerves موجود دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معدی د لوی او وړی انحنیّ په برخه کی د **Mesentery** یا **Omentum** په واسطه ادامه پیدا کوی.




| Cell Types | Substance Secreted |
|---|---|
| Mucous neck cell | Mucus (protects lining) |
| | Bicarbonate |
| Parietal cells | Gastric acid (HCl) |
| | Intrinsic factor ($Ca^{++}$ absorption) |
| Enterochromaffin-like cell | Histamine (stimulates acid) |
| Chief cells | Pepsin(ogen) |
| | Gastric lipase |
| D cells | Somatostatin (inhibits acid) |
| G cells | Gastrin (stimulates acid) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 3: Small Intestine

## وړی کولمی

کوچنی کولمی د Pylorus د سوری څخه شروع کیږی او تر Caecum پوری امتداد لری، طول یی 720cm دی او دری برخی لری:

Duodenum او Jejunum ،Ileum

ددی کولمو وظیفه د موادو هضم د ځینی انزایمونو په مرسته دی، د غذایی موادو انتقالول د معدی څخه لویو کولمو ته د وینی او لمف په واسطه د هضم شوی موادو جذب او د یو تعداد هورمونونو افراز دی. ددی جذب د عملیی لپاره د کولمو په سطح کی یو تعداد خصوصیات لیدل کیږی چی په لاندی ډول دی:

- Valve of kerckring or Plica Circularis

دا د Mucosa او Sub mucosa د التواء یا Folds څخه عبارت دی چی د Duodenum څخه شروع او د Ileum په نیمایی کی له منځه ځی.

- Villi and Crypts

دا د Mucosa د طبقی ګوته مانند تبارزات دی چی یواځی د اپیتیل او Lamina Propria په واسطه منځ ته راځی.

Liberkonn glands: دا یو تعداد تیوب مانند فرورفتګی دی چی د Muscularis mucosa پوری رسیږی.

- Microvilli

دا د جذب سطح وسیع کوی او د Striated borders په شکل لیدل کیږی.

د وړو کولمو نسجی جوړښت:

### Tunica Mucosa

په دی طبقه کی لاندی ساختمانونه لیدل کیږی:

- Epithelium

یو Simple columnar epithelium دی، ددی څخه لاندی Lamina Propria طبقه موجوده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی طبقی او ددی اپیتیل ترمنځ یو شمیر حجری دی چی په لاندی ډول دی:

### 1: Absorptive cells

په خپله ازاده سطحه کی میکرویلی لری، چی Striated border جوړوی، په کوچنیو کولمو کی د جذب دنده په غاړه لری، جسامت یی په لویو کولمو د کوچنیو په نسبت زیات دی.

### 2: Undifferentiated cells

دا حجرات د غدی یا Crypt په Base کی قرار لری او د Villi په قسمت کی په Absorptive cells باندی بدلیږی.

### 3: Paneth cells

دا حجرات هم د Crypt په قاعده کی قرار لری او یو تعداد پروتینی مواد لکه: Peptidase افرازوی.

### 4: Mucus Goblet cells

د Absorptive cells په فاصلو کی موقیعت لری او د Mucus په نوم ماده افرازوی.

### 5: Oligo mucus cells

دا هم د Crypt په Base یا قاعده کی قرار لری چی په ابتداییه کی د کم Mucus درلودونکی وی خو په اخر کی په Goblet cells باندی بدلیږی.

### 6: Endocrine cells or Enterochromaffin cells

دا حجرات هم په Crypt او هم په Villi کی موجود دی. د Receptor وظیفه په غاړه لری، د یو تعداد انزایمونو په افراز کی رول لری لکه: Secretin، Norepinephrine، Gastrin، Serotonin او Cholecystokinin

### 7: Caveolated cells


ددی حجراتو تعداد کم په خپله ازاده سطح کی ضخیم یا Thick microvilli لری، ددی حجراتو وظیفه نشته خو کیدای شی چی د Chemoreceptors په شکل کار وکړی.

### 8: Migrating cells

د Lymphocytes او Leucocytes څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا تولی حجری په غټو کولمو هم شته خو په کوچنیو کولمو کی د جذب او هضم وظیفه په غاړه لری خو په غټو کولمو کی د ددی حجراتو په واسطه د مایعاتو جذب صورت نیسی.




- **Lamina Propria**

د یو Loose connective tissue څخه جوړه ده، چی په دی منضم نسج کی Reticular fibers، Blood vessels، Lymphatic vessels، Lymphocytes، Smooth muscles او یو تعداد Lymphatic nodules وجود لری. دغه لمفاوی نودولونه د کتلو په شکل د Peyer's patches په نوم لیدل کیږی.

- **Muscularis mucosa**

دا د Smooth muscle څخه جوړه شوی ده.

## Tunica Submucosa

د منضم نسج څخه جوړه ده، د Duodenum په برخه کی په دی طبقه کی یو تعداد غداوات موجود دی چی د Bruckner's glands په نوم یادیږی چی Mucus افرازوی. کولمو ته Tonicity ورکوی یعنی د کولمو په استدراری حرکاتو کی رول لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## Tunica Muscularis

دا طبقه د **Oblique muscle**، **Longitudinal muscle** او **Circular muscle** څخه جوړه ده.

## Tunica Serosa (Tunica Adventitia)

دا د منضم نسج څخه او د **Mesothelium** حجراتو څخه جوړه ده.




(c) ketabton.com: The Digital Library



# 4: Large Intestine

## غټې کولمې

غټې کولمې چې طول یې 180cm دی او د Caecum ،Appendix ،Colon ،Rectum او Anal canal برخې پکې شاملې دي.




## نسجي جوړښت:

- **Mucosa**

د لاندې ساختمانونو څخه جوړه ده.

- **Epithelium**

د Simple columnar epithelium له نوعې څخه دی.

لوی کولمې Crypt او Villi نه لري خو د Goblet cells تعداد پکې ډیر دی، د لویو کولمو وظیفه د ابو جذب دی ددی څخه علاوه یو تعداد Mucus secretion هم تولیدوی،خو د لویو کولمو په واسطه هیڅ ډول انزایم نه افرازیږي، Paneth cells په لویو کولمو کې وجود نلري، د اندوکراین حجراتو تعداد یې په نسبت کوچنیو کولمو ته کم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- Lamina Propria

دا طبقه یی د منضم نسج څخه جوړه شوی ده، چې پکی یو تعداد Lymph nodules لیدل کیږی.

- Muscularis mucosa

دا یی یوه ضخیمه Thick طبقه ده او په ځینو ځایونو کی یی Lymph nodules لیدل کیږی.

■ Sub mucosa

دا طبقه یی د منضم نسج څخه جوړه ده.

■ Muscularis

عضلی طبقه یی د دوه طبقو څخه جوړه ده چې داخلی طبقه یی Circular یا حلقوی الیاف لری او خارجی طبقه یی طولانی یا Longitudinal الیاف لری. خو په Rectum او Colon کی د خارجی طبقی الیاف د دریو صفحو په شکل وجود لری چې ورته Tenea coli ویل کیږی.

■ Serosa

د یو تعداد شحمی کتلو Adipose tissue درلودونکی ده، چې د Appendix Epiploica په نوم یادیږی.

## Appendix

د Caecum یوه وړوکی اضافی برخه ده چې 2,5cm طول لری.

### نسجی ساختمان یی په لاندی ډول دی:

■ Mucosa

د لاندی جوړښتونو درلودونکی ده:

- Epithelium

اپیتیل یی Simple columnar دی، چې ورسره Microvilli موجودی دی، Villi نلری، په کم تعداد سره د Paneth cells هم لری، خو د اندکراین حجراتو تعداد یی زیات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Lamina Propria

دا طبقه یی د منضم نسج څخه جوړه شوی ده چی پکی په زیات تعداد Lymph nodules شامل دی.

- Muscularis mucosa

د لمفاوی Nodules د موجودیت په اساس اکثره غیری واضح ده.

- Sub mucosa

د منضم نسج څخه جوړه شوی ده او په هغی کی Blood capillaries او Nerves لیدل کیږی.

- Muscularis

نازکه طبقه ده، چی د دوو طبقو څخه جوړه شوی ده، داخلی طبقه یی د حلقوی الیافو او خارجی طبقه یی د Longitudinal یا طولانی الیافو لرونکی ده.

- Serosa

د کولمو د نورو برخو په شان د Mesothelium او منضم نسج څخه جوړه ده.

په Appendix کی یو ډول خاص غداوات لیدل کیږی چی Mucus glands ورته وایی ادا غداوات د Mucus په نوم ماده افرازوی.

په لنډ ډول که ووایو چی Appendix د غټو کولمو د څلورو طبقو سره یوشان څلور طبقی لری خو ددی قطر کم دی.

په ځانګړی ډول پکی lymphatic nodules د Mucosa په داخل کی پیداکیږی چی ادا lymph nodules بیا Sub mucosa ته غزول کیږی.

## Rectal Anal Junction

Rectum او Anal canal د غټو کولمو ورستنی برخی دی. چی د Simple columnar epithelium په واسطه پوښل شوی، او د Goblet cells او په ګڼ شمیر غداوات په Anal canal کی موجود دی.

په Anal canal کی دغه Simple columnar epithelium په Stratified columnar or Cuboidal باندی بدلیږی او بلاخره په Stratified squamous epithelium باندی بدلیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نسجی جوړښت یې په لاندې ډول دی:

- **Mucosa**

لاندې جوړښتونه لري:

- **Epithelium**

په لومړیو برخو کې Stratified squamous epithelium دی خو په نهایتونو کې بیا په Keratinized stratified squamous epithelium باندې بدلیږي، د غداواتو طول یې کم دی او د Anus په برخه کې له منځه ځي، په Rectum کې مخاطي طبقه یو تعداد طولاني التواات Folds تشکیلوي چې د Rectal columns of Morgagni په نوم یادیږي.

- **Sub mucosa**

په دې کې یو تعداد طولاني وریدونه وجود لري چې د هغې جدار نازک دی او کله چې متوسع شي یو پیچیده ساختمان منځ ته راوړي او د مخاطي طبقې د برجستګۍ سبب ګرځي چې دا حالت د Piles یا Hemorrhoids په نوم یادیږي.

- **Tunica Muscularis**

دا د کولمو د نورو برخو په شان ده خو د Rectum په سفلي برخه کې د اخلي عضلي طبقې ضخامت زیاتیږي او Internal anal sphincter جوړوي او د مخططو عضلاتو هغه ګروپ چې د مقعد د مجرا په شاوخوا کې قرار لري د External anal sphincter په نوم یادیږي.

**:Morgagni column**

دا د غایطه موادو په خارجولو کې مرسته کوي چې څومره مقعد ازادیږي اجازه ورکوي، او په ازادانه ډول غایطه مواد خارج شي.

# د هضمي جهاز اصلي غداوات


# Pancreas

# پانکراس

دا یوه Mix غده ده یعنې هم د Endocrine او هم د Exocrine افرازات لري، چې د یو Loose connective tissue په واسطه پوښل شوې ده، چې دهغه څخه یو تعداد نازکه پردې منشاء اخلي او غده په Lobules باندې ویشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د نسجی ساختمان له نظره په دوه برخو کی مطالعه کیږی:

### Exocrine pancreas

یو Tubulo-Alveolar Compound غده ده، چی د یو تعداد Acini یا Alveolus څخه جوړه شوی، هر Acinus د یوه تیوب مانندہ ساختمان چی د 8-5 پوری اهرامی حجری لری جوړی شوی دی. ددی حجراتو په محیط کی Myoepithelial وجود نلری. او د یو نازک منضم نسج په واسطه احاطه شوی دی، چی په منضم نسج کی د وینی او Lymph capillaries، Nerves او Secretory ducts قرار لری.

کله چی دا د وړو کولمو د Duodenum برخو ته افرازات اچوی په دوه برخو ویشل کیږی چی یو ته یی Tubular part وایی او بل یی Acinar part دی. Acinar part د Acinar cells څخه جوړ شوی چی دا یو ډول انگور مانندہ حجرات دی دا په خپل سایتوپلازم کی دانی لری چی هغی ته Zymogen granules ویل کیږی، دا په مختلفو حجراتو کی په مختلفو شکلونو سره لیدل کیږی، د پانکراس ټول افرازات د همدی دانو په واسطه کیږی.

Acinar cells د Proteolytic انزایمونو لکه: Trypsin او Chymotrypsin چی پروتینی مواد، Carboxypeptidaseچی Peptide مواد، Amylase چی نشایسته او

(c) ketabton.com: The Digital Library




کاربوهایدریت او Lipase چی شحمی مواد په ترای ګلسراید او شحمی اسیدونو باندی تجزیه کوی تولیدوی.

## Excretory Ducts of Pancreas

- Centro acinar duct
- Intercalated duct
- Inter lobular duct
- Intra lobular duct
- Main duct

د Main duct په واسطه تولیدی مواد د Duodenum په دویمه قطعه کی تخلیه کیږی، په ابتدایه کی یی اپیتیل Squamous وروسته Cuboidal او په اخره کی د Columnar شکل غوره کوی.




■ **Endocrine pancreas**

چی د Langerhans islets په نوم هم یادیږی.

د پانکراس په وسطی برخه کی پرتی دی، او خپل افرازات په مستقیم ډول د وینی دوران ته اچوی، په دی کی د شعریه عروقو تعداد زیات او په اطرافو کی یی Reticular fibers موجود دی.

### د لاندی حجراتو درلودونکی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- **Alpha cells**

د حجراتو 20% برخه جوړوی، او د Glucagon هورمون افرازوی، دا هورمون د Hypoglycemia په مقابله کی فعالیږی یعنی کله چی ګلوکوز په وینه کی د 80mg/dl څخه کم شی نو همدغه حجری Glucagon افرازوی. دا هورمون د ځیګر څخه د ګلوکوز د ازادیدو سبب ګرځی، او په نتیجه کی د وینی ګلوکوز زیاتیږی، دا حجری په محیط کی قرار لری.

- **Beta cells**

د حجراتو 66-80% تشکیلوی. او د انسولین هورمون افرازوی، دغه حجرات د زیات Capillaries په واسطه احاطه شوی دی او خپل افرازات د همدی لاری وینی ته اچوی، چی کله په وجود کی Hyperglycemia صورت ونیسی یعنی د ګلوکوز اندازه په وینه کی د 110mg/dl څخه لوړه شی، نو انسولین افرازیږی او د ګلوکوز اندازه کموی. ددی حجراتو په سطحه باندی د ګلوکوز د معلومولو لپاره زیات Receptors موجود دی.

- **Delta cells**

د حجراتو په محیط کی د الفاء د حجراتو ترمنځ موقیعت لری، او د حجراتو 4% برخه تشکیلوی، دا حجرات د Somatostatin هورمون افرازوی. دی ته د Growth hormone هم وایی او د دوی تاثیر د هډوکو په epiphysis باندی وی، دا حجرات چی څه وخت خپله وظیفه ترسره نه کړی او کم افراز شی یوه ناروغی منځته راوړی چی Dwarfism نومیږی، کله چی Metaphase مخکی له وخت تړل شوی وی یعنی د داسی اشخاصو قد به د نارمل عمر د قد څخه کم وی او که چیری له حده زیات تنبه شی Gigantism منځته راوړی یعنی هغه اشخاص چی د نارمل عمر د قد څخه زیات قد ولری ددی سنډروم سبب ګرځی.

- **C- Cells**

یو تعداد کمرنګ حجرات دی چی دا په مرکز کی د بیتا د حجراتو ترمنځ قرار لری. وظیفه یی په درست ډول نه ده معلومه خو کیدای شی یوه ذخیروی حجره او یا د استراحت په حال کی حجره وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Liver (Hepar)

# ځيګر

## Function:

- Hemopoisis in embryonic period
- Detoxification
- Glycogen lysis
- Proteins production
- Bile production

## Liver Circulation

په بدن کی یواځینی Circulation دی چی Dual circulation لری.

1: Abdominal aorta له ورو کولمو څخه ځی بیا وروسته د Portal vein په واسطه له ځیګر سره یوځای کیږی، د کوچنیو کولمو 70% جذب شوی مواد د Portal vein له لاری ځیګر ته ځی. په Portal vein کی 30% اکسیجن لرونکی وینه ده، او پاتی 70% پکی ناپاکه یا Deoxygenated blood دی.

2: د ځیګر بل Circulation د Hepatic aorta په واسطه منځ ته راځی کوم چی له Thoracic aorta څخه منشاء اخلی، په Hepatic artery کی 30% وینه ناپاکه او باقی 70% وینه پکی پاکه ده.

## Histology of the liver

د ځیګر نسجی جوړښت له Stroma او Parenchyma څخه جوړ شوی دی:

- Stroma

ځیګر د بیرون څخه د یو Capsule په واسطه احاطه شوی کوم چی د منضم نسج څخه جوړ شوی دی د Capsule of Glisson په نوم یادیږی.

دغه کپسول یا د ځیګر داخل ته ننوځی او په یو Septa باندی ویشل کیږی چی ورسره ځیګر هم په زیاتو لوبونو Lobes باندی ویشل کیږی، او هر لوب وروسته په نورو تقسیمیږی، په ورو برخو چی هغی ته Lobule وایی. دا لوبولونه د سریِ د لاری ځیګر ته داخل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



Portal area د منضم نسج سره وصلیږی. دا منضم نسج د Collagen fibers او د Fibroblast ځخه جوړ شوی دی.

- Parenchyma

## Classic Lobule

Classic lobule شپږ ضلعی Hexagonal شکل لری او د ځیګر وظیفوی واحد شمیر کیږی.

د یو Classic lobule هری ضلعی ته لاندی رګونه راغلی دی:

- Hepatic artery
- Portal vein
- Bile duct

چی دی دری واړو ته Portal Triade وایی.

که چیرته ورسره Lymphatic duct هم یوځای شی نو بیا ورته Portal Tetra ide وایی.

د Classic lobule له هری ضلعی ځخه د Lobule داخل ته واړه رګونه تللی دی چی د Sinusoids په نوم یادیږی. شپږ واړه Sinusoids د Lobule په مرکز کی له Central vein سره یوځای کیږی. Sinusoids هغه رګونه دی چی پکی د Hepatic artery او Portal vein وینه سره Mix یا یوځای کیږی، د Sinusoids ترمنځ زیات شمیر حجرات پراته دی چی ورته Hepatocyte ویل کیږی. د Hepatocyte او Sinusoids ترمنځ فاصله موجوده ده چی ورته Perisinosoidal space یا Disse space وایی.

د Perisinosoidal space په داخل کی لاندی حجری شاملی دی:

- Endothelial cells
- Kuffer cells

چی دا حجرات د Macrophage وظیفه سرته رسوی.

ډیر Lobules د Central vein سره یوځای کیږی او Interlobular vein جوړوی بیا ډیر Inter lobular vein سره یوځای کیږی او یو غټ Vein د Lobar vein په نوم جوړوی.

ډیر شمیر Lobar vein سره یوځای کیږی او یو غټ ورید جوړوی چی ورته Hepatic vein ویل کیږی، او دا بیا په Inferior vena cava کی تخلیه کیږی.


(c) ketabton.com: The Digital Library




که چیرته **Liver** کی دری دانی **Classic lobule** څنګ په څنګ وی نو دغه دری واړه **Sinous vein** یو مثلث په شکل ښکاری چی ورته **Portal lobule** وایی.

که چیرته **Liver** کی دوه دانی **Classic lobule** څنګ په څنګ وی د مایکروسکوپ په ذریعه نو **Sinuos vein** به یی په دایروی شکل ښکاری.

**Hepatic acinus: Functional unit of the liver.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Bile Excretory Ducts

## Intra Hepatic duct

د دوه Hepatocyte حجراتو ترمنځ یو وړوکی کانال موجود دی چې د Bile canaliculi په نوم یادیږی، او که دوه دانې Bile canaliculi سره یوځای شی نو هغی ته Canal of hering وایی، Canal of hering سره یوځای کیږی او یو وړوکی Duct جوړوی چې هغی ته Bile ductoli وایی، او ټول Bile ductoli سره یوځای کیږی او یو غټ Duct جوړوی چې هغی ته Bile duct وایی. یعنی هر یو Sinusoid په څنګ کی یو Bile duct راوتلی دی.

## Extra Hepatic duct

او په مجموع کی ټول Liver ته دوه Duct راوځی چې یوته Right hepatic duct او بل ته Left hepatic duct وایی، دا د ځیګر په داخل کی سره یوځای کیږی او Common hepatic duct جوړوی، او بیا Extra hepatic duct جوړوی چې د ځګر څخه بهر راوځی. او دغه برخه لږه متوسع کیږی او Cystic duct جوړوی، او دا بیا لږه نوره متوسع کیږی او Gallbladder جوړوی چې دی ته Common bile duct وایی کوم چې کولمو ته تللی دی.

# Gallbladder

د Common bile duct یوه متوسع برخه ده چې د Cystic duct په واسطه د هغه سره ارتباط لری، 8cm طول، 4cm قطر لری او 50ml د اتساع قابلیت یا ظرفیت لری.

### نسجی ساختمان یی له دریو طبقو څخه جوړ شوی دی:

- **Tunica mucosa**

د لاندی جوړښتونو څخه مشتمله ده:

- Epithelium

د Simple columnar epithelium له نوعی څخه دی او په خپله سطحه کی Microvilli لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Lamina Propria**

دا د منضم نسج څخه جوړه شوی ده او په کافی اندازه پکی Blood capillaries، Lymphocytes او Mucus glands لیدل کیږی.


د Tunica submucosa یا Muscularis mucosa طبقه پکی وجود نلری.

## Tunica Muscularis

دا طبقه یی د Smooth muscle غیری منظمو الیافو څخه جوړه شوی چی پکی د Collagen او Elastic الیاف لیدل کیږی.

## Tunica Serosa (Adventitia)

دا طبقه یی د منضم نسج څخه جوړه ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپاړسم فصل

## Integumentary system پوښونکی سیستم

### Integumentary system

### پوښونکی سیستم

دا سیستم په دوه برخو ویشل شوی دی:

- **Skin پوستکی**

  Function of Skin

  - Protection
  - Barrier function

    دا یو مانعه دی یعنی داخلی موادو ته اجازه نه ورکوی چی بهر ته لاړ شی او خارجی موادو ته اجازه نه ورکوی چی داخل ته لاړ شی.
  - Defense
  - Homeostasis
  - Reception


- **Derivities of Skin د پوستکی مشتقات**
  - Nails
  - Hairs
  - Sweat glands
  - Sebaceous glands

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Skin Structure

## د پوستکی ساختمان




پوستکی د 0,4-4mm پوری قطر لری.

د طبقاتو له نظره پوستکی له دوه طبقو څخه جوړ دی:

- **Epidermis (Cutis)**

دا طبقه د Ectoderm څخه منشاء اخلی.

- **Dermis (Sub cutis)**

دا د Mesoderm څخه منشاء اخلی.

د Dermis د طبقی څخه لاندی یوه بله طبقه ده چی د hypodermis په نوم یا Subcutaneous tissue او یا هم د Adipose tissue layer په نوم یادیږی.

د hypodermis وظیفی:

- Derm او Epiderm په حرکت کی رول لری، ځکه په هغه کی Adipose tissue شامل دی.
- Derm او Epiderm ته غذایی مواد، عصب، شریان او ورید انتقالوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Derm او Epiderm د ځلورو مهمو حجراتو لرونکی دی:

- Keratinocyte

چی دا حجرات د Ectoderm څخه منشاء اخلی، د Keratin په تولید کی رول لری یعنی Keratohyaline granules جوړوی.

- Melanocyte

دا Melanin جوړوی او د Neural crest څخه منشاء اخلی، د بدن تور رنګ په جوړیدو کی رول لری او د MSH هورمون تر تاثیر لاندی دی.

- Langerhans cell

د Phagocytosis وظیفه سرته رسوی نو د پوستکی Macrophage هم ورته وایی.

- Markel cell

د ګوتو د قوسونو په جوړیدو کی او همدارنګه په حس کی هم رول لری.

# Epiderm

دا طبقه له داخل څخه خارج ته په ترتیب سره په پنځو طبقو ویشل شوی ده:

- Stratum germination

لاندینی طبقه ده چی یو شمیر حجرات پکی موجود دی چی هغی ته Germinal cells وایی، دغه حجرات د Regeneration سبب ګرځی. څرنګه چی دغه حجرات په لاندی قاعده کی دی نو په همدی خاطر ورته Basal cells هم وایی. دا اصلاً Columnar cells دی او د

Hem desmosome په واسطه سره وصل دی، نو په همدی خاطر ورته Germinal layer یا Stratum germination هم ویل کیږی.

- Prickle cell layer یا Stratum spinosum

دا د څو طبقو څخه جوړه شوی ده، په دی طبقه کی د basal cells تعداد کم دی او په ډیره اندازه پکی Langerhans cell چی د Skin مکروفاژ Macrophage هم ورته وایی او د Melanocyte حجرات هم پکی لیدل کیږی.

دی دواړو طبقو ته په یوځای د Malpighian layer هم ویلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Stratum Granulosum ■


د 3 یا 4 طبقو څخه جوړه شوی ده، نسبتآ هموار حجرات دی چی په سایتوپلازم کی یی Keratohyaline granule لیدل کیږی، دی ته Granular layer هم ویل کیږی.

## Stratum Lucidum ■

دا یوه شفافه طبقه ده چی د حجراتو په سایتوپلازم کی یی یو نیمه مایع ماده چی Keratohyaline نومیږی موجوده ده، چی دا مایع د Keratohyaline granules څخه منشاء اخلی.

## Stratum Cornium ■

په دی طبقه کی د Keratinocyte حجرات لیدل کیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


# Skin Color

# د پوستکی رنګ

د پوستکی رنګ په دریو عواملو پوری اړه لری:

- Carotin

د پوستکی رنګ د Carotin د دانو له کبله Yellow یا ژیړ دی.

- Dermal capillaries

د پوستکی د Capillary په واسطه د پوستکی رنګ سور یا Red دی.

- Melanin

د میلانین رنګه دانی چی د پوستکی د Brown یا نصواری رنګ سبب کیږی.


## Diagram of the epidermis and electron micrograph of a melanocyte

a. This diagram shows a melanocyte interacting with several cells of the stratum basal and the stratum spinosum. The melanocyte has long dendritic processes that contain accumulated melanosomes and extend between the cells of the epidermis, which are also visible on the electron micrograph. The Langerhans' cell is a dendritic cell often confused with a melanocyte but is actually part of the mononuclear phagocytic system
and functions as an antigen-presenting cell of the immune system in the initiation of cutaneous hypersensitivity reactions (contact allergic dermatitis).

b. The melanocyte reveals several processes extending between neighboring keratinocytes. The small dark bodies are melanosomes

(c) ketabton.com: The Digital Library






# Dermis

دا طبقه چې د Irregular dense connective tissue څخه جوړه شوی ده، د اپیتل لاندی Lamina Propria قرار لری، ددی طبقی ضخامت د 0,5-3mm پوری دی. او د دوه طبقو څخه جوړه ده:

- Papillary layer

په دی کی یو تعداد راوتلی ساختمانونه دی چې Papilla ورته وایی. چې پکی Tactile papilla، Vascular papilla شامل دی، په دی طبقه کی د Collagen، Elastic او Reticular fibers یوه نازکه شبکه وجود لری.

- Reticular Layer

دا طبقه د Collagen bundles او یو تعداد کمو Elastic او Reticular fibers څخه جوړه ده، اکثره Collagen الیاف د پوستکی د سطحی سره موازی قرار لری او د Langer's lines په نوم یادیږی. پدی طبقه کی Fibroblast، Macrophage او Adipocyte هم لیدل کیږی، په دی طبقه کی یو تعداد رنګه حجرات هم وجود لری چې د Chromophore cell په نوم یادیږی.

ددی طبقی لاندی برخه د Hypoderm دسطحی سره په تماس کی لاندی شیان وجود لری:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Arrector pili Muscle

دغه عضلات د ویښتانو په حرکاتو کی رول لری خصوصآ د ویری په حالت کی.




- Hair follicles
- Sweat glands
- Sebaceous glands

Papillary Dermis

Reticular Dermis

## Light Micrograph of the Two Regions of the Dermis

The Dermal Papillae Are Extensions of the Superficial Papillary Layer, Which Consists of Areolar Connective Tissue. The Deeper Reticular Layer Is Dense Irregular Fibrous Connective Tissue.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## Hypodermis or Subcutaneous layer

د Hypodermis طبقه د پوستکی لاندی موجوده ده چی یوائی د Loss connective tissue او Adipose tissue څخه جوړه ده. Fat lobules سره یوځای کیږی او Panniculus adiposus جوړوی، ددی طبقی صخامت د Abdomen په پوستکی کی 3cm ته رسیږی. د بدن په ځینو برخو کی لکه: Palpebra, penis او Scrotum کی ادا طبقه وجود نه لری.

## Derivities of Skin

## د پوستکی مشتقات

## Nails

## نوکان

دا یو Hard keratin palate دی، چی د لاسونو او پښو د ګوتو په نهایتونو کی قرار لری. نوکان په یو میزابه مانندہ ساختمان کی چی د Nail groove په نوم یادیږی قرار لری. ددی میزابی د Epiderm د حجراتو د تکثر په نتیجه کی Nail matrix جوړیږی. چی وروسته بیا ددی Matrix څخه Nail palate په وجود راځی، هغه Epiderm چی ددی Palate څخه لاندی قرار لری د Nail bed په نوم یادیږی، د Nail bed اپیدرم په Distal نهایت کی د ګوتی د څوکی د Epiderm سره وصل کیږی چی د یوځای کیدو ځای ته یی Hyponychium وایی.

نوک دوه برخی لری:

- Nail root
- Nail tip (Apex)

د نوکانو Root په یو هلالی شکله ناحیه کی چی Lanule نومیږی د نوکانو د جسم سره وصلیږی. او هغه Epiderm چی د نوکانو د ازادی سطحی د پاسه قرار لری د Eponychium یا Cuticle په نوم یادیږی، د نوکانو نشو نما په یوه هفته کی تقریبآ 0,5mm ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library








Figure 4.10 Structure of a nail.




## Hairs

## ویښتان

ویښتان د Epiderm څخه منشاء اخلی.

د ویښتانو طول د 1mm څخه تر 1,5m پوری رسیدلی شی. او ضخامت یې د 0,05mm-0,5mm پوری دی. د Keratin fibers پکی شامل دی، ویښتان په استثنی د لاسونو په ورغوو او د پښو د تلی تقریباً د بدن په ټول پوستکی کی وجود لری.

ویښتان په دوه ډوله دی:

- Lunago Hair

دا ویښتان زیات نه غتیږی لکه د وریزو ویښتان

- Permanent hair

دا ویښتان زیات غتیدلی شی لکه د سر ویښتان

## Structure of Hair

ویښتان د دریو Concentric epidermic طبقو څخه جوړ شوی دی:

- Hair Medulla

د ویښتو مرکزی محور دی، چې د 2 یا 3 طبقو Cuboidal cells څخه جوړ شوی دی، دا حجرات د Melanin granules لری او Keratin یې Soft یا نرم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




■ **Hair Cortex**

د ویښتانو اساسی برخه ده، چی د څو طبقو Spindle cells څخه جوړه شوی ده، د حجراتو Keratin یی Hard یا سخت دی او په کافی اندازه د Melanin granules لری.

■ **Hair Cuticle**

په دی کی Keratin داره حجرات دی او دی حجراتو خپلی هستی د لاسه ورکړی دی یعنی هستی نه لری.

هر ویښته یو Free یا ازاده برخه لری چی د Hair shaft په نوم یادیږی او ریښی یا Root لری کوم چی د پوستکی په داخل کی قرار لری. د ویښتانو د Root د برخی په شاوخوا کی یو تیوب مانندہ ساختمان وجود لری چی د Hair follicle په نوم یادیږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## Hair Follicle

دا یو تیوب مانند ساختمان دی چی د ویښته د Root په شاوخوا کی قرار لری، چی لاندی برخه یی لږه متوسع ده چی د Hair pulp په نوم یادیږی، چی په دی برخو کی د ویښته Root او پوښونه په ابتدایی حجراتو یا Hair matrix باندی بدلیږی. او د هغه په قاعده کی یوه فرورفتګی ده چی د Hair papilla په نوم یادیږی، چی په هغی کی Connective tissue، Blood vessels او Nerves شامل دی. د ویښتانو د هر فولیکل سره یو یا څو Sebaceous glands او یو Smooth muscle چی د Acrrector pili په نوم یادیږی وجود لری.

## Hair Follicle Histology

د نسجی ساختمان له نظره Hair follicle د لاندی عناصرو په واسطه پوښل شوی دی:

- **Dermal Root Sheet**

دا د Connective tissue څخه جوړ شوی دی او د پوستکی د Derm د طبقی څخه منشاء اخلی او دری طبقی لری:

- External layer

د Collagen Bundles څخه جوړ شوی او د Reticular layer of derm سره مطابقت لری.

- Middle Layer

په دی طبقه کی د منضم نسج الیاف د Circular رشتو په شکل قرار لری او د Papillary layer of derm سره مطابقت لری.

- Internal layer

یوه شفافه طبقه ده چی د Epiderm د قاعدوی غشاء سره مطابقت لری او د Glassy membrane په نوم یادیږی.

- **Epithelial Root Sheet**

دا هم د Epiderm څخه منشاء اخلی او دری طبقی لری:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- External root sheet

د Glassy membrane سره مستقیماً ارتباط لری، خو داخلی برخی حجرات یی څو ضلعی او د Epiderm د Stratum spinosum سره مشابه دی.

- Internal root sheet

یو Keratin داره طبقه ده چی ددی پوښ حجرات د Keratohyaline مواد لری. په دی کی دری طبقی نوری موجودی دی:

I: Henle layer

د یو طبقی هموارو حجراتو څخه جوړه شوی ده.

II: Huxley's layer

د څو طبقو اوږدو حجراتو څخه جوړه شوی ده. چی د حجراتو په سایتوپلازم کی یی Trichohyaline granule او یو تعداد Tono fibrils هم لیدل کیږی.

III: Cuticle


د یوی طبقی شفافو Keratin دارو حجراتو څخه جوړ شوی دی.

## The hair follicle is divided into three segments

- The infundibulum extends from the surface opening of the follicle to the level of the opening of its sebaceous gland. The infundibulum is a part of the pilo sebaceous canal, which is used as a route for the discharge of the oily substance sebum.
- The isthmus extends from the infundibulum to the level of insertion of the Arrector pili muscle.
- The inferior segment in the growing follicle is of nearly uniform diameter except at its base, where it expands to form the bulb. The base of the bulb is invigilated by a tuft of vascularized loose connective tissue called, not surprisingly, a dermal papilla.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د ویښتانو نشو نما

د ویښتانو نشو نما د Hair matrix cells د ویش په واسطه صورت نیسی، د ویښتانو نشو نما دوره په مختلفو ویښتو کی فرق لری مثلآ: د سر ویښتانو Head hairs دوره د 2-4 کلنی پوری وی خو د Eye lashes یا د بانه ویښتو نشو نما دوره 3-4 میاشتو پوری ده.

## Sebaceous Glands

یو تعداد Alveolar glands دی، چی د هغوی مجرا اکثره په Hair follicle کی تخلیه او په هغه نواحیو کی چی د Hair follicle سره ارتباط نه لری مستقیمآ د پوستکی په سطحه تخلیه کیږی، چی مثال یی Glans penis او Tarsal glands دی. دغه غداوات د لاسونو په ورغوو کی او د پښو د تلی په پوستکی کی وجود نلری. دغدی مجرا یا Ducts هم دیوه Stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی دی.

Sebum چی یوه غوړه ماده ده په ترکیب کی یی Cholesterol ، Phospholipids او Triglycerides شامل دی.

د الویول د افرازاتو تخلیه د M Arrector pili د تقلص او د لاندینی حجراتو د فشار په اثر صورت نیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Sweat Glands

یو تعداد Coiled tubular glands دی چی د غدی افرازی برخی د Derm په طبقه کی او Excretory part یی د یوی کوچنی مجرا په واسطه د پوستکی په سطح کی تخلیه کیږی. د بدن ټولو برخو په پوستکی کی موجود دی خو په Nail bed، Transional lips او Glans penis کی نشته. خو د لاسونو د ورغوو او د پښو په تلیو کی په زیاته اندازه لیدل کیږی. د غدی افرازی برخه د Cuboidal cells او Columnar cells څخه جوړه شوی ده چی معمولاً دری حجرات پکی لیدل کیږی:

- Principle cells (Clear cells)
- Mucus Producing cells (Dark cells)
- Myoepithelial cells (Spindle shape)

## Sweat Glands

Sweat glands are classified on the bases of their structure and the nature of their secretion.

Two types of sweat glands are recognized:

• *Eccrine sweat glands*

Eccrine sweat glands are simple coiled glands that regulate body temperature. Eccrine sweat glands are distributed over the entire body surface except for the lips and part of the external genitalia.

• *Apocrine sweat glands*

Apocrine glands are large-lumen tubular glands associated with hair follicles. The secretory portion of apocrine glands has a wider lumen than that of eccrine glands and is composed of a single cell type. Apocrine sweat glands are limited to the axilla, areola, and nipple of the mammary gland; skin around the anus; and the external genitalia. The ceruminous glands of the external acoustic meatus canal and the apocrine glands of eyelashes (glands of Moll) are also apocrine-type glands.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Kinds of Sweat Glands

- **Eccrine Physiology Relating to or Denoting Multicellular Glands Which Do Not Lose Cytoplasm in Their Secretions, Especially The Sweat Glands On the Hands and Feet.**
- **Merocrine (Producing A Secretion That Is Discharged Without Major Damage to The Secretory Cells)**
- **Apocrine (راس دحجرې له منځه ځي): Relating to or Denoting Glands Which Release Some Cytoplasm in Their Secretions, Especially Sweat Glands in The Armpits and Pubic Regions.**

- **Axilla**
- **Anus**
- **Breast Area**

**The Secretory Portion Of Apocrine Glands Has A Wider Lumen Than That Of Exocrine Glands And Is Composed Of A Single Cell Type.**


(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوولسم فصل

# Urinary system بولی سیستم

## Urinary system

## بولی سیستم




دا یو حیاتی سیستم دی چی له څلور غړو څخه جوړ شوی دی:

- Kidney پښتورګی
- Ureters حالبونه
- Urinary bladder مثانه
- Urethra احلیل

هر قسم فاضله مواد ددی سیستم په ذریعه د بدن څخه خارجیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وظایف Function

■ د ټول بدن Metabolites مواد اطراح کوی لکه:

- Uria باید اطراح شی که اطراح نه شی نو د Urea mea سبب کیږی.
- Uric acid ادا باید د پښتورګو له لاری اطراح شی.
- Juxtra glomerular cells

ادا حجری د Renin په نوم هورمون جوړوی چی ادا هورمون د Blood pressure په کنټرول کی رول لری.

- Mesangial cell

ادا حجری هم یو خاص هورمون جوړوی چی هغی ته Erythropoietin وایی دغه هورمون په Bone marrow باندی د RBC په جوړیدو کی رول لری.

■ Acid base balance

د PH موازینه ساتی، نه یی اسیدی ته پریږدی او نه یی قلوی ته پریږدی یعنی نارمل یی ساتی.

■ Water and electrolyte balance

## Kidney

## پښتورګی

د لوبیا په شان شکل لری او په Right upper quadrant کی قرار لری.


### نسجی جوړښت یی:

- د بیرون څخه د یو کپسول په واسطه پوښل شوی دی کوم چی د Loos connective tissue څخه جوړ شوی دی. (Renal capsule)
- په داخلی سطحه کی یی یوه فرورفتګی د Hilus په نوم لیدل کیږی، کومه چی د Blood vessels د داخلیدو او خارجیدو ناحیه ده او Ureter هم ددی ناحیی څخه خارجیږی، د Ureter د اخلی قسمت د Renal pelvis په نوم یادیږی. چی ادا Pelvis په دوو عددو Major calyces او بیا وروسته په 8-12 عددو Minor calyces باندی ویشل کیږی. هر Minor calyce د پښتورګی د نسج مخروطی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شکله بارزه د Renal papilla په نوم یوښوی. چې په هریو Renal papilla کې د 10-25 پورې Collecting tubules خلاصیږي.





# Filtration Barrier

دا له درې شیانو څخه جوړه شوی ده:

- Capillary Endothelium
- Basal lamina
- Podocyte

ددې درې واړه د یوځای کیدو څخه یوه غشاء جوړیږي چې د Glomerular basement membrane په نوم یادیږي چې په هرو 5 دقیقو کې د بدن توله وینه دلته صفا کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# INTERSTITIAL CELLS

The connective tissue of the kidney parenchyma, called interstitial tissue, surrounds the nephrons, ducts, and blood and lymphatic vessels.

These cells are:

- Fibroblasts,
- Macrophages
- My fibroblasts

پښتورگی دوه برخی لری:

- Renal cortex

دا برخه نصواری رنګ لری او د Renal corpuscle په لرلو سره دانه داره یا Granular معلومیږی.

- Renal medulla

دا برخه د یوتعداد Medullary pyramids ساختمانونو څخه جوړه شوی ده، چی Base یی د پښتورګی Renal cortex ته متوجه او Apex یی د Renal papilla په جوړولو کی برخه اخلی.

د Medulla څخه یو تعداد Medullary rays د Cortex داخل ته ننوځی. هغه برخه چی د Medullary pyramids په فاصلو کی لیدل کیږی د Renal columns of Bertin په نوم یادیږی. هر Pyramid او د هغه مربوطه Cortex د پښتورګی یو Lobe جوړوی.

# Uriniferous tubules

دوه ډوله Uriniferous tubules وجود لری:

- Nephron

نفرون د 30-40mm پوری طول لری، نفرون د پښتورګی وظیفوی او ساختمانی واحد دی.

- Collecting tubules

چی ددی طول تر 20cm پوری رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Nephron

په یو پښتورگی یا گرده کی د نفرونونو شمیره تر یو میلیون پوری رسیږی. نفرون د مختلفو برخو څخه جوړشوی دی چی په لاندی ډول دی:

- Proximal convoluted Tubules
- Henle's loop
- Distal convoluted Tubules

## 1: Renal Corpuscle

یو تعداد کروی شکله ساختمانونه دی چی د لاندی برخو څخه جوړ شوی دی:

### Bowman's capsule

دا کپسول د Glomerulus د شبکی په شاوخوا کی قرار لری او د دوو صفحو څخه جوړه شوی ده:

- External or Parietal layer

دا طبقه د Simple squamous epithelium په واسطه پوښل شوی چی دا اپیتیل د Nephron د Tubes په شروع کی په لنډ Columnar epithelium اویا Cuboidal epithelium باندی بدلیږی.

- Internal or Visceral layer

دا طبقه د Podocytes حجراتو څخه جوړه ده.

### Glomerulus

د Blood capillaries یوه پیچیده شبکه ده.

(د Afferent arteriole یا وینه راوړنکی شریانچه او Efferent arteriole یا وینه وړونکی شریانچه په منځ کی د Capillaries مجموعی ته Glomerulus وایی)


د Capillaries یو گروپ ته Lobule of glomerular ویل کیږی کوم چی پر یوی Basal lamina باندی قرار لری. دا Basal lamina د Capillaries په فاصلو کی یوڅه ننوځی خو په مکمل ډول سره Capillary نه احاطه کوی بلکی دا فرورفتگی یوه فضاء رامنځته کوی چی په هغی کی یو تعداد حجرات د Mesangial cells په نوم وجود لری کوم چی د Phagocytosis دنده په غاړه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Bowman's space

د Bowman's capsule د Parietal او Visceral layer ترمنځ یوه فاصله لیدل کیږی چی د Bowman's space په نوم یادیږی.




(c) ketabton.com: The Digital Library



1 → **Glomerular filtration:** Water and solutes smaller than proteins are forced through the capillary walls and pores of the glomerular capsule into the renal tubule.

2 → **Tubular reabsorption:** Water, glucose, amino acids, and needed ions are transported out of the filtrate into the tubule cells and then enter the capillary blood.

3 → **Tubular secretion:** $H^+$, $K^+$, creatinine, and drugs are removed from the peritubular blood and secreted by the tubule cells into the filtrate.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## The parts of the nephron are indicated by number

*1,* renal corpuscle including the glomerulus and Bowman's capsule.

*2,* proximal convoluted tubule.

*3,* proximal straight tubule.

*4,* descending thin limb.


*5,* ascending thin limb.

*6,* thick ascending limb (distal straight tubule)

*7,* macula densa located in the final portion of the thick ascending limb
*8,* distal convoluted tubule.

*9,* connecting tubule.
*9*,* collecting tubule that forms an arch (arched collecting tubule)
*10,* cortical collecting duct.

*11,* outer medullary collecting duct.
*12,* inner medullary collecting duct.




(c) ketabton.com: The Digital Library



## Schematic diagram of the renal blood supply

**Approximately 90% to 95% of the blood passing through the kidney is in the cortex; 5% to 10% is in the medulla.**




## Juxta glomerular complex

دا **Complex** له دریو حجراتو څخه جوړ شوی دی:

- **Juxta glomerular cells**

دا حجرات **Glomerular** ته نژدی د **Afferent arteriole** په متوسطه طبقه کی موجود دی، چی د **Epithelioid Smooth muscle** خاصیت لری یعنی د حجراتو هسته مدوره او په سایتوپلازم کی یو تعداد دانی لری. دا حجرات د **Renin** په جوړیدو کی رول لری. همدارنګه د **Blood Pressure regulation** کی هم رول لری.

- **Macula densa cells**

**Distal convoluted tubules** په خپل شروع کی د **Afferent** او **Efferent arteriole** ترمنځ دا حجرات قرار لری، چی کیدای شی د **Erythropoietin** هورمون افراز کړی.

دی حجراتو ته **Extra glomerular cells** هم ویل کیږی.

- **Mesangial cells**

دی ته **Extra glomerular mesangial cells** هم ویل کیږی چی د **Regeneration**، **Supporting** او **Phagocytosis** دندی په غاړه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: Proximal convoluted Tubules

دا تیوب چې 14mm طول لري، د Renal corpuscle د Urinary pole څخه شروع او تر Henle's loop پورې امتداد لري.

- په شروع کې یې اپیتیل Simple squamous epithelium دی بیا وروسته په Columnar epithelium باندې بدلیږي.

- ددې حجراتو په ازاده سطحه کې Microvilli لیدل کیږي چې د Brush border په شکل ظاهریږي.

ددې تیوبونو په واسطه NaCl، ګلوکوز، Amino acid، Protein او Vitamin c دوباره جذبیږي.

## 3: Henle's Loop

دا قوس مانند تیوبولونه د Proximal او Distal convoluted Tubules په منځ کې قرار لري. چې دوه برخې لري، چې د Descending part Loop of Henle او Ascending part loop of Henle څخه عبارت دی کوم چې د Simple squamous epithelium په واسطه پوښل شوی دی.

## Proximal Straight Tubule

The cells of the proximal straight tubule (i.e., the thick descending limb of the loop of Henle)

thin descending limb
thin ascending limb

Thin Segment of Loop of Henle
The thin descending and ascending limbs of the loop of Henle differ in structural and functional properties.

- Type I epithelium,
- Type II epithelium,
- Type III epithelium,
- Type IV epithelium,


(c) ketabton.com: The Digital Library



Distal Straight Tubule

The distal straight tubule is a part of the ascending limb of the loop of Henle.

distal straight tubule (thick ascending limb of the loop of Henle)





# 4: Distal Convoluted Tubules

دا د Loop of Henle او Collecting duct ترمنځ قرار لری، د Cuboidal epithelium په واسطه پوښل شوی چی یوتعداد محدود Microvilli یی د حجراتو په ازاده سطحه کی لیدل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Sites of filtration, reabsorption, and secretion in a nephron




## Collecting Tubules

دا **Tubules** د **Distal convoluted tubules** څخه جوړ شوی دی چی ادرار اخلی او د **Papillary ducts of Bellini** په واسطه یی په **Renal papilla** کی تخلیه کوی. دا **Tubules** د **Cuboidal epithelium** په واسطه پوښل شوی دی.

## Excretory Portion of Urinary system

### Pelvis and Ureter :1

د **ureter** پورتنی او متوسع برخه د **Pelvis** په نوم یادیږی چی د پښتورګی په **Hilus** کی قرار لری، په **Major** او **Minor calyces** باندی ویشل شوی دی. د دوو یا دری طبقه یی حجراتو څخه جوړ شوی دی.

**Ureter** حالب د **25cm** پوری طول لری چی د **Pelvis** څخه شروع تر مثانی پوری رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسجی ساختمان یی په لاندی ډول دی:

- Tunica mucosa
  - Epithelium

د Transitional epithelium څخه جوړه ده چی د 4-5 طبقو حجراتو په واسطه پوښل شوی ده.

- Lamina Propria

دا د Dense connective tissue څخه جوړه شوی چی پکی Lymph elements موجود دی.

- No Muscularis mucosa

- Tunica submucosa

د Loss connective tissue څخه جوړه شوی ده.

- Tunica Muscularis

د Smooth muscle له جملی څخه دی، ددی طبقی عضلات په داخل کی Longitudinal طولانی او په خارج کی Circular حلقوی الیاف لری.

- Tunica adventitia


په دی طبقه کی Fibroelastic connective tissue وجود لری.

د Pelvis او د Ureter قدامی یا Anterior سطحه د Peritoneum په واسطه پوښل شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Photomicrograph of transitional epithelium (urothelium)



## Urinary Bladder :2

نسجی ساختمان یی په لاندی ډول دی:

- Tunica Mucosa

لاندی برخو څخه تشکیل شوی ده:

- Epithelium

د یو Transitional epithelium په واسطه پوښل شوی ده چی ضخامت یی نظر Ureter ته زیات دی یعنی د 6-8 طبقو حجراتو څخه جوړه شوی ده.

- Lamina Propria

تر اپیتیل لاندی قرار لری، چی د Connective tissue څخه جوړه شوی ده او په کی یوتعداد Mucus glands لیدل کیږی.

- No Muscularis mucosa

- Tunica Sub mucosa

د یو Loos connective tissue څخه جوړه شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Tunica Muscularis

د دریو عضلی طبقو څخه جوړه شوی ده، چی Internal او External طبقی یی Longitudinal یا طولانی الیاف لری او Medial طبقه یی Circular یا حلقوی الیاف لری.

د Medial طبقی الیاف د urethra او ureter د مجراو په شاوخوا کی د Sphincters ساختمانونه جوړوی.


## Tunica adventitia


د یو Fibroelastic connective tissue څخه جوړه ده.

د مثانی پواځی Superior border د Peritoneum په واسطه پوښل شوی دی.

## Basic structure of the female urinary bladder and urethra

**The triangular region defined by these three openings, the trigone, is relatively smooth and constant in thickness, whereas the rest of the bladder wall is thick and folded when the bladder is empty and thin and smooth when the bladder is distended.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## Urethra :3

احلیلونه په نارینه او ښځینه کی فرق کوی:

### Male urethra

د 15-20cm پوری طول لری او د دریو برخو څخه جوړه شوی ده:

- Prostatic urethra

د 3-4cm پوری طول لری، په دی Urethra کی دوه Ejaculatory ducts او Prostatic glands تخلیه کیږی.

د Transitional epithelium په واسطه پوښل شوی ده.

تر اپیتیل لاندی Lamina Propria طبقه وجود لری کومه چی د Loos connective tissue څخه جوړه شوی او په کی Fibroelastic الیاف او یو تعداد Littre's glands شامل دی.

- Membranous urethra

دا 1cm طول لری، چی د Apex of Prostate څخه د Bulb of Corpus cavernosum پوری امتداد لری. دا طبقه د Stratified or pseudostratified columnar epithelium په واسطه پوښل شوی ده.

- Spongy or Penil urethra

دا برخه 15cm طول لری، ددی برخی نهایی برخه لږه متوسع ده چی د Fossa navicularis په نوم یادیږی او د یو Stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی، حال داچی باقی برخی اپیتیل یی Pseudostratified columnar epithelium او یا Stratified squamous epithelium په واسطه پوښل شوی دی.

### Female Urethra


دا نظر د نارینه Urethra ته لنده او طول یی 4cm رسیږی، چی په شروع کی د Transitional epithelium، په منځنی برخه کی د Stratified columnar او Pseudostratified columnar epithelium په واسطه او په اخری برخه کی د Stratified squamous epithelium په واسطه په شمول د Skin پوښل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Lamina Propria طبقه یی د Loos connective tissue څخه جوړه شوی چې په هغې کې یو تعداد Mucus glands لیدل کیږی.

Tunica Muscularis دا یی د Smooth muscle د دوو طبقو څخه جوړه شوی ده.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم فصل

## Endocrine system اندوکراین سیستم

### Endocrine System

### اندوکراین سیستم



(c) ketabton.com: The Digital Library




## Hormonal Control Mechanisms

### Three Basic Types of Control Mechanisms.

a. Endocrine Control: The Hormone Is Discharged from A Cell into The Blood Stream and Is Transported to The Effector Cells.

b. Paracrine Control: The Hormone Is Secreted from One Cell and Acts On Adjacent Cells That Express Specific Receptors.

c. Autocrine Control: The Hormone Responds to The Receptors Located On the Cell That Produces It.




دغه سیستم د یو تعداد غداواتو مجموعه ده چې افرازات د وینې دوران ته اچوی.

## Hypophysis or Pituitary Gland

نخامیه غده: د ټول اندوکراینی غدو د کنټرول مسولیت په غاړه لری، چې 0,5gr وزن لری. په داخل کی د یو کپسول په واسطه پوښل شوی او یو تعداد Massive cells هم پکی موجود دی چې ددی حجراتو په منځ کی کرښی یا Lines لیدل کیږی په دغی کرښو کی Capillaries موجود دی. دا غده د Sphenoid هډوکی په یوه خالیګاه کی چې Sella Turcica نومیږی قرار لری. دا غده د شکل له نظره له دری برخو څخه جوړه شوی ده:

- Adenohypophysis (Anterior lobe)

ددی برخی قدامی قسمت د Pars distalis په نوم یادیږی چې د Pars tuberalis په واسطه د Hypophysis د ساقی په شاوخوا کی دوام پیدا کوی.دا برخه د غدی 75% برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوی، چې د یو Fibrous capsule په واسطه احاطه شوی دی، او د غدی Parenchyma یی د دحجراتو د Masses او د حجراتو د Columns څخه جوړه شوی ده، ددی حجراتو په منځ کی Capillary sinusoids قرار لری. دا حجرات په دوو گروپونو ویشل شوی دی:

- Chromophil cells

د Pars distalis حجراتو 50% برخه جوړوی، دا حجرات د سایتوپلازم د Granules د رنګ په اساس په دوه ډوله ویشل شوی دی:

a: Acidophil cells

دا حجرات په اسانی سره اسیدی رنګ اخلی، او 35% برخه د حجراتو جوړوی. دا حجرات هم په دوه ډوله دی:

I : Somatotroph cells

دا حجرات یو هورمون جوړوی چې هغی ته Somatotropin یا Growth هورمون وایی. کوم چې د هډوکو د Epiphaye د برخی د نشو نماء سبب ګرځی.

II: Mamotroph cells

ددی حجراتو تعداد د حاملګی په وخت کی او د هغی څخه وروسته زیاتیږی دا حجرات هم یو هورمون جوړوی چې هغی ته Prolactin هورمون وایی کوم چې د شیدو په جوړیدو کی برخه اخلی.

b: Basophil cells

د حجراتو 15% برخه جوړوی، دغه حجرات په تایراید هورمون باندی تاثیر لری او د T3 او T4 هورمونونه جوړوی. دا حجرات په دری ډوله دی:

I: Gonadotroph cells

کوم چې د FSH او LH هورمونونه افرازوی.

II: Thyrotroph cells

کوم چې د TSH هورمون د افراز سبب ګرځی.

III: Corticotroph cells

دا حجرات د ACTH یا Adreno cortico trophic hormone افرازوی.


(c) ketabton.com: The Digital Library



- Chromophob cells

ددی حجراتو جسامت نظر کروموفیل حجراتو ته کم دی، او په سایتوپلازم کی یی دانی لیدل کیږی.

د Pars distalis د حجراتو 50% برخه جوړوی.




## Pars Distalis

1) Connective Tissue Stroma Stained *Blue*.

2) The Sinusoidal Capillaries Contain rbc Stained *Yellow*.


3) The Acidophils (*Ac*) Are Stained *Cherry Red*.

4) The Basophils (*Bas*) Stain *Blue*.

5) The Chromophobes (*Ch*) Unstained.

(c) ketabton.com: The Digital Library






■ Middle lobe

دا د Melanocyte stimulating hormone جوړوی کوم چې په پوستکی تاثیر لری.

دا تول هورمونونه په Pars tubularis کی ذخیره کیږی.

Pars Intermedia

دا برخه د غدی 20% برخه جوړوی او اکثره وخت کی د MSH هورمون افرازوی.

Pars tubularis

دا د یو تعداد Basophilic columnar cells څخه جوړ شوی ده، ددی برخی وظیفه هم معلومه نه ده.

■ Neurohypophysis (Posterior lobe)


دا برخه د یو اساسی قسمت یا Pars Nervosa چې د Pars intermedia په خلف کی قرار لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددی برخی حجرات د **Pituicytes** په نوم یادیږی، چی د نیورون د **Neuroglia** سره شباهت لری. په دی برخه کی یو تعداد دانی چی د **Herring bodies** په نوم یادیږی لیدل کیږی.

په دی کی د **Nervotic cells** په نوم حجرات موجود دی کوم چی لاندی هورمونونه افرازوی:

- دا حجرات یو هورمون جوړوی چی هغی ته **Oxytocin** وایی، دا هورمون د حاملگی په وخت کی د رحم تقلصات زیاتوی یا د رحم د پراخوالی سبب گرځی.
- بل یو هورمون چی د **ADH** یا **Anti diuretic hormone** ورته وایی، افرازوی. دا هورمون د پښتورگو په تیوبولونو تاثیر لری.





## Pancreatic نسج

(a) د معدې او وړو کلمو په گاونډ کې د پانکراس موقعیت.

(b) په عکس کې اکزوکرین او اندوکرین ناحیې لیدل کیږي.


(c) د پانکراس د جزیرو دیاگرام (الفا او بیتا حجرې)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د adrenal غدې Microscopic منظره

د ادرینال د قشر درې منطقې او medulla یوه برخه




(c) ketabton.com: The Digital Library




## Diagram of the blood supply to the pituitary gland

**The hypophyseal portal veins begin in the capillary beds of the median eminence and infundibulum and end in the capillaries of the pars distalis.**




# Development of the pituitary gland

**This diagram shows sequential stages (a to c) in the development of the pituitary gland.**




(c) ketabton.com: The Digital Library



# Thyroid Gland

د اندوکراین سیستم له مهمو غداواتو څخه شمیرل کیږی چی د مری په قدامی برخه کی قرار لری.




(a) Gross anatomy of the thyroid gland, anterior view

- Stromal layer

د بیرون څخه د یو کپسول په واسطه پوښل شوی ده کوم چی د Dense connective tissue څخه جوړ شوی دی او غدی ته یی استناد ورکړی دی. دغه کپسول یا Septa ته ننوځی او غده په Lobe او بیا په Lobule ویشی. دغه Lobe یی د Isthmus په واسطه سره وصل دی.

- Functional or Parenchymal layer

د یو Lobe په داخل کی خاص حجرات موجود دی، کوم چی یو Circular ساختمانونه جوړوی، ددوی په منځ کی هم په ډیر شمیر سره Capillary دی، دی هری حجری ته Follicular cells وایی.

ډیر Follicular cells سره یو ځای کیږی او د دوی په منځ کی خالیګاه پیدا کوی چی هغی ته Colloid space وایی.

Follicular cells د هستی او سایتوپلازم درلودونکی دی، یو تعداد یه Columnar cells وی او په ځینو ځایونو کی به Cuboidal cells وی.

د Columnar cells په سایتوپلازم کی Microvilli موجودی دی. ددی Microvilli په غاړو کی یو تعداد Granules موجود دی کوم چی د Thyroglobulin په نوم پروتین

